شهامت

دسکاټ میلر وروستي ګوابنونه!

د دوحې له توافقنامې څخه د امریکا د سرغړونې په معنی دی!

ديارلسم کال، شپږمه، پرلپسې ۸۰مه ګڼه، شعبان - رمضان ۱۴۴۱هـ ق، اپریل ۲۰۲۰م

د رژیم په محبسونو کې

د بندیانو زړه بورنوونکی وضعیت

بندیان څوک نه ازادوي؟

رمضان

د جهاد او نصرتونو میاشت!

د مرحوم امیرالمؤمنین
ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله
د اووم تلین په اړه ځانګړې مقالې:

- راځه چې سره ووایو! د افغانانو محسن څوک دی؟!!
- د ملا محمد عمر (مجاهد) دوه اعجازي اقدامات
- آن بزرگمرد فراموش نشدنی...
- ملا صاحب، د حریت مجسم پیکر
- د مرحوم أمیر المؤمنین په اړه څو اوریدلې او لیدلې...!!
- دملا صاحب مبارزې څه راوښوول؟!

د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمدعمرمجاهد رحمه الله احسان!

در سرزمین مجاهدان و فاتحان

دافغانستان روانه معضله حل د کابل ادارې له واک پورته ده!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

ديارلسم کال، شپږمه، پرلپسې ۸۰مه ګڼه، شعبان-رمضان ۱۴۴۱هق، اپرېل ۲۰۲۰م

لــــړليـــك

ګڼه	عــــنــوان	مخ
۱	سرليکنه..	۱
۲	د مرحوم امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله احسان!..........	۳
۳	راځه چې سره ووايو د افغانانو محسن څوک دی!!................................	۷
٤	د ملا محمد عمر مجاهد ېوه اعجازي اقدامات!...	۹
٥	ملا صاحب د حريت مجسم پيکر..	۱۱
٦	د مرحوم اميرالمؤمنين رحمه الله په اړه څو اورېدلي او ليدلي !!..............	۱۴
۷	آن بزرګ فراموش نشدنی..	۱۷
۸	د ملاصاحب مبارزې څه راوښوول؟!...	۱۹
۹	يو اوسپنيز سړی!...	۲۰
۱۰	د مرحوم امير المؤمنين د اووم تلين په وياړ!...	۲۱
۱۱	ملا محمد يونس اخندزاده سره ځانګړې مرکه	۲۴
۱۲	د افغانستان روانه معضله حل د کابل اداري له واکه پورته ده	۲۸
۱۳	د رژيم په محبسونو کې د بنديانو زړه بوږنوونکې وضعيت !...................	۲۹
۱٤	بنديان څوک نه آزادوي؟...	۳۰
۱٥	له کابل حکومته د تېښتو لړۍ زور موندلی!!..	۳۳
۱٥	رمضان د جهاد او نصرتونو مياشت !...	۳۴
۱٦	ګلورينې پاڼې	۳۸
۱۷	کابل اداره روژه او کرونا د ځان لپاره سپر ګرځوي !...............................	۴۰
۱۸	کابل ولې خوندي نه دی؟	۴۲
۱۹	د فکري جګړې اصول ، اهميت او ضرورت!...	۴۳
۲۰	د شهيد ابو يوسف ملا ادريس ژوند او کارنامو ته کتنه.........................	۴۵
۲۱	در سرزمين مجاهدان وفاتحان...	۴۸
۲۲	د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه د اسلامي حکومت مسئوليتونه......	۵۰
۲۳	روژه او صحت..	۵۳
۲۴	يوه فکر انګېزه ليکنه ! اې مسلمانانو ! اې غلامانو!..............................	۵٦
۲٥	دبرق پايې څوک نړوي؟ د تېلو مافيا څوک دي؟	۵۸
۲٦	د امريکا شيطاني لوبې او دترکې مدبرانه اقدامات...............................	۵۹
۲۷	ځان او جهان د صبر په هنداره کې	٦۲
۲۸	غامديت د اوسني عصر لويه فتنه..	٦٦
۲۹	پاکستان کې له مهاجرينو سره د مرستې راپور....................................	٦۸
۳۰	د تراويحو ګڼ مسائل	۷۱
۳۱	د ثور د اوومې او اتمې په هکله د اسلامي امارت اعلاميه........................	۷۲

دامتيازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير :

ابو ظهير

کتــنـپــلاوی :

لطيف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحيد''
نعيم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبيب

بـيـــــه :

يوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

تخنيکي څانګه

يـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان برېښناليک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

دسکاټ مېلر وروستي ګوابنونه!

د دوحې له توافقنامې څخه د امریکا د سرغړونې په معنی دی!

وروسته له هغه چې دګوډاګي رژیم مشرااشرف غني داوربندغوښتنه وکړه،دناټو په مرکز برسلزکې دزلمي خلیل زاد لخوا هم یاده غوښتنه تکرارشوه،اوبیا د څو نورو جهتونو او سازمانونو له لوري هم دا غږ وشو چې اسلامي امارت دې اوربندیا اورکم وکړي.

ددې په ځواب کې دافغانستان اسلامي امارت ویندوی ښاغلي ذبیح الله مجاهد وویل:دسولې اوجګړې پای ته رسولو لپاره اسلامي امارت خپل مسؤلیت اداء کړی دی اوله امریکا سره یې دسولې توافقنامه ددې لپاره لاسلیک کړه څودنولس کلنې جګړې دپای ته رسولو لپاره سولییزحل راووځي،دنوموړي په وینا:دامریکا اوامارت ترمنځ په لاسلیک شوې توافقنامه کې چې دامنیت شوری اونړیوالې ټولنې لخوا هم تائید شوې په صراحت راغلي چې د لاسلیک وروسته به په لسو ورځوکې له دواړو غاړو٦زره تنه بندیان ازادیږي،څو دبین الافغاني مذاکراتو پیل ته زمینه مساعده شي،دښاغلي مجاهد په قول:که په ټاکلي وخت بندیان خلاص شوي وی او بین الافغاني خبرې په وخت پیل شوې وی نو دسولې په برخه کې به دزیات پرمختګ شاهدان وو،خو دکابل ادارې ګټې چې دجګړې په دوام کې دي له لومړۍ ورځې نه دتوافقنامې دتطبیق په لار کې خنډونه واچول اودبندیانوخلاصون یې په مختلفوبهانووځنډاوه،په ورته توګه امریکا اونورو هم دتوافقنامې په عملي کولوکې خپل مسؤلیت اداء نکړ،اوبرعکس د ناټولخوا دکابل رژیم سره دجګړې د دوام او شدت لپاره ملیونونه ډالرمرسته وشوه،چې داپخپله یو لوی پارونکی ګام دی،نوپه داسې حال کې چې مقابل لوری خپل مسؤلیت نه اداء کوي داسلامي امارت څخه بیا، بیا داوربندیا اورکم غوښتنه غیرمنطقي اوفرصت طلبې ده

له دې وروسته په افغانستان کې دامریکا اوناټوپوځي قومندان جنرال سکاټ مېلر له رسنیو سره په خبرو کې اسلامي امارت ته په اخطاریه لهجه وویل:که له تاوتریخوالي لاس وانخلي نودسخت ځواب په تمه دې شي!

راځو دیته چې یولورته امریکا اونورجهتونه په مکرر ډول داوربندیا اورکم غوښتنه کوي خوبل لورته سکاټ میلر بیادګواښونواو اخطارونو په سپکه ژبه خبرې کوي حال داچې تراوسه امریکایانو نه یواځي ددوحې په توافقنامه عمل ندی کړی بلکې ترې څو ځله یې دتخلف ارتکاب هم کړی دی

دسیاسي چارو کتونکو په ویناهم که امریکائي جهت دلاسلیک شوې توافقنامې په اړه خپل مسؤلیتونه په سمه توګه سرته رسولي وی نن به داوربندیا اورکم غوښتنې ته اړتیا نه پیداکېده،بلکې په بین الافغاني مذاکراتوکې به شریکوافغانانو پخپله ددې لپاره یومعقول حل لټولی و

خو د ډارن او ورخطاء جنرال مېلر بزدلانه لاپې شاپې اواحمقانه ګواښونه ښیي چې امریکا په توافقنامه کې له کړوژمنو څخه دتیښتې اوسرغړونې لپاره بهانې لټوي،دبیطرفه مبصرینو په اند:دمېلر تازه نامسؤلانه ګواښونه چې دجګړې په بل اور دتیلوپاشلومعنی لري په سبب یې جګړه کې دشدت رامنځته کېدو اندیښنې شتون لري

دلته له موقع نه په استفاده غواړو سکاټ مېلرته ووایوچې ښه فکر وکړئ! تاسو دلته دبمونو دمورڅخه نیولې تر پرمختللو وسلو اوجنګې تجربوتېولې وکارولې بیا هم تاسوبری ترلاسه نکړی شو،نړیوال او افغانان نه پوهیږي چې هغه کومې پرمختللې وسلې اوجنګي تجربې دي چې تراوسه تاسو دهغو له کارولوډه کړې؟ تاسو داوونیوپه حساب دلته زرګونه بمونه استعمال کړل،خوطالبان اومجاهدین ختم نشول،دطالب اومجاهد ځپلوپه پلمه مو بېدریغه ولسي قتل عام اوټولوژنې وکړې،لیکن دپام وړکامیابې مو په نصیب نشوه،هو! که دبمونوله مورڅخه نور غټ او درانه بمونه هم وکاروئ،دورځو او شپوپرځای دساعتونوپه حساب زرګونه درانه بمونه استعمال کړئ بیا به هم ستاسو د بري ارمان ترسره نشي ستا(مېلر) نه وړاندې څو نوروجنرلانوهم دورته ګواښونو اواخطارونوپه لهجه ډیرې غرې پرې وکړې خو افغان ولس له هغوی نه مرعوب نشو، تاسوته دې معلومه وې چې افغانان له دغسې بزدلانه او احمقانه ګواښونو سره روږدي شوي دي،دزیاتې اعتناء وړ یې نه بولي،ستانه وړاندې جنرال میکرسټل اوجنرال پیټراییس هم ددغسې وحشیانه عزایمو او ارمانونوپه بدرګه راغلي ووخو اخر هغوی ناکام او تېټ سرونه لاړل اودجګړې ګټلو په ارمانو یې خاورې امبارشوې نو تاسو! هم باور ولرئ!چې په ګواښونو او اخطارونو کولو سره جګړه نه ګټل کېږي اونه به په دې سره خپلو مورال بایللو ګوډاګیانوته روحیه اومورال ورکړئ، ښه داده چې د دوحې توافقنامې ته ژمن پاته شئ او له هغې سره سم په ټاکلي موده کې خپل ځواکونه له افغانستانه وباسئ...

دمرحوم امیر المؤمنین

ملا محمدعمرمجاهد رحمه الله احسان!

همدرد

د۱۳۹۲ ل کال دثور۴مه نیته د مرحوم امیر المؤمنین (ملامحمدعمر مجاهدرحمه الله) دوفات نیټه ده او سږ (۱۳۹۹ل) یې اووم تلین لمانځل کېږي.

چې په لړکې یې رسنیوکې دمجاهدولیکوالو اوقلموالو لخوا دمرحوم په ژوند، ملي او دیني خدمتونو اومجاهدانه کردارېښې ارزښتمنې معلوماتي لیکنې، مقالې او مضامین ولیکل شول

دشک پرته ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله په خوراترینګلوحالاتواوخورونکوشرایطوکې هیوادکې دخواره پراخ فساد اود هرومرج پرضد پاڅون وکړ، اوافغان ولس ته یې دقطاع طریقو، غلو اوډاکوانوله راج او دهغوی دانارشیزم څخه نجات ورکړ.

کله چې دنجیب په مشری کمونستي رژیم نسکور شو، اومجاهدین په فاتحانه شکل کابل ته ننوتل، دهرمومن افغان په زړه کې دا ارزوګانې پاهېلې په څپو وې، چې اسلامي نظام به کله اوڅنګه راځي؟ دویم افغانستان کې به دسولې په فضاکې دترقی اوپرمختګ چارې کله پیلږي؟ متأسفانه چې دغه هېلې نه یواځې داچې نهېلې اونیمه خواپاتې شوې بلکې قتل شوې، دمجاهدینوپه نامه دقدرت لیونیانو پر ولس هغه نادودې اوناخوالې وکړې چې وړاندې نه چا هغه لیدلې وې اونه یې اوریدلې وې

دهیوادپه ولایتونو، ولسوالیو اوکلیوکې ځای پر ځای خپلسري واکمن پیداشول، هغوی دملت وینې ښدریغه زبېښلې، پاټکسالارې او اناشیزم اوج تهر سیدلی و، چې دشراوبدوڅخه یې هیڅ انسان ځان نه پخپل کورکې خوندي ګاڼه اونه یې په لار اوبازارکې خپل ناموس اوپت محفوظ ګڼلی شو، دهغوی دناروواکړنوپه وړاندې غږپورته کول دمرګ مترادف عمل و، په رڼا ورځ به دلویو لاروپه سردخلکوتورسرې بې پته کېدې، مجال وچې چا دي دمخالفت غږپورته کړی وی، بې ډیرو اولغړزنو هلکانو نشوی کولی له کوروڅخه ووزي، ملي سوداګراو دهغوی مالونه خوندي نه وو، دهرپاټک دقومندان لخوا د هغوی نه دګمرک یا حق العبور په نوم په زوره پیسې اخیستل کیدې او دنه ورکولو په صورت کې وهل کیدل بې آب اوبې ابروکیدل.

ملامحمدعمرمجاهد چې پورته حالت لیده، نوزړه یې زوریده، اوډیرفریشان اولالهاندو بالاخرد۱۳۷۳ ل کال زمري میاشت کې یې دکندهارمیوندولسوالی دسنګ حصار سیمه کې دپاټکیانو اونورو زورواکو پرضد دخپلو لسګونه

طالبانوملگروپه ملتیاکې په داسې حال کې پاځون وکړ، چې ایله پنځه تنه ملګري یې مسلح وو. دمیوند ولسوالۍ مرکزکشک نخودته څېرمه یې په یو پخواني ښوونځي کې خپل لومړنی مرکز جوړکړ، اوبیا دکندهار- هرات له لویې لارې څخه یې دپاټکونو، اوپاټکیانودشړلو په کارلاس پورې کړ، چې دشاوخوا دوه میاشتنو په موده کې یې دمیوند، ډنډ اوشاوخوا نورو ولسوالیوله ځینوسیموڅخه ټوپکیان وشړل اولویه لارېې دهغوی له بدمرغیو اوبد اخلاقیو څخه پاکه کړه اوهم یې لویه لار دخلکوپه وړاندې پرانیسته، بیا دهمدې کال دمیزان په ۱۷مه نیټه دکندهار دسرحدي ولسوالۍ بولدک په خوایې تشیکلات وکړل، چې دبولدک دتصفیې اونیولو وروسته دڅو ورځې دمې وروسته دکندهار په لور یې حرکت وکړ په لومړي قدم کې یې دکندهارهوایي ډګر ترخپلې سلطې لاندې راوست اوبیا دهغه وروسته یې دکندهارښار مرکز ونیو اوهم یې دکندهار ولایت ټولې ولسوالۍ تصفیه اودخپلسرو وسلوالوله شتون څخه پاکې کړې

دکندهار ښار اوولسوالیو په تصفیه کولو سره په لومړي ځل دغه تاریخي ښاردتنظمي جګړو، فسادونو اوګډوډیو څخه د نجات ساه واخیسته، دکندهارخلکو دامنیت اوارامۍ په فضاکې دژوند فرصت ومونډ، دکندهار نیولو خبرپه کورنیواونړیوالورسنیوکې خپورشو دهیوادپه لروبرکې خلک خبرشول، دیني مدرسې رخصت شوې ډلې، ډلې طالبان دکندهار په خواکوچیدل، دکندهارله ګاونډیو ولایتونوڅخه دعلماوو، مخورو، جهادي قومندانانوپلاوي ورغلل، هغوی طالبانوته بلنې ورکړې څو د دوی ولایتونوته هم ورشي، هغه وچې دکندهار وروسته طالبان داروزګان، هلمند اوزابل په لورهم روان شول اوپرته دلویو اوقوي مقاومتونویې یاد ولایتونه سره دولسوالیو ونیول اوټولې سیمې یې دټوپکیانواوپاټکسالارانو دشرڅخه وژغورلې، دیادو ولایتونو دتصفیه کولو وروسته طالبانوخپل تشکیلات ترفراه، نیمروز اوپه بل استقامت دپکتیا، پکتیکا اوخوست ولایتونوپورې وغځول اودخایي ولس اوجهادي قومندانانوسره دتفاهم کولو وروسته درې وروستي ولایتونه پرته دکوم جنګ نه دطالبانولاس ته ورغلل، دطالبانو کاروان دلته تم نشو، دغزني دتصفیه کولو وروسته یې په میدان وردګ اولوګرهم بریدونوته چمتوالی ونیو، چې دکم مقاومت پرته دواړه ولایتونه دطالبانو لخوا تصفیه اوونیول شول، دحزب اسلامي مهم ستراتیژک مرکزچهاراسیاب هم دطالبانولاس ته ولوید، حکمتیار خپله کډه له چهار اسیاب نه سروبي ته بارکړه اوهلته دمشهوربدنامِ زمانه پاټکي زرداد ترسیوري لاندې میشت شو.

په ۱۳۷۵ ل کې دافغانستان له نیمایي زیاته جغرافیه دطالبانو لاس ته لویدلې وه اوهم دهیواد ختیځ زون دنیولو وروسته دهیواد پلازمینه (کابل) هم دطالبانولخوا فتح شو، په دې سره دهیواد دجغرافیې اکثریت برخه دطالبانو ترسلطې لاندې راغله چې پکې یې دبشپړامنیت او ثبات ټینګولو ترڅنګ اسلامي شریعت هم پلي کړ، دیادونې وړده چې دکابل دفتح څخه وړاندې په ۱۳۷۵ ل کال کې دهیواد په مشهور تاریخي ښار کندهارکې دیونیم زرجیدوعلماوو لخواملامحمدعمر مجاهدته دامیر المؤمنین لقب ورکړل شو اوهم یې دنوموړي په مشرۍ داسلامي خوځښت داسلامي داعیې، پروګرامونو او اهدافوڅخه په ټینګه خپل ملاتړ اعلان کړ

دلته بایدعرض کړم کابل کې دکمونست رژیم دړنګیدو وروسته چې کله دځیني تنظیمونوترمنځ دقدرت په سرجنګونه زیات شول اوپه سبب یې هیوادکې دلویې بدامنۍ رامنځته کیدو سربیره دجهادپه ارمانونو خاورې امبارشوې، پاټکسالاري اوج ته ورسیده، دغه مهال په دیني مدرسوکې په سبقونوبوخت طالبان دهیواد له حالاتو بې پروا نه وو هغوی په هیوادکې

روان وضعیت خورول، په دې وجه هغوی دهیواد ناسمو حالاتو اوشرایطوله یوډول روحي اضطراب اوتـا ارامـی لـه احسـاس سره مخ کړي وو، ديني مدرسوکې طالبانو دخبرونو اوریدو اسانتیاوو نه لرلـو بـاوجود دافغانسـتان پـه اړه خبرونـه تعقیبـول، اوهرسهاریه یې دخپلو درسونوپه منځنیو وقفوکې له خپلوملګرو سره ورباندې تبصرې او بحثونه کـول، هرطالـب دخـان دننـه دحالاتو سمولوپه باب یو ډول مسؤلیت احساساوه، نوهغه وچې کله له کندهاره دپاڅون غږپورته شو، ددیني مدرسو طالبـانود کوم ځنډپرته ځانونه هلته ورسول او ورسره مله شول، هغه مهال له مدرسونه د ډلواو قافلوپه شکل کې طالبان دکندهارپه لور تلل، چې په دې قافلوکې دافغانستان دهرځای اوهرولایت طالبان مله وو، په هرتوکم او هرنژاد پورې مربـوط طالبـان وو، تولـو داعلاءِکلمة الله دمقدس شعار لاندې خپل کتابونه قت کول، درسـونه یـې رخصـتول اوتلـل دملامحمدعمرمجاهـدلخوا دپیـل شوي تحریک په لیکوکې شاملیدل، چې داکار دافغاني طالبانو د هغه مهال ذهني اوفکري تربیـې سـویه ښـیي، چـې هغـوی دغسې یوپاڅون ته له وړاندې څخه تیار او آماده وو، اوګران هیوادته دپاټکسالارۍ او انارشیزم څخه نجات ورکول یې خپـل شرعي اوملي مسؤلیت ګڼه

د ديني مدرسونه داکثریت طالبانو د ورماتیدووروسته، دملامحمدعمرمجاهدمحلي یا سیمېزپاڅون یا خوځښت دیوافغان شموله غورځنګ بڼه غوره کړه، او دیوې محدودې سیمې لپاره پیل شوی خوځښت آن ټول هیوادتـه خورشـو، اوورکـې دټـول هیواد طالبان اومجاهدین راټول شول

حاصل داچې ملامحمدعمر مجاهدرحمه الله په لنډ وخت کې په خورا کامیابۍ اوبري سره له یوې کوچنۍ سیمې نه پیل کړی تحریک د یومهم بین الافغاني تحریک مقام ته ورساوه، اوله ځان سره یې دمختلفوتوکمونو اوقومونـو مختلـف الطبـایع طالبان یوځای کړل، او هغوی ټول یې پخپل قیادت کې منظم هم کړل، اوهم یې ورته یوشریک هـدف اومـرام پـه لاس ورکـړ، دهیواد په سلوکې ۹۸سلنه خاوره یې ترخپلې سلطې لاندې راوسته، پکې یـې دخپـل وس سره برابـر شریعـت نافـذکړ، امنیـت اوثبات یې قایم کړ، بدون دشک نه داکارکوچنی او اسان کارنه و، داچې مرحوم په لنډ وخت کې وکړ اوپکې موفق اوبریـالی شو ښکاري نوموړی دیوعبقري اوجوهري شخصیت په توګه دځینوځانګړومواصفاتونه برخمن و، چـې ځـوپې پـه لانـدې ډول دي:

۱= لومړی ملامحمدعمرمجاهد رحمه اللـه، یـوبې ریـا، مخلص اومتوکـل انسـان و، چـې پـه خـدای تعـالی یـې کلـک باوراوپوخ یقین و اوپه دې ډاډلرلو سره دشرالقرون په دورکې هم ځښتن تعالی ترې دخیر لپاره بیمثاله کاراخیست.

۲= مرحوم پوره هوښیار، مدبراوخیرک مشر و، دومره لوی خوځښت رهبري کول اوګام پـه ګـام امتحـانونو او نزاکتونـو تهمتوجه اوسیدل، اوبیا له هرچا نه دهغه داستعدادبرابر کارونه اخیستل، وخت اوحالاتوته په کتو مناسبې پریکړې کول ښیي په معنی اوحقیقت کې یوخبیر اوبصیرانسان و

۳= زړوراومیړنی و، تش لاس پورته شو، تحریک یې پیل کړ او مخالفین یې مـات کـړل، داټـول د زړورتیـا، شجاعت، همت، اومیړانې ښنې دي اوبل جنګي پریکړې کول لویه زړورتیا اوشـجاعت غـواړي، بـزدل یـا ډارن سـړی هیڅکلـه جنګـي پریکړې یاتصمیمونه نشي نیولی

۴= مستغني انسان و، هوس پرست نه و، ولې که خدای مکړه وی، نودنورو پاچایانوپه شان به ده هم دخپل ځان اوخپلې کورنۍ لپاره ددنیاوي هوسونو اوخوشالیو پریمانه توکي اواسباب پیداکړي وو، دنړۍ داعلی درجه بازارونوڅخه به یې داسایش توکي پیرل او استعمالول به یې، خو مرحوم ترپایه ساده ژوند غوره کړ، ساده خواړه، ساده کالي اوپه ساده لهجه خبرې کول یې پیژندګلوې ګرځیدلې وه خوپه دې سربیره یې زیات رعب او دبدبه درلوده

۵= معامله ګراو وطن پلورونکی نه و، که دملا محمدعمرهدف دنیا وی، یاددنیاژوند وی، نو کولی یې شول چې دنړۍ دلویوقدرتونوسره په سازباز اومعامله کولوېې داوږدې زمانې لپاره خپل شخصي سلطنت قایم کړی وی، اوهغوی ته یې په افغانستان دیرغل اود ده دشخصي حکومت دړنګولو موقع نه وی ورکړی، خوترپایه دهغوی فرمایشونو اوغوښتنومنلوته یې سر ټیټ نکړاو نه دهغوی دفشارونو اولاپوشاپوڅخه مرعوب شو.

پر دې علاوه مرحوم دهیواد په عاموخلکوداحسان کولو سربیره چې هغوی ته یې دپاټکسالارۍ او اناشیزم څخه نجات ورکړ، افغانستان یې له تجزیې څخه وژغوره، دافغانستان په دیني قشر (علماوو اوطالبانو) یې هم دا لوی احسان وکړ، چې دمختلفوولایتونو، ولسوالیو، توکمونو اوقومونوطالبان اوعالمان یې په یوقوي جهادي اوسیاسي صف کې سره راټول اومنظم کړل، ترمنځ یې نفرتونه او تعصبات ورک کړل، نن دمنطقي اونړۍ دوارو په سطحه داسې منظمه اوټولنه دهیڅ هیواد علماء اوطالبان نلري کومه چې دافغانستان طالبان اوعلماء لري، وراندې طالب به چې فارغ شو نودرس وتدریس به ورته په مشکله پیداکیده، هغه به مجبور وچې خپل ټول ژوند یواځې دجومات ترکونجونو محدودکړي، په اجتماعي اوسیاسي ژوند کې کوم خاص نقش یا رول ونلري، خوملا محمدعمر مجاهد پخپل تدبراوبصیرت سره دهیوادعلماوو اوطالبانوته یوداسې سیاسي اوجهادي ځواک په لاس ورکړ چې څو مشران او رهبران یې دمرحوم له لارې منحرف شوي نه وي، ترهغه به داصف جوړاومنظم پاته وي ان شاء الله اودهیواد علماء او طالبان به له دې ستیجه دخپلو ملي، دیني اجتماعي اوسیاسي وجایبوپه سرته رسولو بوخت وي.

راځه چې سره ووایو!
دافغانانو محسن څوک دی ؟!!

صلاح الدین صارم

څه عجیبه قوم یو! نن راته دخیراو صلاح وایي او په همدې غرض یې ځان سره اور ته اچولی وي، خو مونږ یې ورسره نه منو، غرضي او پردی پال یې بولو، سبا ورپسې اوښکې تویووو او په یاد یې خلې جوړ وو .

نن یې زه هم چې په یاد قلم پورته کوم ډېر یې راسره نه منې زما داکار هم دغرض لپاره گڼي اوبل ډول فکر کوي !.

زه وایم راځه نن اوپرون به سره یادکړو اودنن دحقیقت په هنداره کې به د پرون قضاوت هم وکړو، دازما اوستا هیواد دی، نن له پرونه زېږېدلی اوڅوک نه شي کولای له پرون پرته یواځې په نن قضاوت وکړي اوبس! په دې هیواد کې پرون هم داسې څه و چې که پروخت یې غم نه وای خوړل شوی، نن چې څه وینې دابه هیڅ هم نه وو .

پرون هیواد تجزیه کېده، نه تنها په شمال اوجنوب وېشل کېده، بلکې ارادې ورته داسې معلومېدې چې دانقشه محوه کېدله او دافغانستان په نوم هیواد به څو مرې شوی او نن دنړۍ په نقشه کې نه و !!

خوداسې ونه شول، نن دهیواد ارضي تمامیت تر ډېره ساتلی ښکاري! اولکه څنگه چې اغیارو غوښتل ورک نه شو، بلکې وساتل شو.

ته څه فکر کوې، دا کار په خپله وشو او" که دځینو شرایطو په رامنځته کېدو سره ترسره شو" ؟!

نه ! هیڅکله نه! دهیواد د ډېرو بچیانو سرونه ورته نذرانه شول اوله سختو لوړو او تندو سره پرې قربان شول، نن یې څوک نه یادوي او نومورکي دي .

پرون قدرت ته درسېدو په غرض دهرچا اهدافو او مقاصدو ته حاضر ول، چې په هیواد کې یې عملي کړي اوداخاوره دگاونډیو داوزلوبې میدان کړي، خو یوڅوک داسې پیداشول چې له دې شوم هدفه یې راوگرځوي. پرون دغه هوس ته په رسېدو یې د ډېرو هیوادوالو ککرۍ توپه کړې اودکابل په گډون ټول هیواد یوه داسې بڼه خپله کړې وه چې دکلیو اوښارونو په کوڅوکې به یې دورځې داسې وېره وه لکه د شپې چې دتورو بلاگانو په ولکه کې وي.

یوچاورته د ډېرو سرښندنو په قیمت دامن رڼا راوسته .

پرون دلته انسان دومره وحشي۔شوی او انساني کرامت دومره لوېدلی و، چې هلکان به په ښکاره ودېدل، له ښځو به تیونه پرې کېدل، دزېږون صحنې به عکاسي کېدلې، دمړو په نڅا او رقصونو به محفل تود و .

یوڅوک یې په وړاندې راپورته شو او ددې وحشتونو مخه یې ونیوله .

پرون دلته دهیچا مال، ناموس او عزت خوندي نه و او دهرڅه لوټ روان و، کورونه اوملکیتونه یواځې دهغه چا و چې په یاد وحشت کې به مخکښ و، پرون دلته دټوپک شپېلۍ حاکمه وه او هره فیصله په همدې مرجع کېدله.

یوڅوک راغی دغلو داړه مارانو مخه یې ونیوله، دزوورورو دظلم او زور لاس یې ور ونیو، بېرته خلک دخپل حیثیت او خپل ملکیت څښتنان شول.

پرون یې دلته دقوم او ملت، سمت او ژبې تعصب ته لمن ووهله او د دغه بدمرغۍ په اور کې یې ډېرهیوادوال وسوځول .

خو یو څوک بیا راپیداشول دغه اورېې ډېر په حکمت مړ کړ او عملاً یې وښودله چې څنگه کولای شي ټول قومونه په ځان راټول کړي .....

هغوی دغه څه وکړل هیواد او هیوادوالو ته یې د دغه حقوقو اعاده وکړه اولاله دغه سرګرداني وزګارنه وو چې بیا دنړۍ له بل سره پرې یوبل نړۍ خور یرغل راوور، هیواد یې ترې ونیو او دوی ته یې دځمکې په سر دژوند حق هم ورنه کړ .

دغو نیواکګرو په هغوی پسې دتبلیغاتو او پروپاګند خوله خلاصه کړه هغوی یې تروریستان، سخت دریځي، زاړه پال، پنجابیان، پردي پال اونور اونور وبلل .

دهغوی دغسې کړي ستر ستر خدمتونه یې درڅخه پټ کړل او له هغوی پاتې واړه کارونه او وړې وړې خبرې یې درته دېرې غټې کړې، دایې ونه ویل چې هیواد یې له انارشیزم او ملکوالطوایفۍ وژغوره، په هیواد کې چې دقدرت دترلاسه کولو اودخپلمنځي سرتمبګۍ دسرته رسولو لپاره یې دولس دبې رحمه اوبې شمېره وژنو سلسله روانه کړې وه، دهغو مخه یې ونیوله! بلکې په لمانځه دسختۍ، دخلکو د امن لپاره یې دقاتلانو قصاص اودغلو دلاسونو پرې کول یې درته جرم کړاو دقدرت په اورکې دولس قتل عام یې درته هیڅ کړ !!

تاهم!

د دوی غړ ورسره بدرګه کړ! او دهغوی په وړاندې دې له دوی سره څنګ په څنګ تو‌یک په اوږه کړ ، دهماغو تبلیغاتو په تأثر او جذبه ورسره وجنګېدلې، مخکې له دې چې تافکر کړی وای چې هغوی خو ستا هیوادوال دي اودهغوی دېرون کړنې دې دهمدغو دوستانو په عینکو نه! په خپلو عینکو لیدلې وای ° دهغوی په وړاندې سخت دریځی شوې چې دېرڅله دې یواځې دهغوی په مرګ هم اکتفا ونه کړه، بلکې د راز راز توهینونو څخه دې هم لاس ونه نیو ، همدا دسیمې اوکلي خلک دې پردي اودا له اوو (۷) سمندرونو هاخوا راغلي دې خپل او خواخوږي وبلل او دادې ونه ویل : داچې دوی یې تروریستان اوترهګر بولې اوزما هیوادوال دي ، دوی به تردې دمه په دغه قصاص او داسلامي حدودو په عملي کولو دهغو وژنو څومره سلنه پوره کړې وه چې ددغو خواخوږو په راتلو دلته ووژل شول ؟! .

دریغه! دریغه! چې له دې سوچ او فکره لرې پاتې وې !!

نن بیا دهیواد ساتنې، خپلواکۍ او استقلال ترلاسه کولواو اشغال له منځه وړلو غم دهغوی په سر دی پرون یې یادې ستړیاوې په برخه وې، نن یې دادی له سره بیا له غربي استکباره، دخپلواکۍ جګړه په تېرو شلوکلونو کې تردې ځایه رارسولې .

نن ته هم په دې عقیده یې چې دا راغلي زمونږ خپل او خواخوږي نه دي، نن تاته هم ثابته شوه چې دوی دخپلو شومو اهدافو او اشغال په شوم غرض راغلي وو او دهمدې مقصد په هیله یې په تا ددالرو باران و، نن یې تاته دا په میراث پرې ایښې د دیمکراسۍ ارمغان دکابل واکمن اواداره ده چې دشرم اوپیغور پوزه یې بولې او په ټوله دنیاکې پرې شرمنده یې! هیڅکله یې دخپلو ارمانونو او ستړیاوو وړ بدله نه بولې .

نن ته دتېرو شلو کلونو لاسته راوړنې څه بولې او څه لرې ؟

ستا دهیواد په ولس څه تېرنه شول او کوم وحشت یې ونه لید؟ دبمباروحشتونه یې درته یادکړم ؟ دفساد، غلا، ناقانونیت ، زورواکۍ، بې دینۍ، فحشا، عریانۍ او ناانصافۍ درته ووایم اوکه د نا اهلي، عیاشۍ، غدر، خیانت، بېلابېل تجاوزونه ، ناروا غوښتنې، رشوت اوظلم یې درته ووایم ؟!

نن ته هیڅ نه لرې او هیچا درته هیڅ نه دي کړي !

نن که ته څه لرې! نو ببرته دتجاوز په وړاندې دهغوی سرښندنې اوکلک مقاومت لرې چې په هیڅ دول زور تجاوز ته تسلیم نه شول، دهغوی ټولې شیطاني جهاني دسیسې یې شنډې کړې، دهغوی دټولو بهانو ځواب یې ووایه .

نن که ته لرې ! نو هغه سرلوړي او عظمت به لرې چې دوی ستاخاورې ته د خپلو وینو په قرباني راوړه او په ټول اسلامي امت کې داسلام په دفاع کې که سرلوړی یادېږي،تو افغان به وي .

هغوی چې په دې لار کې څومره کړاوونه، لوږې، تندې، سختۍ او ستونزې ګاللې دي تر ما به تاته ښې معلومې وي .

هیواد اوهیوادوالو ته دېرون او نن خدمتونه او زیاتونه وارزوه! جاج یې واخله !

ووایه !دمقاومت، استقلال ، دین او هیواد ساتنې دغه مبارزین څوک وو؟ او چا په دغه فکر رهبري کړل ؟

طالبان وو اوهغه چا دغه وریاخدمتونوته راپورته اورهبري کړل چې نن یې له دې ترۍ د رخصت او وفات اووم تلین دی!

امیرالمؤمنین ملامحمدعمر " مجاهد" رحمه الله رحمة واسعة .

نو راځه چې سره ووایو! دافغانانو محسن څوک دی ؟! اودې خاورې ته خدمت چا کړی ؟؟!



د ملا محمد عمر (مجاهد) دوه اعجازي اقدامات

امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد په خپل جهادي ژوند کې په نورو کارنامو سربېره دوه اعجاز آمیزه اقدامات تر سره کړي:

لومړی هغه له افغانستان څخه د شوروي یرغلګرو تر وتو وروسته د تنظیمي انارشي او ټوپک سالارۍ خلاف اصلاحي پاڅون.

او دوهم پر افغانستان د صلیبي یرغل خلاف په نره مقابله کول.

پورتني دواړه داسې له خطرونو ډکې مرحلې وې چې له عقلي لحاظه د هغوی خلاف موقف نیول ناشونی کار و.

خو ملا محمد عمر مجاهد د لومړۍ مرحلې تول خطرناکتوب د ((توکل محض)) پر اساس ونڼګاوه ، د هغې د تغیر لپاره یې اصلاحي تحریک پیل او په خپل حکیمانه قیادت سره یې هغه د بریالیتوب تر منزله ورساوه.

دا مرحله که مونږ دلته په څو مختصرو تورو کې خلاصه کړې خو د هغې د بریالیتوب په لاره کې دومره قرباني او زحمتونه ګالل شوي چې قلم یې له حد او حصره عاجز دی.

همدا د ملامحمد عمر (مجاهد) لوی عزم او پخه اراده وه چې په هیواد کې یې د تنظیم واکي له امله رامنځته شوې انارشي ختمه او دهغې په ځای یې یو داسې اسلامي حاکمیت نافذ کړ چې هم یې هیواد له تجزیې وژغوره او هم یې ورکې یو پر خپلو پښو ولاړ مسلط نظام حاکم کړ.

داسې نظام چې نن یې تول داخلي او بهرني دښمنان له خپل تول حسادت سره سره د هغه پر تسلط او حاکمیت اعتراف لري.

دوهمه مرحله پر افغانستان د یرغل په مهال له نړیوال کفر سره د مقابلې مرحله وه.

دا مرحله یقینا چې په تاریخي لحاظ د احزاب جګړې ته ورته پر مسلمانانو یوه له الهي آزمایښته ډکه مرحله وه.

دلته د ډیرو کلکو خلګو عقیدې متزلزلې او د متی نصر الله ؟! په ویلو به تری شکوې ختلې.

هو مونږ ولیدل چې په دې امتحاني مرحلې کې ډیر د عزم خاوندان وار خطا او بې عزمه شول.

تر دې چې ډیرو د کعبې د لارې لارویانو پر ترکستان ور ووهله.

وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا (۱۰) الاحزاب

خو مجاهد ملا محمد عمر دا وخت هم لکه غر د خپل ثبات او استقامت پر موقف ولاړ و او په داسې حال کې چې مغرور بوش د صلیبي ټلوالې په تشکیلولو سره د صلیبي جګړې نغاره ډنګوله خو ده د جهاد په لار کې امتحان شویو مجاهدینو ته د ((الا ان نصرالله قریب)) په بشارت سره د هغوی پرماتو زړونو د فتحې او بري پټۍ ښودلې.

د نړیوالې صلیبي جګړې سرخیل(بوش) په داسې حال کې چې ټوله نړۍ له ځان سره د موافق او مخالف په کتار کې درولې او ټولو ته یې یوه کرښه را ښکلې وه... خو ملامحمد عمر (مجاهد) د الله په نصرت مطمئن ، بوش او د هغه ترځنګ لاندې راټول شویو مادیینو ته یې ویلو:

((بوش د مجاهدینو د له منځه وړلو ګواښونه کوي او الله تعالی د هغوی ساتلو وعدې کړې دي، ویه ګورو چې په وروستۍ کې د چا وعده پرځای کیږي؟!))

امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) پر همدې عقیدې د یرغلګرې صلیبي ټلوالې پرضد خپله دفاعي مقابله پیل کړه ، په دې مقابله کې ثابت قدمه او د الله په نصرت باوري و ، هماغه و چې د نړیوال کفر له ټول پوځي او تخنیکي تفوق سره یې هغوی ته ماتې ورکړه، او په دې سره یې د مجاهدینو برحق والی او له هغوی سره د الله د وعدې تحقق ثابت کړ.

د ملا محمد عمر مجاهد د روح حاکمیت

د ۱۳۹۸ هـ ش کال د کب په لسمه د دوحې د شیراتون هوټل په تالار کې چې کله د اسلامي امارت او یرغلګرو امرکایانو ترمنځ د اشغال د خاتمې تړون لاسلیکیدو هلته د ملا محمد عمر مجاهد د روح حاکمیت محسوس کیده.

ځکه په هغه ځای کې اسلامي امارت په خپلې جهادي داعیې باندې په ټینګ پاتې کیدو سره یرغلګرو امریکایانو ته دا وروښودل چې دا هماغه امارت دی چې تاسو یې د له منځه وړلو لپاره نړیواله صلیبي جبهه جوړه کړې وه،

خو نن مجبوریاست چې د هماغه امارت تر عنوان لاندې ورسره د اشغال د خاتمې تړون لاسلیک کړئ!

همالته که امیر المؤمنین ملا محمد عمر (مجاهد) ظاهري شتون نه درلود خو روحي حاکمیت یې عملا محسوس و چې نړیوال کفر یې د عقیدې او موقف ثبات ته د انکساراو هزیمت سرټیټ کړ ...

په همدې تالار کې چې د نړۍ د ترپنځوس زیاتو هیوادونو لوړ رتبه ډیپلوماتانو شتون درلود ، د اسلامي امارت او یرغلګرې امریکا ترمنځ د اشغال د خاتمې د سند لاسلیکولو په مهال د الله اکبر ملکوتي انګارو به حتما مایک پومپیو ته د امیر المؤمنین دا له عبرته ډکې کلیمې وریاد کړې وي :

((بوش د مجاهدینو د له منځه وړلو ګواښونه کوي او الله تعالی د هغوی ساتلو وعدې کړې دي، ویه ګورو چې په وروستۍ کې د چا وعده پرځای کیږي؟!))

پر تا دې لکونه رحمتونه وي ای د جهاد او عقیدې د لارې نه هیریدونکي رهبره!

یوویشتمې پیړۍ د جهاد مجدد

ملا صاحب،
د حریت مجسم پیکر

■ عبدالستار سعید

حریت یا آزادي د انسان له خدای ورکړو اساسي حقوقو شمیرل کیږي. لکه څنګه چې انسان د فرد په حیث له موره آزاد او حُر زیږي. همداسې یوه انساني مجموعه، ملت یا هیواد هم د حریت او استقلال حق لري.

تر هغه وخته چې په نړۍ کې اخلاقي معیارونه له چلښته نه و لویدلي، حُریت ته د آب و هوا په شان د انساني ژوند د اساسي ضروري عنصر په نظر کتل کیدل. د یوه انسان یا انساني ټولنې د شرافت او عزت تر ټولو لومړنی شرط حُریت ګڼل کیده. ملتونو او هیوادونو به د خپل استقلال او حُریت د ساتنې لپاره په کلونو څه بلکې په قرنونو مبارزې کولې. غلامي او تر بل چا وابستګي به یې د ځان لپاره تر ټول کرغیړن عیب او پیغور ګاڼه.

اما په وروستیو پیړیو کې د استعمار او نړیوالتوب د مرحلې له پیل سره، چې نړۍ په ابرقدرتونو او مستعمراتو تقسیم شوه، یو شمیر ملتونه د غربي استعمارګرو تر تسلط لاندې راغلل، د هغوی آزادي سلب شوه او ډیره موده د غلامۍ په جال کې ښکېل پاته شول. تر دې چې بالاخره د نړۍ اکثره محکوم ولسونه له غلامۍ سره روږدي شول. په ضمن کې آزادۍ سلبوونکو استعمارګرو هم د خپلو ګټو لپاره د حُریت او ازادۍ اصلي معنی تحریف کړه. هغوی د خپلو رسنیو او فرهنګي یرغل په ترڅ کې محکومو خلکو ته وروفهمول چې حُریت اصلا د سیاسي استقلال په معنی نه دی، بلکې د فردي آزادي (لیبرالیزم) په معنی دی. نو ځکه که تاسو د غربي اشغال په زولنو تړلي یاست، دا کوم عیب نه دی، ځکه تاسو فردي آزادۍ لرئ او د غربي لیبرال کلتور څخه په استفاده چې هره ناروا وغوارئ ترسره کولای یې شئ.

د حریت او استقلال په دې قحطۍ کې الله تعالی د اسلامي نړۍ په یوه مهم هیواد افغانستان کې د ملا محمد عمر مجاهد په نوم یو حاکم پیدا کړ. ملا صاحب لکه څنګه چې د امیر المؤمنین په حیث د اسلامي سیاست هیر شوي مفاهیم را ژوندي کړل او په اسلامي

معيارونو برابر يو شرعي نظام يې جوړ کړ. دغه راز يې د نړۍ محکومو ملتونو او واکمنو د حُريت او استقلال درس هم ورکړ.

د اسلامي امارت له يوه مخور مشر ځخه مې وپوښتل چې تاسو خو له ملا صاحب سره نږدې اوسيدلي وئ، ستاسو په نظر د ملا صاحب تر ټولو امتيازي صفت کوم و؟

هغه ځواب راکړ، ما چې د اوسنيو واکمنو يو ځه حالات مطالعه کړي او بيا مې د ملا محمد عمر مجاهد سياست او زعامت وليد، نو ويلی شم چې ملا صاحب د دې زماني حُر ترين حاکم و. نوموړي په خپلو پريکړو او اقداماتو کې بشپړه خپلواکي درلوده او د هيڅ نړيوال يا سيمه ييز هيواد يا ډلې تر اغيز لاندې نه و.

د اوسنۍ نړۍ زياتره حاکمان داسې روږدي شوي چې خپل تقدير د امريکا، روسيې، انګلستان، چين يا کوم بل ابر قدرت په تندي کې ګوري. دوی چې کومه پريکړه کوي نو اول يې د نړۍ له دې خواکمنو سره شريکوي او په پريکړو کې يې د خپل دين، هيواد او ولس په ځای د خپل بادار هيواد د ګټو تضمين ته ډيره توجه وي.

مګر ملا محمد عمر مجاهد چې د الله تعالی صالح او مخلص بنده وه، پنځه وخته يې د ستر بادار الله تعالی په حضور کې د عجز او انکسار تندی پر ځمکه لګاوه، الله تعالی په همدې بندګۍ دومره مستغني کړی و چې د بل هيچا باداري او واکمني يې په زړه نه ځايېده.

اصلا د داسې حُريت بنيادي سبب د ملا صاحب ديانت او کامل ايمان و. علماء کرام فرمايي چې د الله تعالی مينه او له الله تعالی خوف تر بلې هرې مينې او خوف ځواکمن دی. د چا په زړه کې چې د الله تعالی مينه او خوف ځای ونيسي، د هغه له زړه بيا نورې ټولې مينې او ويرې تښتي. نو ملا صاحب مرحوم چې د يو واقعي مؤمن په حيث له الله تعالی ويرېده، همدې خوف يې په زړه کې له بل چا ډار ته ځای نه ورکاوه.

همدا نن سبا موږ وينو چې د اشرف غني په مشرۍ د کابل اداره په هره فيصله کې د امريکا مزاج ته ګوري. اشرف غني د کابينې ټاکنې پيل کړې، خو چې له امريکا ورباندې اليس ويلز غږ وکړي، سمدستي د ارګ چارواکي توبه وباسي او په رسمي اعلاميه کې ووايه چې ټاکنې يې درولي دي. دا يوازې د کابل چارواکي نه دي، تقريبا د اکثره محکومو او استعمار ځپلو هيوادونو چارواکي همداسې له حُريت او خود اراديت ځخه عاري دي.

اما ملا صاحب داسې نه و، د اوريدو له قراره د امريکا له حملې وړاندې چې جورج ډبليو بوش يو نړيوال پوځي ايتلاف جوړ کړ او د نړۍ محکوم مشرسان د امريکا دخوشالۍ لپاره په پيشخدمتۍ لګيا و، يوه ورځ ملا صاحب په کندهار کې راډيو اوريده چې بوش په خورا غرور او ګواښمنه لهجه وويل: اسامه بن لادن يا مړ غواړم او يا ژوندی! ملا صاحب ځواب ورکړ: والله که دې يا مړ رانه وليد او يا ژوندی . . .

داسې قاطع او له حُريت نه مالامال ځواب شايد د اوسني عصر ذهنا غلامو چارواکو ته د فهم او هضم وړ نه وي، هغوی يې په اوريدو شايد بل وړ احساس وکړي او وايي به چې دا نو د نړيوال قانون، ديپلوماتيکو آدابو او سياسي اصولو نه يو مخالف غبرګون دی. اما د اسلام، انسانيت او افغانيت په معيار دا جواب سل فيصده برابر او د الله تعالی د يوه واقعي حُر بنده د موقف نمايندګي کوي.

علامه اقبال د حُر انسان تعريف داسې کوي.

مرد حر محکم ز ورد(لاتخف)
ما بمیدان سر بجیب او سر بکف
مرد حر از لااله روشن ضمیر
می نگردد بندهٔ سلطان و میر
مرد حر چون اشتران باری برد
مرد حر باری برد خاری خورد
پای خود را آنچنان محکم نهد
نبض ره از سوز او بر می جهد
دارد اندر سینه تکبیر امم
در جبین اوست تقدیر امم
قبلهٔ ما گه کلیسا ، گاه دیر
او نخواهد رزق خویش از دست غیر
ما همه عبد فرنگ او عبده
او نگنجد در جهان رنگ و بو
کار ما وابستهٔ تخمین و ظن
او همه کردار و کم گوید سخن
ما گدایان کوچه گرد و فاقه مست
فقر او از لااله تیغی بدست
شکوه کم کن از سپهر گرد گرد
زنده شو از صحبت آن زنده مرد
صحبت از علم کتابی خوشتر است
صحبت مردان حر آدم گر است
می نروید تخم دل از آب و گل
بی نگاهی از خداوندان دل
اندر این عالم نیرزی با خسی
تا نیاویزی بدامان کسی

د مسلمان فیلسوف او شاعر اقبال دا شعر خورا اوږددی، چې د یو واقعي حُر مؤمن صفات ذکر کوي، خو هر وخت يې چې لولم، نو په دې عصر کې بل څوک په نظر نه راځي چې دغه تعریف دې ورباندې صادق شي. پرته له مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد.

ځيني ناخبره او د رسنیو دروغ ځپلي فکر کوي چې ملا صاحب د پاکستاني چارواکو تر اغیز لاندې و. اما د پاکستان د تاریخ تر ټولو مقتدر واکمن جنرال پرویز مشرف په خپل کتاب کې ملا صاحب مغرور مشر بللی دی. مغرور دا معنی چې د ده په جنرالۍ کې يې چورت نه واهه او د شیخ اسامه د سپارلو د موضوع په شان يې د ده هیڅ فرمایش هم ونه مانه.

که ملا صاحب په لنډو تعریفوو باید ووایه چې هغه په اوس عصر کې د حُریت یو مجسم پیکر و. په دې اړه باید ډېره څېړنه وشي او ډیر څه ولیکل شي.

د مرحوم أمیر المؤمنین رحمه الله تعالی

په اړه څو اوریدلي او لیدلي..!!

موسی فرهاد

ته لکه لمر له غروب وروسته
دې بې شماره ستوري == لار کې
پرې ایښي دي قربان زموږ لپاره
ستوري

ستا د حجرې، ستا د سنگر
یاران هر یو په نوبت == لکه
منصور ځانونه وړي تر سره انگاره
ستوري.

نن د ثور د میاشتې څلورمه نیټه ده، (۱۳۹۸هش کال). دا ورځ د مرحـوم أمیرالمـؤمنین د اووم تلـین ورځ ده، پـوره ۷ کالـه وړانـدې پـه همدې ورځ ملا محمد عمـر مجاهـد رحِمهُ الله له دې فـاني نـړۍ څخـه د تلپاتې ژوندانه په لور کوچیدلی. الله تعـالی دې پخپـل عظیم جـوار کـې پخپل خاص رحمت سره ونازوي.

د عمرثالث عالی قدر أمیرالمومنین ملامحمد عمـر مجاهـد رحمـه اللـه د تعـارف او ژوندانه د نورو اړخونو په اړه ډېر څه ویل شوي، لیکل شوي، له هغوی نه به تېر شو، دلته به یې په دغه لیکنه کې په اړه څو مختصري خاطرې، پرته لـه خپلي تبصرې ستاسـو سره شریکي کړم، نور یې قضاوت، پرتلنه او له هغه نه مثبت یا منفي برداشت ستاسو خپل کار دی.

خو مخکې تر هغه د نوموړي څینی مُسَلّم او متفـق علیـه خاصـیتونه ذکرکـول هـم اړین گنم ، واقعاً چې نومـوړی د تـاریخ د دغـې خـاصې مقطعـې یـو منفـرد، ربښـتینی او سپیڅلی شخصیت و.

مشهور تابعي سفیان ثوري رح فرمایلي، «من عرف نفســه لا یضره مـا یقولـه النـاس فیه» (چاچې خپل ځان وپیژانده؛ د خلکو ویناوې ورته ضرر نشي رسولی.)

دامې ښکاري چې مشر ملاصاحب مرحوم خپل ځان او خپل مسیر ښه پیژندلی و، ځکه خو یې په وړاندې د خواکمن دښمن کروزراکتونه، بـې رحمـه درون بریدونـه، بې شمېره میدیایي زهرجن گذارونه ټول بې اغیزې ثابت شول.

د ضعیف ملاعبدالسلام صاحب خبره ده، څرنگه چې هغه عُمر نومیده؛ همداسې یې د عمرفاروق غوندې د پوره صداقت ځانگړتیا لرله، نه یې چاته دوکه ورکوله او نه خپلـه تر پایه د چا له خوا څخه دوکه سو.

ملاصاحب په ریښتیا سره څو صفات درلودل.

ځان یې د خدای جل جلاله شریعت ته تسلیم کړی و، پاک نفسه انسان و، هیڅ اخلاقي او لساني کمزورتیا یې نه درلوده، دروغ ویل یې نه خوښول، له چل او فریب نه یې کرکه لرله، بې ځایه او بې ضرورته خبرې یې نه کولې، د بل چا خبره یې په غور اوریدله، په خبرو کې یې له چا سره ډیره مشاجره نه کوله، په وعده باندې یې وفا کوله، د خولې او زړه خبره یې هر وخت یوه وه، له قومي، ژبني او منطقوي تعصب نه یې ډېر نفرت کاوه، ځپله ظالم نه و او نه یې ظلم خوښیده، د متین عزم څښتن و، په هر کار کې به یې پریکنده عمل کاوه.

څو عجیبې کارنامې او جالبې خبرې یې:

۱ - د بې بې سي خبریال له ملاصاحب نه وپوښتل چې تاسو څو د چیچنیا د مسلمانانو سره خواخوږي لرئ؟ آیا له هغوی سره عملاً مرستې هم کوئ او یا ورته اماده یاست ؟

نوموړي یې په ځواب کې لنډکۍ، ساده، خو، هراړخیزه او با معنی کلیوالي جمله وکاروله : « زموږ ځپله پښه په پایڅه کې بنده ده.» یعني پخپل کور کې په مشکلاتو کې راګیر یو له نورو مسلمانانو خصوصاً چیچنیایانو سره به څه مرسته وکړای شو.

۲ - یو مشر ملګری چې ملاصاحب ته ډېر نږدې پاتې شوی؛ وایي : یو ځل ملاصاحب په کندهار کې پخپل دفتر کې وو چې د غرمې دوډۍ ورته راوړله شوه د پسه د غوښو غورمه وه ، ملاصاحب چې خواړه ولیدل څو شیبې همداسې لاس نیولي فکرمند کښېنستی، وایي ما ترې پوښتنه وکړه ، ولې داسې په چورت کې شوې؛ وای ده راته وویل : دا به څنګه وي؟ مجاهدینو او نورو عامو خلکو ته خو ښایي لږو ته داسې خواړه رسیږي او موږ او تاسو یې خورو.

هغه ملګری وای ما ورته وویل: د هندوستان یو مشهورعالم مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله چې څه کم سل کاله وړاندې زمانه کې تیر شوی؛ د هغه په اړه لیکل شوي چې د سهار په ناشته کې به داسې خواړه ورته تیاریدل چې هغه وخت به د هغه مهال پنځوس روپۍ مصرف وربانډې راته، نو ده چونکه د مسلمانانو ستر خدمت کاوه دا خواړه یې ځان ته مناسب بلل. تاسو هم کولای شئ چې ویې خورئ ځکه چې زیاته ستړیا دې کمزوري کوي او د ولسي امورو په انجامولو کې بیا نقصان راځي. وای بیا یې تسلي وشوه.

۳ - د ملاصاحب موټرچلوونکی وایي: یوه ورځ د میوند د شهیدانو تاریخي مقبرې ته ووتلو، چې بیرته راتلو لمر لویدو ته قریب و، تیز باران شو، لیرې په دښته کې داسې یو شی ښکاریده لکه سړی چې روان وي، د ملاصاحب ورپام شو، وای دا خو سړی مالومیږي او په دې باران کې به اوس څه کوي؟، سمدستي یې ماته وویل ته موټر دروګرځوه، چې ورغلو پوښتنه مو ترې وکړه، کوچی و وای هاغه پورې غره په څنډه کې مو کیږدۍ دي، هلته ځم. ملاصاحب ورته وویل: راځه سپور شه ، په هغه شدید باران کې مو د غره څنډې ته ورساوه، د ختو او باران له وجې څه باندې یوساعت وخت ولګیدی، بیرته چې را روان شو. قریب نیمه شپه وه چې ځای ته راغلو.

٤ -د صحنې شاهدان کیسه کا چې د هندوستان یوه الوتکه له مسافرو ډکه وتښتول شوه، د کندهار او کابل پر هوایي ډګرونو یې چکر واهه او د کښیناستلو اجازه یې غوښته، خبره تر ملاصاحب پورې ورسیده، چونکه له حقیقته یې څوک خبر نه ول، نو په اړه یې پریکړه هم ګرانه وه، ملاصاحب له مشرانو سره د مشورې پرمهال وویل: « راځئ اجازه ورکړو، نیت به ورته صفا کړو، که چیرې مسلمانان وو نو هم به مو د اسلامي ورورولۍ او هم بشري خواخوږۍ په آساس له هغوی سره مرسته کړې وي او که نامسلمان وو بیا به مو هم خپل بشري مسئولیت اداء کړی وي، او دا چې موږ دا کار د ښه نیت له امله کوو ، الله تعالی به مو د نقصان پرځای عزت او کامیابي په برخه کړي.» هغه و چې اجازه ورکول شوه او معامله یې د افغانانو په نیکنامۍ پای ته ورسیدله.

۵ - د اسفندیارولي هغه خبره ډېره مشهوره ده چې وایي نصیرالله بابر خپله راته وویل چې زه لاړم کندهار ته د (ملاعمر) سره مې ملاقات وشو، د ډوډۍ پرسر مې ورته وویل چې ملاصاحب که تاسو د ډیورنډ د رسمیت پیژندلو مسئله خلاصه کړئ نو ټولې

ستونزي به ورسره حل شي. وای ملاصاحب پرته له خندې په ډېره تونده لهجه راته وویل : پاڅه ، له دې ځای نه سمدستي پاڅه ، بیا دا خبره درنه وانه ورم.

٦ -د عبدالحکیم مجاهد وینا ده، وای له نیویارک نه راغلم له ځان سره مې د اسامه په اړه څو طرحې راوړي وې، ملاصاحب ته مې وړاندي کړي، او ورته ومې ویل چې د امریکا فشار نور هم زیاتیږي باید چې یوه لاره ورسره یوسو، وای ملاصاحب راته وویل: « موږ امریکا ته نه، بلکې الله ته مسئول یو، ته ولاړ شه کابل کې له نورو مشرانو سره په ګډه یوه داسي لاره راوباسئ چې زموږ دین او زموږ ملي عزت ته پکې زیان ونه رسیږي. زه درسره موافق یم.»

٧ - د مزار د فتح پرمهال چې ٨ ایراني دیپلوماتان د ملاصاحب په ناخبرۍ کې ووژل شول، ایران ته یې عذرونه وویل خو هغوی نه منل، د جنګ اخطارونه یې ورکړل، ملاصاحب په راډیو کې هغوی داسي مخاطب کړل: « ایراني اخوندان نه مسلمانان په اسلام ورګډوي اونه یې کفار په کفر ورګډوي. که چیرې د ایران له خوا پر موږ برید وشي، نو زموږ ځواکونه به ۳۰ کیلومتره دننه د ایران خاو رې ته ننوځي»

٨ - یو محافظ یې کیسه کوي چې یو کال زیاته وچکالي شوه بارانونه ونشول، د کندهار او هلمند په ریګونو کې کوچیان خلک او د هغوی څاروي له تندې سره مخ شول، ملاصاحب ته چې دا خبر ورسیده ، سمدستي یې ملګرو ته وویل چې تاسو درځئ خپله یې حال واخلو، چې ورغلو د خلکو حالت ډېر ځورووونکی وو، ملاصاحب پخپله ځینو خیمو ته ورغی هغوی ته نه پیژانده ، خبري یې ورسره وکړي. چې را روان شو په مخابره کې یې د کندهار والي صاحب او د میدان هوایي مسئولینو ته امر وکړ چې د دې خلکو غم وخورئ، یوه انساني فاجعه رامنځ ته کیدونکې ده، په الوتکو او موټرو کې یې داسي ځای ته را نقل کړئ چې هلته اوبه وي. او په ټانکرو کې یې څارویو ته اوبه ور ورسوئ. چې بیا وروسته د هغو خلکو نه خدمت وشو، هم دوی او هم یې څاروي وژغورل شول.

٩ - متوکل صاحب وایي: مرحوم ملا صاحب ته څو ځله په جهاد کې د شهیدي سوي نبي سترګې په عوض د مصنوعي سترګې د وراچوولو وړاندیز وسو خو د ده ځواب به دا وو چې په آخرت کې الله تعالی ته په یوه سترګه مخامخیږم نو خیر دی د مخلوق سره دې هم په یوه سترګه واوسیږم څه چې نفسي سامان به کوم.

پورته ذکر شوي واقعات یې،،،، از قبیله، مشت نمونه ئی خروار است).

الله تعالی دې مرحوم مشر ملاصاحب مبارک پخپل خاص رحمت سره ونازوي،،، پر ځای ناستو، اولادونو، کورنۍ او لارویانو دې یې مهرباني او برکتونه تلپاتي ولري.

..... آمین

پای ....!!

آن بزرگمرد فراموش نشدنی...

(بـه مناسـبت هفتمـین سـالیاد رحلـت ملکـوتی عالیقدر امیرالمومنین مرحوم ملا محمد عمر مجاهد)

سالها به سرعت می‌گذرد بسیاری از مسایل بنا بر طبیعت روزگار در گذر زمان کهنه و فرسوده می‌شوند و گاه از یادها می‌روند؛ اما بعضی مسائل در گـذر زمـان نـه کهنـه و فرسـوده می‌شـوند و نـه از یـاد و خـاطرهٔ کسـی می‌رود و نه در تاریخ کمرنگ می‌شوند تـا دنیـا دنیاسـت نام و نشان آنها تر و تازه است یاد و خاطرهٔ آنها جاویـدان و ماندگار بـوده و هـیچ کسـی نمی‌توانـد آنها را از حافظـهٔ تاریخ پاک بکند بلکه تا همیشـه خوش‌نام بوده و حتـی هر چه زمان بگـذرد بیشـتر مردم زمانـه ضرورت بـودن، داشتن و یافتن همچون اشـخاص را جسـتجو کـرده و بـه داشتن آنها افتخار می‌ورزد.

از جمله افراد چنین قافلهٔ آشنا، بزرگمـرد فرامـوش نشـدنی تـاریخ معـاصر کشـور عزیـز افغانسـتان مرحـوم عالیقـدر فقیـد امیرالمـومنین مـلا محمـد عمـر مجاهـد رحمه‌اللـه اسـت کـه امـروز چهـارم ثـور ۱۳۹۹هـش در هفتمـین سـالیادش بـار دگـر یـاد و خـاطرهٔ آن بزرگمـرد تاریخ تر و تازه می‌شود.

آری! امیرالمومنین مرحوم شخصیت ماندگاری است که برخواسته از کنج مسجد و مدرسهٔ دینی چنان یک احساس سربلندی در ملتی زنده کرد که آن ملت هرچند در دل خـود افتخارانـه تـاریخ شکسـت قلـدرترین قدرت‌های خارجی را یدک کشیده و دنیا چنان درس‌های تاریخی از آن ملت در صفحات تاریخی بشر ورق زده که هر برگ تاریخ آن ملت بـا افتخـاری ارزشـمند ورق خـورده است باز هم در معاصر جنگ نابرابر و تجاوز نامیمون که

ظاهری زمانه بنای مدارا و گذاره با امریکا را در پیش گرفته و از دست و گریبان شدن با امریکا حذر می‌کرد، سرمایه‌دارترین کشورهای جهان بخاطر سود دنیوی و مادیات، خود را در برابر تجاوزات آشکار و پنهان امریکا به موش مردگی زده بود، جایی که دنیا از هر چیز و هر کسی بی‌باک سخن گفته جز در مورد امریکا، و هرگاه که نوبت به امریکا می‌رسید بسیار با احتیاط رفتار کرده و سیاست مصلحت‌گرانه را اختیار می‌نمود؛ در چنین زمانه‌ای امیرالمومنین فقید با تمسک به راه انبیا و اولیاء در برابر امریکا قد علم کرد و با توکل محض بر ذات حق، پیش خداوند عاجز گشت و در جنگ امریکا به جای تمسک به اسباب ظاهری به قدرت مافوق وراء‌الطبیعه الهی یقین و باورش را صد چند کرده و آغازگر نبرد حق در برابر باطل را رقم زد که آن روزها همه این اقدام مرحوم ملاصاحب را خودکشی مطلق توصیف کرده بودند اما او چنان به ذات و قدرت خداوند یقین و باور داشت که هر چه امریکا بیشتر تهدید می‌کرد و از زبان زور کار گرفت ملا صاحب استوارتر شده و با نیروی ایمانی خود فردای شکست امریکا را آن روزها دیده و نوید می‌داد که وقت غروب قدرت امریکا نزدیک است و عنقریب خداوند متعال امریکا را به دست ملت قهرمانش خوار و زبون ساخته و با شکست و ذلت مواجه‌اش می‌کند.

و بالاخره پیشگویی آن مرد خدایی عین حقیقت تعبیر شد و آغاز شکست سومین امپراطوری قدرتمند و متجاوز جهان در تاریخ دهم حوت سال ۱۳۹۸ هش با امضای پیمان پایان اشغال امریکا دستخط گردید، و یاد و خاطرهٔ (مرحوم ملاصاحب) آن قهرمان دلها را در ذهن و فکر ملت مسلمان افغانستان و مردم جهان تداعی کرد.

از این‌روست که نمی‌شود از پیروزیهای این روزها گفت و یادی از مرحوم ملا محمد عمر مجاهد رحمه‌الله سپهسالار این قافلهٔ پیروزمند نکرد و بلکه روزهای تاریخی و پر افتخار امروز که از هر طرف نوشته بشود و یاد گردد اول و یا آخرش نام و یادی از ولی زمان ملا محمد عمر مجاهد خواهد درخشید و این بی‌انصافی مطلق خواهد بود که ملت عزیز افغانستان به روزهای خوش پیروزی و بر قلهٔ فتح نایل بیاید اما نام و یاد آن سرقافله و موسس و بانی امارت اسلامی افغانستان زینت بخش ترانه‌های حماسی‌شان نباشد. روح آن مرد بزرگ شاد

دملا صاحب مبارزې څه راوښوول؟!

سيد شريف

نن داسلامي امارت دمؤسس اميرالؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله اووم تلين دی، تومورې اووه کاله وړاندې(۱۳۹۲ل، دثور په ۴مه) دگران هيواد په يوه لېرې کليوالي سيمه کې له دې فاني نړۍ څخه سترگې پټې کړې او ددارالبقاء په لور وکوچيد. انا لله وانا اليه راجعون!

د مرحوم ملا صاحب ژوند او مبارزه گڼ اړخونه لري، انفرادي او اجتماعي ژوند يې ډېرې ځانگړتياوې او بيل بيل فصلونه لري چې ذکر کول يې ددې ليکنې تر وس لوړه خبره ده، خو دلته دې يوه ټکي ته تم کيږوچې دملا صاحب مبارزې موږ ته څه راکړل؟

دملا صاحب مبارزې موږ ته په عملي توگه داسلافو لار روښانه او اسانه کړه، دملا صاحب واکمنی، تولنيز چلند، طرز فکر او طرز العمل دخير القرون يادونه راتازه کړل. داخبره ډېره مشهوره وه چې ديندراه سړی سياست نشي کولای، ځکه سياست کې چل، درواغ او ظلم وي، خو ملا صاحب په عملي سياست سره دغه غلط مشهور پر بل مخ واړاوه، سياست يې وکړ، خو دسياست اساسي ستنې يې عدالت، ديانت او صداقت وو.

ملا صاحب دامت يو هېر شوی سنت(اسلامي امارت) راژوندی کړ، اسلامي واکمني يا اسلامي نظام هغه لوی ارزښت دی چې د الله دين پکې حاکميت مومي او دين د ټولو چارو اصلي مصدر او منبع گڼل کيږي. د ملا صاحب د واکمنی په ليدو دنړۍ ډېرو ديني پوهانو اعتراف وکړ چې موږ خو اسلامي نظام په نظري ډول ليدلی و(کتابونو کې مو لوستی و) خو په عملي ميدان کې مو اسلامي نظام نه و ليدلی او لله الحمد همدا دی افغانستان کې مو اسلامي نظام په عملي توگه هم وليد!!

دملا صاحب مبارزې موږ ته دا راوښوول چې هر څه مو بايد دديني لارښوونو په رڼا کې وي،دين مو بايد پر هر څه لوړ وي، سياست، تجارت،معاشرتي چارې او د ژوندانه په ټولو انفرادي او اجتماعي چارو کې مو بايد دين دخيل وي او(ان الحکم الا لله) الهي ارشاد مو بايد دلارې بل مشال وي.

سيکولر مشربه او کمونست فکره پرديپالو په پرله پسې ډول ويل چې د ټولنې ديندراه طبقه سياست نشي کولای، ددوی دفعاليت ساحه يوازې مسجد دی او په مسجد کې به ملا يوازې دعباداتو په باره کې خبرې کوي، ملا ته بې معاملاتو کې هم د څه ويلو حق نه ورکاوه، دې دينه طبقې دې خبرو ځينې ديندراه خلک هم اغيزمن کړي وو،آن تراوسه هم ځينې داسې فکر کوي چې دين او سياست نشي يو ځای کيدای. مگر د ملا محمد عمر مجاهد سياست عملا ثابته کړه چې ديندراه طبقه داسې سياست کولای شي، چې خپل او پردي به ورته گوته په غاښ شي، په ډېرو سختو او کړکيچنو حالاتو کې د گاوند، سيمې او نړۍ سره دمتقابل احترام پر بنسټ ولاړ داسې ډيپلوماتيک تعامل کولای شي چې هم بې خپلې ديني او ملي گټې ساتلې وي او هم مقابل جهت ته دقناعت وړ وي.

دملاصاحب مبارزې ثابته کړه چې ملا دمسجدپر امامت سربېره کولای شي په دفتر کې يو فعال ډيپلومات، په سنگر کې تکړه قوماندان، پر منبر اورژبی واعظ، په ادب او ژورناليزم کې نوميالی ليکوال، شاعر او نطاق، په معاملاتو کې يو منصف تجار او ددين، هيواد او خلکو يو سرسپارلی خادم او ساتونکی هم شي.

طارق بدر

يو اوسپنيز سړی

شل کاله وړاندې دا خوب و، چې د ټکنالوژۍ په نيلي سپاره کفار او د هغوی ملګري به مو پر موټر سيکل سپور ځوان له پښو غورځوي، د نړۍ په سطحه به يې شرموي او ان هغه ځوک چې کفر يې د ورکېدو او يا تسلمېدو اعلان وکړ، د دې ور کېږي چې د روغې جوړې او ځان ايستو لپاره به زارۍ کوي، پر يوه مېز به کېني او همدا د موټر سايکل ځوان به نړۍ په سياسي ستيج لوی او مهم سيال بولي!

خو يو ځوک و، چې نه يې ايمان د پاټکونو انساني سپيو ولړزاوه، نه د بې دوه پنځوس کلستر بمونو متزلزل کړ او نه يې د نړۍ په سطحه د خدايي د دعوه دار د اخطار پروا درلوده، دا سړی اوسپنيز سړی، چې هر رګ يې له ايماني جوشه ډک او ټول بدن يې د تقوا ژوندۍ نمونه و، دا سړی زموږ د سر سړی امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله و!

دا سړی د شريعت مجدد و، دې سړي وېشلی افغانستان سره يو، له پټه لوېدلی افغانستان پټمن او د پاټک پر سر ولاړ سپي يې پر انسانانو بدل کړل، په تش لاس، په تشه اوږه خو له ايماني عظمته ډکې سينې سره!

پر موږ دا پرېښته سړی ځکه واکمن شو، چې ګناوې مو د پاټکونو په جمپونو کې توی شوې، خو کله چې مو د دې ستر نعمت کفران وکړ، نو الله جل جلاله را باندې سلامت کفر مسلط کړ، خو بيا هم همدا سړی، غر سړی او د ايمان مظهر سړی د دې کفر پر وړاندې ودريد، کورنۍ، ژوند، دولت، اولادونه او هر څه يې د الله جل جلاله لپاره قربان کړل!

شل کاله وړاندې يې وويل، چې د کفر سرلاري د خبرو له لارې مسئله حل کول نه غواړي، خو داسې وخت به راشي چې دوی به د خبرو زارۍ کوي، دا هود، دا عزم او دا باور يې هغه وخت درلود چې دلته ګڼ سرونه د روشنفکرۍ له دعوې سره سره د کفر پر بوټونو پر سجدو و!

دی باوري و، ځکه داسې لار يې نيولې وه چې نېغه خدای ته تللې، داسې ځوانان يې پرې وروزل چې ان تر ځان يې بمونه تاو کړل، خپل هډونه يې ذره ذره کړل، خپل ارمانونه يې لولپه کړل او خپلې دنګې ځوانۍ د موټر بمونو په لوخړو کې خدای ته نذرانه کړې، چې د کفر پښې يې ورپرېدولې!

عمر پر افغان ملت د الله جل جلاله د لويې مهربانۍ په زړه پورې نمونه، چې تکرار يې بيا زموږ توبو ته اړتيا لري، چې له ګناهونو پاک شو، ايله به د عمري لارويانو د حکمرانۍ لايق شو!

رب العلمين دې پر امير المؤمنين رحم وکړي، جنت الفردوس يې نصيب او لارويان دې يې پر نېغه لار سره واحد ولري! آمين

د مرحوم امیر المؤمنین

د اووم تلین په ویاړ

د اسلام مقدس دین دیوه جهاني دین په حیث ژوندی دی ،د هر ډول خنډونو،خطراتو او تهدیدونو سره د مقابلې لپاره یې الله تعالی دوه انتظامات کړي دي.

(۱)د دین په هر باب کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوي تعلیمات دهر بدلون او دهرې زمانې د مشکلاتوسره په اسانۍ مقابله کوي.

(۲) الله تعالی په دغه دین کې داسې اشخاص پیدا کوي چې نبوي تعلیمات یې ټول په عمل کې راوستي وي ، او په ټولنه کې د خیرولو هڅه کوي ،او په کوم وخت کې چې دکوم حکم انحطاط را منځته سي، د هغه عروج ته اړتیا وي نو داسې اشخاص یې په خپل متین عزم او لوړه حوصله په ټولنه کې د هغه احیاء،اصلاح او تجدید کوي ،دغه خلک مجددین بلل کیږي.

د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ژوند او کارنامو ته که وګورو نو هم دا فیصله کولای سو چې د یوشتمې پیړۍ د جهاد مجدد و.

دا ځکه چې له روسي تاړاکه وروسته د افغانستان پر سر زمین یو داسې خونړی انقلاب را منځته سو چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې هر چا خپله زبرځواکي چلوله ، د بې وزله او مظلومو مسلمانانو زورول یې مهمه دنده وه ،انسان وژنه ،ناحق ظلمونه ،د مالونو لوټول عادي کارونه بلل کېدل ،قاتل به هم خبر نه و چې پرڅه یې وژنم او مقتول ته به هم دا نه وه معلومه چې زه ولې وژل کېږم،

لنډه دا چې د خدای پاک دین پلورل سوی و.

دا په داسې وخت کې چې په هیواد کې ښه نامتو عالمانو،د قومونو مخورو او د تېر انقلاب زړو مجاهدینو هم وجود درلود.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله دیوې ځتیتې حجرې طالب العلم و،هغه ددغو ظلمونو په خلاف قیام وکړ او د مظلومو مسلمانانو د دفاع په خاطر یې د ظالمانو پر خلاف جهاد اعلان کړ،له دې قیامه وروسته مخلصو ،باهمته او با احساسه مؤمنانو ته د ملاتړ او پاڅون لار پرانستل سوه، دا عمري جهادي یون پر

مخ وخوځېد او د مظلومو مؤمنانو لپاره سپر جوړ سو، دظلم او استبداد زنځيرونه يې پرې کړل،

په خپل ټينګ عزم او لوړه حوصله يې د مسلمانانو زړونه کوښېر کړل، له څه مودې وروسته يې نړۍ ته داسلامي حکومت داسې نمونه وړاندې کړه چې که چيري يو لادينه او لامذهبه سړي له مسلمانانو دا پوښتنه کړي وای چې تاسو داسلامي نظام يوه بېلګه وړاندې کولای سئ؟

نو د نړۍ هر مسلمان په ډاډه زړه دا ځواب ويلای سو چې هوکې د افغانستان پر سرزمين چې کوم حکومت دی همدا داسلامي نظام يوه بېلګه ده.

خو نړيوالو کفري طاقتونو دا نه سوه زغملای چې يو داسې اسلامي حکومت دې اوس هم د ځمکې پر مخ تل پاتې وي او نو ددې نظام د ړنګولو لپاره يې بېلابېلې دسيسې لټولې او دورکولو په هڅه کې وو چې بالآخر يې په ۲۰۰۱ ميلادي کال کې امريکې او نړيوالو کفري ځواکونو پر دې اسلامي حکومت يرغل وکړ.

لا هم دغه غيور شازلمی دې سترو قوتونو ته اېل نه سو او بيا يې هم ددغه غربي ښکيلاک پر وړاندې جهاد اعلان کړ، همدا مقدس جهاد له يوه اوږده مقاومته وروسته د فتحې تر درشله رارسېدلی او د مرحوم امير ارمانونه د تحقق موندلو په حال کې دي، نن که مو دا ستره څېره له سترګو پنهانه ده خو فکر او کارنامې يې ژوندۍ پاتې دي، ديو کس نه بلکې د يو امت په څېر زموږ تر منځ ژوند کوي او او له سلګونه کلو وروسته به هم د ملا محمد عمر مجاهدرحمه الله تعالی نوم او کارنامې يادېږي، ويده او خوبوړو ضميرو ته به د خپلواکۍ درس ورکوي، نسلونه نسلونه به راپاروي او د جهاد روحيه به ورکوي.

تر قرنونو به يادېږي هر مؤمن به پرې نازېږي
مجاهد محمدعمر به مو تل زړونو کې اوسېږي

د زړونو امام او د خپلواکۍ سالار

لیکوال: عطاءالله مبارز

د بشر په تاریخ کې ډېرو ځواکمنو انسانانو د خپلو جرارو لښکرو په مرسته ډېر ښارونه ړنګ کړي، په سلګونو زره انسانان یې وژلي او بې شمېره نور یې غلامان کړي دي؛ خو د انسانانو په زړونو یې واکمني نه ده کړې، بلکې له څو ورځې ظاهري راج او دبدبې وروسته یې دا هرڅه له لاسه ورکړي او تاریخ راتلونکو نسلونو ته د ظالمانو او منفورو شخصیتونو په توګه ساتلي.

ځینې نور بیا داسې تېر شوي، چې هیڅ راز مادي او افرادي قوت یې نه درلود؛ خو د ویرې او ترهې ځپرولو پرګنو ته بې خلکو ته مینه ورکړې او د ظلم پرځای یې د عدالت پاکه او سپېڅلې لمن نیولې، همدې کسانو د انسانانو په زړونو تر ډېره وخته واکمني کړې ده او تاریخ راتلونکو نسلونو ته د غوره انسانانو په توګه معرفي کړي دي.

کټ مټ همدغسې نږدې دري لسیزې وړاندې، چې کله د مېړنیو افغانانو له بې ساري قربانیو وروسته سرو لښکرو ماتې وخوړه، ډېرو ځواکمنو انسانانو د زور او ظلم له لارې واک او اقتدار ته د رسیدو ناکامې تجربې وکړې او خپلو شیطاني غوښتنو ته د رسیدو په پار یې شوروي تاړاک ځپلی ولس نور هم وځاپه؛ خو له دې پرته چې تاریخ یې د ظالم په نامه ثبت کړي، نوره هیڅ ګټه ونه کړه.

له بلې خوا د ځینې حجرې یو بې نومه او بې ځواکه طالب العلم، چې د ظلم په وړاندې یې قیام وکړ، ولس ته یې د وحشت پرځای مینه راوړه، ټولنه یې د جګړې پر ځای له یو مثالي امنیت څخه برخمنه کړه او نړۍ ته یې د اسلامي نظام عملي نمونه وړاندې کړه، تاریخ د زړونو د امام په نامه ثبت کړ او د امیر المؤمنین ستر لقب یې وګاټه.

خو اسلام سره د ژورې او نه ختمېدونکې دښمنۍ له امله کفري نړۍ دا نشوای زغملی، چې د نړۍ په یوه برخه دې ربښتینی اسلامي نظام پلی وي؛ نو ددې نظام ړنګولو ته متې راونغاړلې او په دې لاره کې یې ډول ډول پلمې ولټولې، چې بالآخره ۲۰۰۱م کال کې د امریکا په مشرۍ کفري نړۍ پر افغانستان یرغل وکړ او د اسلامي امارت له عدالت او امنیت ډک نظام یې نسکور کړ.

بیا هم د زړونو امام امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد ددې ستر کفري ځواک پرړاندې تسلیم نه شو، بلکې ددغه ښکیلاک پر ضد یې د جهاد او مبارزې اعلان وکړ او همدا سخته مبارزه یې له اوږدې مودې وروسته په خورا تدبیر او متانت د بریا او فتحې تر درشله ورسوله. نن که څه هم دا ستر شخصیت له سترګو پنا دی؛ خو کارنامې او شاهکارونه یې ژوندي دي او سلګونه کلونه وروسته به هم راتلونکو نسلونو ته د ازادۍ او خپلواکۍ درس ورکوي او په دې لار کې به هغوی ته الګو وي، رحمه الله تعالی!

خو کاش! نن دا مرحوم امام او د خپلواکۍ سالار ژوندی وای، چې په خپلو سترګو یې د ازدۍ لپاره د پیل کړي غورځنګ په لاسو د ماتې شوې مغرورې نړۍ وروستۍ ترپکې هم لیدلې وای او د ګران هیواد د ازادۍ ناوې ته یې په خپلو لاسونو د خپلواکۍ شال وربه سر کړای وای!

لـه مغـروري نـړۍ جـوړه ده سـوالګره
خپلـواکي مـو تړېنـه واخیسـته پـه نـره
اې تـر تـورو خـاورو لانـدې قلنـدره
ســر راپورتــه کــړه ملامحمــد عمــره

ټکور

ملا محمد یونس اخندزاده:

اسلامي امارت د هیواد بیاجوړولو او پرمختګ ته کلک تعهد لري

درنو لوستونکو!

په رسنیو کې ډېر تبلیغات کیږي چې د اسلامي امارت تر واک لاندې سیمو کې د بیا رغونې او د هیواد د ابادۍ لپاره هیڅ فعالیت شتون نه لري. په داسې حال کې د اسلامي امارت تر تسلط لاندې سیمو کې د بیا رغونې کارونه، د معارف، صحت، زراعت او نورو برخو کې رفاهي فعالیتونه په پوره قوت سره جریان لري. د همدې فعالیتونو د څرنګوالي او څومره والي په اړه مو د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د مؤسساتو او شرکتونو د کنترول او تنظیم د کمیسیون له مشر محترم ملا محمد یونس اخندزاده سره مرکه کړې چې ستاسو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه

محترم اخند زاده صاحب له هر څه وړاندې درته هرکلی وایو. په دې هیله چې روغ جوړ او موفق به یاست، که لومړی زموږ لوستونکو ته ځان مختصرا ورمعرفي کړئ، مهرباني به مو وي.

ځواب

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم. اما بعد: السلام علیکم ورحمة وبرکاته

تاسو ته هم ښه راغلاست وایم، الله تعالی مو موفق لره. زما نوم ملا محمد یونس اخندزاده دی د کندهار ولایت اوسیدونکی یم، د اسلامي امارت د تأسیس له وخته په دې اسلامي او جهادي صف کې خدمت کوم، په وروستیو کلونو کې مې د زابل ولایت د نظامي مسؤل، د بندیانو د کمیسیون د مسؤل او د نظامي کمیسیون د ختیځې حوزې د مسؤل په حیث دندې اجراء کړې دي او فی الحال د مؤسساتو او شرکتونو د کنترول او تنظیم د کمیسیون د مسؤل په حیث خدمت کوم.

پوښتنه

د مؤسساتو او شرکتونو د تنظیم کمیسیون په اړه که معلومات راکړئ، دا کمیسیون کوم کارونه ترسره کوي؟

ځواب

د دې کمیسیون له جوړولو څخه د اسلامي امارت اهداف دوه شیان دي. دا چې په افغانستان کې ګڼ شمیر مؤسسات، این جي او ګانې او شرکتونه فعالیت لري، اسلامي امارت غواړي د دې مؤسساتو له امکاناتو څخه په هیواد کې د واقعي بیا رغونې لپاره مثبته استفاده وکړي. هغوی ته د فعالیت زمینه سازي وکړي، که امنیت ته ضرورت لري امنیتي ماحول ورته آماده کړي تر څو د بیا رغونې، روغتیا او بشري مرستو په برخو کې ولس او هیواد ته نفع ورسیږي. دغه راز څرنګه چې ځینې مؤسساتو مضر-اهداف هم لري نو زموږ بل هدف دا دی چې د مؤسساتو او این جي او ګانو د فعالیت له احتمالي اضرارو څخه خپل

ولس وساتو او په همیشني مراقبت، کنټرول او تنظیم سره د هغوی د زیان لرونکو فعالیتونو مخه ونیسو.

پوښتنه

د دښمن رسنۍ په اسلامي امارت تور لګوي چې اسلامي امارت د هیواد د بیا رغونې او تعمیراتي فعالیتونو په وړاندې خنډ دی، د هیواد د بیا رغونې مخنیوی کوي، حتی داسې تورونه هم لګیږي چې مجاهدین مکتبونه سوځوي، پُلونه تخریبوي او کلینکونه له منځه وړي. په دې اړه ستاسو څه وایاست؟

ځواب

یو د مغرضو رسنیو بې اساسه تبلیغات دي او یو واقعیتونه دي. زه د اسلامي امارت د تأسیس له وخته په دې صف کې خدمت کوم. اسلامي امارت هم د خپلې واکمنۍ پر وخت د هیواد بیا جوړلو او پرمختګ ته کلک تعهد درلود او هم یې اوس لري. د اسلامي امارت د بشپړې واکمنۍ په وخت کې له نړیوالو بندیزونو او ناوړه اقتصادي حالت سره سره د بیا رغونې کارونو جریان درلود. په ښارونو کې اکثره پخوانۍ فابریکې او د بریښنا د تولید مراکز فعال شول. دولتي ودانۍ تعمیر او ترمیم شوې، د تاپي پروژه دغه راز د مخابراتو په برخه کې انکشافي پروژې تر کار لاندې وې خو نړیوالو بندیزونو یې مخنیوی کاوه. طالبان داسې نه و لکه اوسني چارواکي چې ملي سرمایې غلا کوي او په خارج کې یې په بانکونو کې جمع کوي. له طالبانو سره د خپل ځان او خپلې سرمایې فکر نه و بلکې چې څه یې درلودل هغه یې په همدې مسلمان ولس او وطن مصرفول.

اوس هم سره له دې چې جنګي شرائط دي، د اسلامي امارت مجاهدین له تیرو اتلسو کلونو را پدیخوا له پراخ یرغل سره په جهاد بوخت دي، خو له دې سره سره د امکان تر حده د هیواد بیا ودانولو ته پوره توجه لري او خپل وس نه سپموي.

پوښتنه

تاسو وایاست چې د اسلامي امارت تر واک لاندې ساحه کې د بیا رغونې لویې پروژې تر کار لاندې دي، کړه د دې فعالیتونو په اړه معلومات راسره شریک کړئ؟

ځواب

د ټولو هغو پروژو او تعمیراتي کارونو تفصیل خو بیخي زیات دی چې په تیرو کلونو کې شوي دي. خو زه به فقط د نمونې لپاره د تیر یوه کال ځیني ارقام او مختصر معلومات درسره شریک کړم.

د تېر کال په لومړیو دریو میاشتو کې دلویدیځې حوزې طرف ته په ټولو (۱۵) ولایتونو کې درې سوه نهه پنځوس (۳۵۹) د ودانیزو قراردادونو اجازه لیکونه صادر شوي چې په لاندې ډول یې یادونه کولای شو: (۹۵) مکتبونو،(۵۶) داوبو دذخیرو،(۳۹) دسړکونو د جوړولو، (۳۶) داستنادي دیوالونو، (۳۲) د کانالونو، (۴) د کلینکونو، (۲) د سربندونو (۱)دماین پاکو پروژې د ترسره کولو لپاره صادرشوي.

همداراز د خوراکي او غیر خوراکي توکیو د توزیع، برقي شبکو، تشنابونو، د آب رسانۍ شبکو او کشمش خانو د جوړولو ګنې پروژې هم عملي شوي دي.

د کابل په دوهمه ربع (درې میاشتو) کې د هیواد په ټولو ولایتونو کې مجموعا اووه سوه نهه (۷۰۹) د ودانیزو پروژو او مرستو د رسد اجازه لیکونه صادر شوي دي چې په لاندې ډول یې یادونه کولای شو: (۳) د مسجدونو د جوړولو، (۱۶) داوبو د ذخیرو، (۳۵) د سړکونو دجغل اندازي ، (۳۶) داستنادي دیوالونو، (۵۹) د کانالونو (۷) د ماین پاکۍ (۲۰۳) د مکتبونو د جوړولو او ترمیم، (۵) د کلینکونو(۶) د مخابراتي شبکو د انتنونو نصبولو لپاره ورکول شوي.

همداراز درې سوه اته دیرش(۳۳۸) اجازه لیکونه د زرګونو ټنه خوراکي او غیر خوراکي توکیو د انتقالاتو، برقي

شبکو، تشنابونو، د اب رسانۍ شبکو، څاهانو او کشمش خانو لپاره صادر شوي او کارونه يې د کميسيون له اصولو سره سم مخته تللي او يا روان دي.

د تېر کال په دريمه ربع (درې مياشتو) کې د اسلامي امارت لخوا د هيواد په ټولو ولايتونو کې مجموعا څلور سوه اته پنځوس (۴۵۸) د قراردادونو او انتقالاتو اجازه ليکونه صادر شوي دي چې په لاندې دول يې يادونه کولای شو: (۱) د مسجد د جوړولو، (۱۸) داوبو د ذخيرو، (۳۸) دجغل اندازي د سړکانو، (۳۴) داستنادي ديوالونو، (۳۵) د کانالونو (۷) د ماين پاکۍ (۴۲) د مکتبونو د جوړولو او ترميم، (۲) د کلينکونو (۵) د پلونو (۳۰) د څاهانو او (۱) د مخابراتي شبکو د انتن نصبولو لپاره صادر شوي دي.

همداراز دوه سوه پنځه څلويښت (۲۴۵) اجازه ليکونه د زرګونو ټنه خوراکي او غير خوراکي توکيو د انتقالاتو، سولري برق، تشنابونو، د اب رسانۍ شبکو او کشمش خانو لپاره صادر شوي او کارونه يې د کميسيون له اصولو سره سم پرمخ روان دي.

پوښتنه

تاسو چې کوم ارقام ياد کړل، واقعا لوی ارقام دي او ولس ته د هيواد د آبادۍ زيری ورکوي، که لطفا د ځينو مهمو يا لويو ودانيزو قراردادونو په اړه هم معلومات ورکړئ.

ځواب

همدا اوس د اسلامي امارت تر واک لاندې ساحه کې د بيا ودانولو ځينې لويې پروژې جريان لري چې ځينې نمونې يې دا دي.

الف: د فارياب ولايت پښتونکوټ ولسوالۍ اړوند د دهن درې بند د جوړولو کار چې په ۱۴۴۱/۷/۴هـق نېټه پيل او په ۱۴۴۴/۷/۴هـق نېټه به بشپړيږي.

ب: پکتيا ولايت احمد ابا ولسوالۍ اړوند د مچلغو د بند جوړولو د لومړۍ برخې (پاز) کار چې ۱۴۴۱/۴/۱هـق، نېټه پيل او په ۱۴۴۲/۴/۱هـق نېټه به بشپړيږي.

ج: د پکتيا ولايت احمد ابا ولسوالۍ اړوند د مچلغو د بند جوړولو د دوهمې برخې (پاز) کار چې په ۱۴۴۱/۷/۱۰هـق، نېټه پيل او په ۱۴۴۳/۷/۱۰هق نېټه به بشپړيږي.

د: د بادغيس ولايت قادس ولسوالۍ اړوند د قادر اباد کلي د آب ګردان د بند د اول پاز (برخې) د جوړولو کار چې په ۱۴۴۱/۷/۱۷هـق، پيل او په ۱۴۴۳/۱/۱۷هق نېټه به بشپړيږي.

هـ: د (کابل- کندهار د لويې لارې دوهمې برخې (۴۰) کلومتره ترميم چې له سيداباد ولسوالۍ څخه د غزني تر دروازې) رسېدو جوړولو قرارداد شوی دی کار به يې په نژدې وخت کې شروع شي ان شآء الله تعالی.

و: په تخار ولايت خواجه غار ولسوالۍ کې تر دشت قلعه پورې د (۱۷) کلومتره سړک جوړولو قرارداد.

ز: د تخار له کوکچې رود څخه تر ارچې پورې د لويې ويالې جوړولو قرارداد شوی دی چې کار يې تر نيمايي زيات شوی دی.

داسې نوري هم ډېرې سترې پروژې ترسره شوي او يا تر کار لاندې دي.

پوښتنه

مننه، جزاکم الله خيرا... واقعا لوی کارونه ترسره شوي او لا هم جريان لري، خو محترم اخندزاده صاحب کله کله په رسنيو کې داسې خبرونه اورو چې د اسلامي امارت تر واک لاندې ساحه کې نامعلوم اشخاص مکتبونه سوځي يا نورو عام المنفعه تأسيساتو ته زيان رسوي. که په دې اړه معلومات راکړئ؟

ځواب

اسلامي امارت په خپلو اصولو کې له هيڅ عام المنفعه فعاليت سره مخالفت نه لري، دا موقف يې نه يوازې رسما اعلان کړی، بلکې عملا يې هم ثابته کړې چې د هيواد د تخريب لپاره نه بلکې د هيواد د تعمير په هڅه کې دی.

البته دښمن تل هڅه کوي چې د ولس د ذهنيت خرابولو لپاره داسې مرموز تخريبي فعاليتونه ترسره کړي او بيا يې ملامتيا په مجاهدينو واچوي. همدا څو ورځې وړاندې به تاسو خبر شوي ياست چې د دښمن استخباراتي کسانو د بادغيس ولايت په مرغاب ولسوالۍ کې هغه لوی پُل تخريب کړ چې د افغانستان پر حلقوي سړک واقع دی. دښمن د دې کار پړه په مجاهدينو واچوله، حال دا چې اسلامي امارت همدا اوس په بادغيس کې د حلقوي سړک د ترميم او جوړولو پروګرام تر کار لاندې لري. نو دښمن هڅه کوي د داسې تخريبي اعمالو په سرته رسولو سره مجاهدين بدنام کړي.

پوښتنه

دې ورځو کې په نړۍ او افغانستان کې د کرونا په نوم يو نوی آفت راغلی دی، ځيني خلک په دې مرض مبتلا شوي او نورو ته يې ډېر اقتصادي زيانونه رسولي دي، په دې اړه تر اوسه تاسو له خلکو سره د مرستو لپاره کوم اقدامات کړي دي؟

ځواب

رښتيا هم د کرونا له امله چې بازارونه تړل شوي، د حمل و نقل په چارو کې مشکلات راغلي او د خلکو په کاروبارونو يې بد اثر کړی ورسره د نورې نړۍ غوندې د افغانستان عام خلک هم ډېر متضرر شوي دي. اسلامي امارت د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې هڅه کوي چې په دې سخت وخت کې د خلکو سره مرسته وکړي. لکه څنګه چې د صحت کميسيون لخوا د دې مرض په اړه د عامه پوهاوي بهير جريان لري، موږ هم هڅه کوو خلکو ته مرستې ورسوو.

موږ په ټولو خيريه ټولنو غږ کړی چې اطرافي سيمو ته مرستې ورسوي، موږ به ورسره د امنيت او هره نوعه زمينه سازي په برخه کې بشپړه همکاري وکړو. دغه راز مو د ملل متحد او WFP له چارواکو سره مذاکرات شوي تر څو په هيواد دننه دغه راز په ګاونډيو هيوادونو کې د افغان مهاجرينو لپاره مرستې را جلب کړو.

په همدې مناسبت زموږ غوښتنه له مالدارانو او تجارانو وروڼو څخه هم دا ده چې بايد خپل غريب او بې وسه مسلمانان وروڼه هېر نه کړي. او د خوراکي توکو په شمول د ضرورت وړ موادو همکاري ورسره وکړي.

پای

دافغانستان روانه معضله حل

دکابل اداري له واک پورته ده!

■ خلیل ـ عزیز

نن که په هېواد کې اوربند او یا یې پر سر بحثونه نشته، لامل یې د کابل رژیم لخوا رامنځته شوي موانع دي. کابل رژیم د یوه بشري امر په لار کې په خند اچولو سره د یوې بلې مهمې اړتیا پوره کېدل (یا د هغې پوره کېدو ته ورنږدې کېدل) له خنډ سره مخ کړي دي.

د روان کال د کب د ۱۰مې د هوکړې له مخې باید د توافقنامې تر لاسلیک وروسته د پنځو زرو بندیانو خوشې کېدل پیل شوي وای. د بندیانو د ازادۍ له پیل سره سم به بین الافغاني مذاکرات پیلېدل، چې په هېواد کې د جامع اوربند په اړه خبرې به یې له اولنیو بحثونو څخه وې.

خو له بده مرغه، د بندیانو له بشري موضوع څخه تاروا موخو ته د رسېدو لپاره د کابل اداري سیاسي ګټه اخیستنې دا هر څه معلّق پرېښي دي. داسې نه ده چې د ۵۰۰۰ – بلکې شپږو زرو – بندیانو خلاصون افغانانو او هېواد ته کوم ګواښ متوجه کوي، بلکې دا یوازینی هغه اقدام دی چې په ترسره کېدو سره یې افغانان د سوله ییز ژوند پیلولو خوا ته ورنږدې کیږي.

د بندیانو د خلاصون په لار کې بېلابېلو بهانو او له توافقه بهر تقسیم الاوقاتونو او جدولونو د اوربند په شمول د سولې ټوله پروسه او بین الافغاني تفاهم درولی دی. د زندانیانو د ازادۍ له خنډولو سره هممهاله، امریکا او تر لاس لاندې اداري یې په غیرجنګي سیمو کې د هوایي او ځمکنیو عملیاتو ترسره کولو ته په دوام سره د هوکړې سرغړونو ته هم دوام ورکړی دی.

د توافقنامې له لاسلیک راهیسې تېرې دوې میاشتې تیرې‌یږي، اسلامي امارت د کړې هوکړې هر بند ته ژمن پاتې شوی دی. له خپله اړخه یې په نظامي او سیاسي برخو کې کړې خپلې ټولې ژمنې عملي کړې دي، که توافقنامې ته د ژمن پاتې کېدو غږ کیږي، باید د اسلامي امارت پر مقابلو لورو وشي، ځکه دا امریکا او کابل اداره ده چې له هوکړې سرغړونو ته د دوام ترڅنګ یې یوه بشري موضوع په لوی لاس جنجالي کړې، چې له امله یې د افغانانو د خپلمنځي تفاهم او پر مهمو موضوعاتو د بحث مخه نیول شوې، او ټوله پروسه جام ولاړه ده.

د سولې د پروسې د پرمختګ بهیر د هوکړې د مقابل لورو لخوا په خپلو ژمنو باندې په عمل پورې اړه لري. څومره ژر چې هغوی خپل تعهدات پوره کړي، هغومره ژر به د پرمختګ شاهدان یو.

د رژیم په محبسونو کې

د بندیانو زړه بوږنوونکی وضعیت

شاهد (غزنیوال)

تریوې اوونۍ زیات وخت وشو چې د څرخي پله بندیانو خولې ګنډلې او د محبس د چارواکو د ناوړه چال چلند له امله یې د نه خوړلو اعتصاب کړی.

له څرخي پله زندان څخه د عیني شاهدانو او خبري رسنیو په حواله ویل کیږي چې په یاد محبس کې ډیری بندیان په صعب العلاجه ناروغیو اخته دي او که یې صحي وضعیت ته توجه و نشي احتمال لري د کرونا او نورو ساري ناروغیو له امله په څرخي پله زندان کې بشري ناورین رامنځته شي.

د بندیانو له غذایي اعتصاب سره هم مهاله د اسلامي امارت د بندیانو چارو کمیسیون په څرخي پله زندان کې د خپل یوه تن بندي د مړینې له امله اعلامیه صادره کړې او له سره صلیب او بشري حقونو له نورو مدافعو ټولنو څخه یې غوښتي و چې په دولتي زندانونو کې دي د دوی د بندیانو ژوند ژغورنې ته توجه وکړل شي.

اوس مهال د کابل رژیم تر ولکه لاندې زندانونو کې ۳۵۰۰۰ بندیان د ژوند په ترټولو بدو شرائطو کې ساتل کیږي.

په یادو بندیانو کې پرسیاسي هغو برسیره جنایي او د نشه یي توکو په کاروبار تورن بندیان هم شتون لري.

دا لومړی ځل نه دی چې د څرخي پله بندیان د محبس د ناوړه شرائطو او دهغه د چارواکو د ناسم چلند له امله په اعتصاب لاس پوري کوي؛ بلکې په تیرو ۱۸ کلونو یې څو ځله د اعتراض په غرض خولې ګنډلې او آن خبره یې د زندان له ساتونکو سره تر وسله وال تاوتریخوالي رسیدلې.

له بندیانو سره د رژیم د چارواکو ناوړه سلوک خپله هغوی هم تائیدوي او په زندانونو کې شته مشکلات د ناسمې اداري او درغلي محصول بولي.

د روان هجري کال د غوایي د میاشتې په دوهمه نیټه د کابل رژیم د زندانونو د چارو تنظیموونکي احمد رشید طوطاخیل د یوې خبري غونډې په ترڅ کې پر دې اعتراف وکړ چې د زندانونو چارواکي د بندیانو په تیره د زندان د بنځینه کارکوونکو په خوړولو او همدا راز بندیانو ته د نشه یي توکو په رسولو کې لاس لري.

دا چې د کابل رژیم اداري او عدلي مؤسسات د شته فساد له امله نیمګړې او له سره تر پایه په فساد کې ډوب دي نو سور صلیب او د بشري حقونو د څار سازمان باید د خپل مهتي او بشري مکلفیت له مخې د بندیانو قانوني غوښتنو ته رسیدګي وکړي او پرې نږدي چې د فاسدو چارواکو د قانوني تخلفاتو ترڅنګ یې کرونا او نور طبیعي آفتونه ژوند وګواښي.

بندیان څوک نه ازادوي؟

بشیرارمان

دقطر په پلازمینه (دوحه) کې دروان ۱۳۹۸ل کال دکب په لسمه نیټه دامریکا اودافغانستان داسلامي امارت ترمنځ داشغال پای ته رسیدوپه موخه دامضاء شوي هوکړه لیک له مخې: دلاسلیک له نیټې څخه لس ورځې وروسته باید شپږزره بندیان له بندڅخه ازاد شوي وی اوبین الافغاني مذاکراتوته زمینه مساعدکړې شوې وی

خوامریکا نه یواځې دبندیانوازادولو له ژمنې څخه تخلف وکړ، بلکې کابل کې دامریکا دلاسپوځي رژیم له لوري په محبسونوکې په بندیانوباندې دظلمونو، وحشتونو، او دهغوی په وهلو، ځورولو او شکنجه کولو کې هم زیاتوالی راوست، چې له امله یې دهیواد په ځوزندانونوکې بندیانو دچارواکو دناسمې رویې څخه په سرټکولو دنه خوړو په اعتصاب لاسونه پورې کړل

دامریکایانو دابهانه چې دبندیانوموضوع په کابل مزدور رژیم پورې اړه لري هیڅکله دمنلو وړنده اونه ومعقوله ده، ځکه هر دشعور اوعقل څښتن پوهیږي چې کابل رژیم پخپلوپریکړو او ارادو کې څومره خپلواک اومستقل دی؟ دیو ادنی امریکایي سره دکابل ولسمشرغني برابر ندی، اونه هغه دامریکا پریکړه اواراده چیلنج کولی شي

هرڅه خبره چې ده پخپله امریکا دبندیانو دازادولو هوډنلري اوپخپله کړې ژمنه باندې په وفا کولو کې رښتینې نده، ولې که وی هرومرو به یې بندیان ازاد کړي وی او بین الافغاني مذاکراتوپیلولوته به یې لارجوړه کړې وی

دسیاسي چارو کارپوهان هم امریکا پخپله کړې ژمنه باندې دنه عمل کولو له امله پړه بولي اوپړې زور راوړې چې هغه باید خامخا دسولې راتلو لپاره صادقانه رول ترسره کړي او دقطرتوافقنامې دروح سره سم دې دبندیانوازادولو ژمنه عملي کړي

ښکاره ده چې دقطر په توافقنامه عمل نه کول ددغې توافقنامې حقوقي جوانب ترپوښتنې لاندې راولي او قانوني اوتاریخي اهمیت ته یې زیان رسوي، نو هرڅومره ژرچې کیدی شي امریکا دې پخپله کړې ژمنه عمل وکړي اوپه زندانونوکې بند طالب بندیان دې خوشې کړي څوهغوی خپلوکورونوته لاړشي اوپخپل هیوادکې په ارامۍ سره ژوند وکړي

بل پلوته دتعجب وړداده چې امریکا له اسلامي امارت څخه داوربندغوښتنه کوي، داپه داسې حال کې چې پخپله امریکا تردې مهاله پخپلو ژمنوولاړه نده پاتې شوې او تخلف یې کړی دی او په دې سربیره خلیل زاد دناټوسازمان په غونډه کې داسلامي امارت څخه داوربندغوښتنه تکراروي

حال داچې همدا خلیل زاد چې دامریکا په استازیتوب یې چې توافقنامه لاسلیک کړې ولې له خپل وجدان اوضمیرڅخه اوولې دټرمپ اوخپل حکومت له چارواکو داغوښتنه نکوي چې په کومه خوله دوی (امریکایان) له طالبانو اوربندغواړي؟ ولې که دوی رښتیا هم اوربند غواړي نوبیا ولې بندیان نه

ازادوي چې بين الافغاني مذاکراتوته لارهواره شي اوپه ترڅ کې يې يوجامع اوربند رامنځته شي

خوپوهيږو چې امريکايان نه غواړي افغانستان کې سوله راشي، دبين الافغاني مذاکراتو له لارې افغان خپلمنځي خبرو او تفاهم ته سره کيني

يولورته امريکا داوربند غوښتنه کوي له طالبانو غواړي چې اوربند دي وکړي بل پلوته افغانستان کې دامريکائي قواوو قومندان مېلرشمال ته سفرکوي جنګي عمليات معاينه کوي، دطالبانو پخلاف روان عمليات څاري، اوپه سيمه کې خپلو قومندنانوته په طالبانو دنويوبريدونوکولوپلانونه ورکوي

داپه داسې حال کې چې طالبان اوس هم پخپل پخواني دريځ ولاړدي چې دوی بين الافغاني مذاکراتوته چمتوالی لري خوددېنه وړاندې دتوافقنامې له مخې دې شپږزره بنديان ازادکړی شي

خو امريکا په داسې وخت دطالبانو غوښتنه له پامه غورځوي چې کرونا وبا په ټوله نړۍ کې خوره شوې ده دانسانانو هيڅ يوځای تري مصؤن ندی په خاصه توګه په زندانونکې پراته بنديان خو تربل هرچا زيات متاثر دي، ځکه هغوی په سلګونوته په يوځای اوسي اويوځای خوړل څکل کوي چې دصحت دنړوالې اداري ډبليوايچ او دلاربښوونوله مخې د دومره انسانانو يوځای اوسيدل ددې خطرلري چې يولوی بشري ناورين رامنځته کړي، همدا نن بي بې سي راپورخپورکړی چې دافغانستان په زندانونوکې ۴۶تنه په کرونا ناروغۍ اخته شوي دي، نوبنديانوستونزه يوه انساني مسئله ده، هيڅکله بايد دا دسياست قرباني نشي اونړيواله ټولنه يې باندپه اړه مسؤليت اداء کړي

نواندېښنه شته چې په زندانوکې پراته بنديان دکرونا وايروس ښکار نشي، چې له امله به يې په محبسونوکې يولوی ناورين رامنځته شي، له دې وجې دامريکا په ګډون دحقوق بشرسازمانونه مسؤليت لري چې ددې متوقع بشري ناورين درامنځته کيدوڅخه وړاندې ټول بنديان ازاد کړي که خدای مکړه بنديانوته هرڅه پېښ شول نوپه ټوله کې مسؤليت به يې دامريکا په غاړه وي اوبيابه ګرانه وي چې امريکا د دروغجنو دلايلو په مټ دابشري جنايت توجيه کړی شي

بل طرف ته داسلامي امارت دا دريځ نهايتي معقول اوپرځای دی چې دبنديانو دازاديدوپرته نه بين الافغاني مذاکراتوپيلولوته درومي اونه دکابل رژيم سره اوربندته غاړه ږدي

خوبريښي چې دامريکا دمنافقت له څيرې ورو، وروپرده پورته کېږي اونړيوالوته څرګندېږي چې امريکا ددیپلوماسۍ په اصولو اومقرراتوهم باورنلري ولې که درلودای يې نوبيا ولې د دوحې توافقنامې له مخې بنديان نه ازادوي دکابل رژيم افغان ولس پيژني اوهم يې نړيوالوته استقلال ښکاره دی چې څومره دی؟ ولسمشري ديوادني امريکائي عسکر په مقابل کې سوڼ نشي کولی پاته لاداچې هغه دي دامريکا دحکومت غوښتنې له پامه وغورځوي، ټوله مسئله دامريکايانوپه لاس کې ده هغوی مخلص ندي اونه غواړي چې افغان ولس دې درښتينې سولې او آرامۍ څښتن شي

ددې لپاره ضروري ده چې داسلامي امارت مشرانوښه څير اومتوجه اووسي اودامريکايانوپه ظاهري وعدو ماعدو دوکه نشي او نه په امريکا باندې قوي باور وکړي دامريکا دوستې او دښمنې دواړه دباوروړنه دي، دوی دي ورباندې نه دوکه کېږي، دمعمول سره سم دي خپلو جهادي سياسي، او فرهنګي فعاليتونو ته دوام ورکړي او دګران هيواد دازادۍ ترلاسه کولو لپاره روانه مبارزه دې نوره ګرندۍ اوغښتلې کړي پای

له کابل حکومته د تېښتو لړۍ زور موندلی !!

الف لام دراني

په ډېرو برخو کې مونږ وینوچې حکومت ځینې شمېرې، پېښې او واقعیتونه له مطبوعاتو څخه پټوي اوله هغوی سره یې نه شریکوي، یوخوداچې دمطبوعاتو او رسنیو اتحادیه (نی) لازمه کړې ده تول هغه راپورونه په نشرته نه سپاري چې دطالبانو بری پکې وي اودهغو په ښه تامیرېږي، بل طرف ته په ډېرو مواردو کې حکومت هم هغه څه مطبوعاتو ته نه ورکوي چې د دوی ضعف اوناتواني ښیي .

خوداچې واقعیتونه باید ځرګند او ولس بایدخبر شي چې په هیواد کې یې څه تیریږي ؟ دغه اصل ته په پام که یوه لیکوال او آزادې رسنۍ ته له یوه لوري معلومات نه ورکول کیږي او حقایق ترې پټوي، په کار ده چې له بل لوري خپل معلومات ترلاسه کړي که څه هم هغه مخالف اومقابل جهت وي، خو چې حقایق وویل او ولس له واقعیتونو نه خبر شي .دغه هدف ته درسېدو په پار مو دیوه داسې حقیقت او واقعیت په راسپړلو قلم راپورته کړی چې حکومت پرې خوله پټه کړې اوپه دې اړه له څه ویلو انکار کوي، او هغه له حکومتي لیکو څخه په براخه پیمانه دبرحاله عسکرو او منسوبینو تېښته اوجلاوالی دی .

په دې اړه دافغانستان اسلامي امارت د دعوت وارشاد، جلب وجذب کمیسیون خبرورکړی چې یوازې دتېرې مارچ په میاشت کې دکابل حکومت (۷۶۰) تنه عسکر او منسوبین دوی ته تسلیم شوي، او یو تفصیلي راپور یې پرې نشر کړی ، په راپور کې دهر تن نوم، دپلارنوم، ولایت، ولسوالی، کلی، رتبه، مسؤلیت، تصویر، دراتلو نېټه ، له ځان سره دراوړې وسلې نوعیت او نور حال په تفصیل سره راوړل شوي همداسې یې که دهرې میاشتې راپور وکتل شي په هره میاشت کې خبره له سوونو څخه اوړي .

په خواله رسنیو کې مو دغه ډول خبرونه بار بار مختـه کیـږي اومـونږ وینـوچې دیـولړ حکـومتي عسکرودتسلیمۍ خبرونه له عکسونو سره خپرېږي،که د دعوت وارشاد د دغه راپور دقت اوکروه والي ته پام وکړو، ښیي چې په دې اړه پورته شمېره دقیقه او واقعیت دی، همداامل دی چې په دې موضوع کې مو په پورته راپور استناد کړی، ځکه چې له دومره تفصیل او وضاحت سره انکار ترې محال کیږي اولمر بیا په دوو ګوتو نه پټیږي.

مهمه داده چې وپوښتل شي ولې له دومره امکاناتو، اوږدمهاله پروګرامونو، اوږدو تشکیلونو، نړیوال ملاتړ، نړیوالو مرستواو دناټو له غوځ ملاتړ سره سره بیاهم دکابل حکومت له ټولو امنیتي اوملکي ارګانونو : ملي اردو، ملي پولیسو، ملي امنیت، ولایتي او مرکزي حکومتي لیکو څخه په درځنو درځنو عسکر اومنسوبین تېښته کوي ؟! او بیا وکتل شي چې چېرته ځي اوله چاسره یوځای کیږي ؟!

دلته به ډېر داسې عوامل او اسباب خامخا وي چې د دغه فضاحت او شرمندګۍ لامل ګرځي، دغه خلک په خپلو ځرګندونو کې په ښکاره وایي چې لومړی خو هلته زمونږ هغه حقوق خوندي نه و چې

حکومت باید مونږ ته زمونږ دخدمت په بدل کې راکړي وای، په میاشتو میاشتو تنخواوې نه ورکول کیږي، اوچې ورکول کیږي دریمه یې هم دوی ته نه رسیږي، وایي : که مونږ ووژل یا زخمي شو زمونږ دبچیانو اوکورونو بیاهیڅ پوښتنه نه کیږي، اوترهغو چې زمونږ له ژوند او صحت څخه استفاده کیږي یوڅه حساب راباندې کیږي، خو بیا وروسته په انسانانو کې هم نه ګڼل کیږو .

دوی وایي له حکومتي لیکو څخه زمونږ دجلاکېدو اصلي سبب دادی چې مونږ تېرایستل شوي یو، له مونږ څخه ډېر رازونه او حقایق پټ ساتل کېدل، مونږ ته ویل کېدل چې طالبان پاکستانیان دي او زمونږ جګړه دخپلواکی او دوطن ساتنې جګړه ده، خو چاپې او تالاشۍ یې راباندې په افغانستان کې دافغانانو په کورونو کولې چې اختیار به هم بیاله مونږ سره نه و، بلکې چې امریکایانو به څه ویل هغسې به کېدل، دلته مو دطالبانو خبره زړونوته ولوېده چې داخو رښتیاهم مونږ غلامان یو اودامریکایانو غلامان!!.

په کومو سیموکې به چې دطالبانو واک و هلته به ډېرامنیت اودهرچا حق خوندي و ، خو مونږ ته به ویل کېدل چې طالبان له یوه سره خلک وژني، ښځې اوماشومان ټول له منځه وړي اویا وهل ټکول ورکوي . زمونږ له لوري به چې کوم عسکر طالبانو ژوندي ونیول اویابه تسلیم شول له هغوی سره به ډېره ښه رویه کېدله اوهیڅ په هیڅه یې نه وژل .

دا چې مونږ به په حکومتي دندو کې وو خپلو سیموته هیڅکله نه شوای تلای چې دطالبانو ترولکې لاندې وې، خو اوس چې راغلي یو دهیڅ خطر احساس نه کوو. مونږ چې له مور اوپلاره مسلمانان یو، په رښتیا هم چې هلته مو یوعمل هم دمسلمانۍ نه و، تردې چې زنا، لواطت او حتی شراب هم څښل کېدل .

هلته چې مونږوکتل یواځې یوڅه و اوهرڅه په همدې یوه خبره راڅرخېدل اوهغه داچې دهرچا داکوښښ و چې هرڅه دځان کړي اوڅومره چې دچا لاس رسیده په هماغومره قوت یې ځانته کش و، په همدې حساب کېده اوهمدې ته کار ویل کېدل .له ولس سره خواخوږي اودمظلوم غږ اورېدل مونه دي لیدلي، بلکې زمونږ دخپلسریو او بې بندباریو څخه خلک ډېر په تنګ وو، خو دلته یې دسر په سترګو وینو چې مجاهدین خپل وس له چانه سپموي .

درشوت اوخیانت خو انتها نه وه، هیڅ یوکار له رشوت ورکولو پرته نه کیږي، که هرڅومره به ستاخپل قانوني حق وي، خو چې ترڅو دې اړونده شخص یاټولې ځانګې ته څه نه وي ورکړي هماغه قانوني حق به دې اجرا نه شي . نه تنها داچې دغه نیمګړتیااوخیانتونه په ښکته طبقه مسؤلینو کې دي، بلکې هغه دسر په خلکو کې هم همدا حال دی .

که پورته څرګندونې په انصاف او د دریمګړي په نظر نقد شي ، څه فکر کوئ چې ترڅومره حده حق اوپه حقیقتونو ولاړې دي ؟!! ایا اوسنۍ افغاني ټولنه په همدغو واقعیتونو ولاړه نه ده ؟!! ایا دا هغه ترخه حقایق او اسباب نه دي چې د تېښتو دغې لړۍ ته یې زور ورکړی ؟؟!

هو! دا هغه لاملونه اوعوامل دي چې له کابل حکومت څخه دعسکرو او امنیتي منسوبینودتېښتې لړۍ رښتونې کوي او ښیي چې مقابل لوری طالبانو دجګړې له مهار سره د دې توانمندي هم موندلې چې حکومتي منسوبین په خپل اعتماد کې واخلي اودحکومت تضعیف اوله پښو لوېدلوته له یوې بلې لارې هم ځانونه ورسوي ، که له حکومتي لیکو څخه دتېښتې دغه لړۍ په همدومره چټکۍ دوام ولري ، لرې نه ده چې دحکومتي ډانچې یوه لویه کتله به جلاکړي او جبران به یې په هیڅ صورت ورته ممکن نه وي .

د دعوت، ارشاد کمېسیون بشیر راپور په الاماره ویب کې وګورئ!

http://shahamat1.com/?p=168939

رمضان

د جهاد او نصرتونو میاشت!

م عبدالله اندړ

روژه او جهاد هغه دوه فریضې دي چې په هغې کې ایثار ، قرباني او فداکاري نغښتې ده، په روژه کې د شهواتو او انساني اغراضو پرېښودلو قرباني وي او په جهاد کې هم د ځانو مال او وینې قرباني وي. دواړه فریضې اخلاص، ایثار او قوي عزم ته ضرورت لري او د کمزورو ارادو خاوندان يې نه شي ترسره کولای!

مګر روژه دومره قوي عبادت ده چې د جهاد لپاره مقدمه او تمهید ګرځېږي او په دې سره د نفسونو تدریب او روزنه کېږي!

خلک جهاد ته تیارول، هغوی ته د قرباني او ایثار، دسختې، لوږې او تندې تمرین ورکول، قوي اراده، عزم وربښل، د نظم او دسپلین درسونه ورښوول ټول د روژې کارونه دي، چې ټول مسلمانان په یو وخت روژه نیولو او ماتولو او د سختې، لوږې او تندې سره د مقاومت مظاهره پکې ځرګندیږي.

په دښمن د بریالیتوب لپاره مسلسل عمل، مقاومت او وخت ته اړتیا ده او دا په روژې سره کېږي کله چې د انسان ستر دښمن شهواتو او انساني اغراضو سره برلاسی او غلبه راشي بیا انسان په خپل دښمن هم برلاسی کېدلای شي.

هر مسلمان باید د روژې په تدریب او اعداد سره دا ټول درسونه زده کړي، په ربښتینولي ، اخلاقو خپل ایمان جوړ کړي بیا نور هغه جهاد ته اماده دي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د روژې او جهاد ترمنځ تړاو ښیي، فرمایي:

«مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِهِ، كَمَثَلِ الصَّائِمِ القَائِمِ، وَتَوَكَّلَ اللَّهُ لِلْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِهِ، بِأَنْ يَتَوَفَّاهُ أَنْ [ص:١٦] يُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، أَوْ يَرْجِعَهُ سَالِمًا مَعَ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ» صحيح البخاري.

د مجاهد مثال د روژه نیونکي په څېر دی چې دائم قائم (په عبادت ولاړ) وي، هغه چې له روژو او صدقې ورکولو څخه نه ستړی کېږي؛ ترهغې چې واپس شي. الله تعالی د مجاهد لپاره ذمه واري کړې چې که د الله تعالی په لاره کې مړ شي نو هغه به یې جنت ته داخل کړي، یا به یې روغ رمټ له اجر او غنیمت سره وګرځوي.

که موږ وګورو د روژې او جهاد مشابهت او مطابقت په حقیقت کې یووالي ځرګندوي. موږ ته حدیث دا روښانه کوي چې روژه د الله تعالی په نزد ستر منزلت لري، دغه راز جهاد هم هغې ته په مرتبه او منزلت کې نژدې دی، د مجاهد مشابهت له دائم روژه دار او عبادت ګزار بنده سره شوی او مشبه به څنګه چې ټولو ته معلومه ده له مشبه څخه ډېره قوي ده، څنګه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یو وخت له کومې غزوې راوګرځېد نو وې فرمایل چې رجعنا من الجهاد الأصغر الی الجهاد الأکبر : موږ د واړه جهاد څخه ستر جهاد ته راوګرځېدو .

کله چې له هغه څخه د ستر جهاد پوښتنه وشوه نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: جهاد النفس.نفس سره جهاد کول دي. نو له نفس سره جهاد له روژې

ښخه پرته په بل داسې عبادت کې چې له هغې ډېر قوي وي، نه کيږي.

مګر کله چې روژه او جهاد دواړه سره ګډ شي نو اجر او ثواب به تاسې پوهيږئ څومره زيات وي، يو وار په رمضان مياشت کې د هر عبادت ثواب څو چنده کيږي، بيا د الله تعالى په لاره کې جهاد له دنيا او ما فيها ښخه غوره دي.

که د مجاهد لپاره د کمزورۍ، ستړيا او مشکل خبره نه وي، روژه دنفس سره جهاد کول دي، نو د مجاهد لپاره دوه جهاده کيږي چې يو دنفس جهاد دی او بل دښمن سره جهاد او د هريو فضيلت په حديثونو کې ذکر شوی.

د ابوسعيد الخدري رضي الله عنه ښخه يو حديث روايت دی: (ما من عبدٍ يصوم يوماً في سبيل الله إلا باعد الله بذلك اليوم عن وجهه النار سبعين خريفاً) هيڅ يو بنده داسې نه دی چې هغه د الله تعالى په لاره کې روژه ونيسي مګر الله تعالى هغه ددې ورځې (له برکته) دده له مخه اور ښخه اويا مني (خزان فصل) لرې کړي.

کله چې مشقت او تکليف زياتيږي، اجر هم ورسره زياتيږي. في سبيل الله ښخه مراد جهاد دی او خزان له ښلورو فصلونو ښخه يو فصل دی ، نو اويا منې (خزانونه) دا معنی چې اويا کاله،

په دې حديث سره ښرګنده شوه چې د جهاد په لاره کې روژه نيول ستر منزلت لري، مګر کله چې په مجاهد باندې ضعف راشي او هغه دښمن سره په جګړه کې وي، نو هغه ته د روژې ماتول غوره دي، ښکه ښو پيغمبر صلى الله عليه وسلم د مکې فتحې پرمهال صحابه و ته د روژې ماتولو امر وکړ، او علت يې دا ذکر کړ: «إنكم مصبحوا عدوكم، والفطر أقوى لكم، فأفطروا». تاسې په سهار کې په دښمن ورتلونکي ياست او ماتول يې ستاسې لپاره ډېره طاقتوره ده، نو روژه ماته کړئ!

ښنګه چې رمضان مياشت د عبادت، روژو او دشپې قيام مياشت ده، دغسې د الله په لاره کې دجهادونو مياشت ده، د مسلمانانو او اسلام د تائيد او تقويې غوره لپاره، پدې کې چې کومې معرکې او جګړې شوې الله تعالى هر وخت د هغوی لپاره يرى ليکلى چې دا ددې مياشتې له ښانګړنو ښخه کيږي، ددې د ستر منزلت له کبله اسلامي امت هم د دې مياشتې سپيښلتيا او مرتبې ته په کتو پر دښمنانو د بري لپاره دا د ډېرو غزواتو او جهادونو لپاره طلايي فرصت او غوره موعد ګرځولی .

په هره پېړۍ کې د مسلمانانو لپاره د فتوحاتو او نصرتونو شاهده ده، دغو معرکه د ټول اسلامي امت د سپيڅلي تاريخ لپاره نوي بابونه پرانيستي دي موږ بايد هغه اسلامي غزوات او جګړې رايادې کړو چې په رمضان کې پېښې شوي او له هغې ښخه درسونه او عبرتونه واخلو.

له همدې وجې موږ ښينې هغه مشهورې پېښې راوړو چې يواځې پدې مياشت کې شوې.

۱- د جمعې په سهار د رمضان په ۱۷مه دويم هجري کال و چې د بدر ستره غزا ترسره شوه،تقريبا ۳۱۶ صحابه کرامو په کمو وسائلو سره نږدې ۱۳۰۰ تنه مشرکينو ته چې بشپړ تياري درلود، ماتې ورکړه. الله تعالى په قرآن کريم کې په "يوم الفرقان" سره ونوموله، پدې د حق او باطل ترمنځ جداوالى راغی او مشرکين ذليله شول، دا د مسلمانانو لپاره په تاريخ کې لومړی هغه بری و چې د اسلامي امت لپاره په مدينه منوره کې د اسلامي حکومت او دولت لپاره اساس وګرځېد، او همدې ښخه دمسلمانانو مشرۍ، جلال، او قوت لوړ شو ، دغه راز دغه وړه او کمزورې ډله د خپل خونديتوب سربېره پر دښمنانو د حملې کولو توان پيدا کړ. مسلمانانو ته الله تعالى شوکت ورکړ او دا يې وروښودله چې الله تعالى دخپل حق دين نصرت کوي، او هغه درښتينو، متقيانو مددګار دی. دښينو علماء په آند دغه پېښه د وحې شروع، دقرآن کريم نزول او د مصطفى صلى الله عليه وسلم د هجرت له پېښو ښخه په اهميت کې کمه نه ده.

۲- په ۸م هجري کال د رمضان په ۲۱م ، دحق او باطل ۲۰کلنې تاريخي معرکې پای ته رسېدو سره د مکې مکرمې فتحه وشوه، کومه چې په جزيرة العرب کې د مشرکينو په ستر شکست، د باطل پای او د حق په غلبې سره پای ته ورسېده. د ملکي، سرداري او زعامت په بنياد ولاړه د کبر واکمنۍ چپه او د اخوت، عدل، مساوات په راتګ سره د مطلق العنان ، ظلم، او د تعصب نظام رنګ وشو...

۳- د هجرت په ۹م کال رمضان د غزوه تبوک پېښې شاهد و، دا هغه وروستۍ غزوه ده چې پېغمبر صلی الله عليه وسلم کړې، لومړی ځل و چې مسلمانان او روميان سره مخ شوه، سره لدې چې غير معمولي جګړه وه، تولې نړۍ په مدينه کې دمسلمانانو په لاس د نوي جوړ شوي دولت قوت او جلال پکې وليد.

۴- د هجرت ۱۳م کال رمضان په ډېر اهميت سره د "بويب "د پېښې شاهد و، ۸زره مسلمانانو د مثنی بن الحارثة په مشرۍ کې له يو لک فارسيانو سره ددوی غښتلي قومندان مهران په قيادت کې و مخامخ شول، مثنی بن الحارثة رضي الله عنه لښکر ته د روژې ماتولو امر وکړ، ترڅو د جنګ کولو ښه توان ولري، د الله تعالی نصرت و چې مسلمانانو وکولای شول چې په ۸ زرو ۹۰ زره فارسيان ووژني، دا د فارس لپاره لومړی شرمناک او تاريخي شکست و.

۵- د هجرت په ۳۵م کال معاوية بن ابي سفيان رضي الله عنه دمنځنۍ سپينې بحيرې ته د "رُوْدَس جزيره" د جنادة بن ابي أمية الأزدي په مشرۍ بحري يوه سريه وليږله چې دا د بحري جګړې پيل و، مسلمانانو له ستونزو او نابلدتيا له رمضان وروسته نه کړه ، د الله تعالی په نصرت فتحه شوه.

۶- دهجرت ۹۱ هـ کال رمضان کې ستر قائد موسی بن نصير د طريف بن مالک په مشرۍ د اندلس استکشاف لپاره غونډ وليږه چې د اندلس نيولو ته لاره هواره کړي، ددې کال روژه کې مسلمانان د اندلس ځنډو ته ورسېدل، ګڼې علاقې او کلاوې يې ونيولې.

۷- د هجرت ۶۳هـ ج کال رمضان له هندي لښکرو سره د "سند" د فتحې شاهد و، هغه چې د محمدبن قاسم په مشرۍ د مسلمانانو په ډېر کم شمېر سره له يوې لويې جګړې وروسته د هندوانو په شکست تمامه شوه او سند د اموي خلافت برخه وګرځېد.

۸- د رمضان ۲۸مه ۹۲يم هجري کال ، ستر قائد طارق بن زياد په مشرۍ ۱۲۰۰ مسلمانانو د اندلس دننه تر يولک هسپانوي پوځ سره اته ورځې مسلسله جګړه وکړه چې دا د مسلمانانو لپاره له عسکري معجزو شمېرل کيږي الله هغوی ته بري ورکړ او د "قوط" جګړه د اندلس د نيولو په بيه تمام شو، چې بيا د ټول اندلس فتحه په ۹۳ هـ کې وشوه مسلمانانو پدې هيواد کې ۸۰۰ سوه کاله داسې حضارتونه او دولتونه درلودل چې د هغې د معارف وړانګو ټول اروپا د جهل له تيارو وويستله او د ژوند او پوهې ساه يې پکې پوه کړه.

۹- د ۲۲۳هـ ج کال د رمضان په مياشت کې د عمورية فتحه شوه ، هغه مهال چې د مسلمانانو لښکرې په آذربايجان کې د پرمختګ حال کې وې ، د روم پاچا "تيوفيل ميخايل " له موقع څخه په استفادې په شاوخوا کې د مسلمانانو ښارونو او کلاګانو نيولو په تکل ووت، هغوی چې کله د "زبطرة" کلا نيوله نو قتل عام يې وکړ، سپين ږيري او ماشومان يې شهيدان کړل او ښځې يې له ځان سره بوتلې، له دې ښځو څخه د يوې له خولې د (واه معتصماه !) فرياد او چيغه ووته، خليفه معتصم بالله ته چې کله خبر ورسېد نو د هغې اواز ته د لبيک ويلو لپاره مسلمانان راټول کړل او بيا يې د روم ښار محاصره کړ، همغه و چې عمورية د رمضان په ۶مه له سختې محاصرې وروسته فتحه شوه.

۱۰- د ۵۸۴ هـ ج رمضان باعزمه مشر صلاح الدين ايوبي د صليبي لښکرو سترې بريا وې درلودې، کله چې دحطين جګړې او د بيت المقدس له فتحې خلاص شو، نو مخه يې هغو کلاګانو او ښارونو ته کړه چې صليبي يرغلګرو اشغال کړي و، همغه و چې ۵۸۳ هـ رمضان کې يې د صور کلابند کړ... پرلپسې جګړو کې

کال تېر شو، د ۵۸۴هـ کال و، د رمضان میاشت په داخلېدو سره څه قومندانانو هغه ته مشوره ورکړه چې پدې میاشت کې باید آرام وکړي، مگر هغه وویل چې : "عمر لنډ دی او د اجل معلومات ته کیږي " د ۵۸۴ رمضان په نیمايي کې يې د صفد کلا ونیوله.

۱۱- د ۶۵۸ هـ ج کال رمضان د یوې لویې تاریخي معرکې شاهد و، هغه معرکه د چنگیز خان لمسي هولاکو په مشرۍ تتاري لښکرو سره وه، له اولې ورځې چې تتاري لښکرې د مسلمانانو هیوادونو ته داخلې شوې وې، مسلمانان له پرلپسې شکست، ذلت او تباهۍ سره مخ وو، له پېړیو راسې چې مسلمانانو د علم کومې ډېوې بلې وې، کومه حضاره موجوده وه ، هغه يې ړنګه کړه، په هرځای کې په مسلمانانو تورتم او وحشت ګډ و، له ۶۱۶هـ څخه تر ۶۵۸ هـ پورې تتاري لښکرو د شکست څکه نه وه کړې، او په ټوله نړۍ يې د حاکمیت خوبونه لیدل، هغوی د ټولو مسلمانانو د خلافت مرکز (بغداد) ته ورسېدل او د مسلمانانو عباسي خلافت يې ړنګ کړ، دوی ته یواځې یوه ګوله د مصر او شام سلطنت نیول پاتې و، په مصر کې د سلطان قطز په مشرۍ(د بحریه ممالیکو) واکمني وه، دغه مهال هغه په شام کې ستر سالار ظاهر بیبرس سره چې په جګړو کې لوی شوی و، ډېر څېرک او زړور و، تر روغې وروسته هغه ته د پوځ قومانده وسپارله.

تتاري لښکرې د مسلمانانو اخیرنی مورچل د له منځه وړلو په تکل د مصر په لورې مخه کړه او د رمضان په ۲۵مه په عین جالوت کې ستره تاریخي معرکه وشوه .دا د مسلمانانو لپاره خونړۍ او فیصله کوونکې جګړه وه، نه یواځې مسلمانانو لپاره بلکې د ټولې نړۍ تاریخي جګړه ګڼل کیږي چې دتاریخ لورې يې بدل کړ.

د اروپا مؤرخین پدې اعتراف کوي چې دغې جګړې نه یواځې مسلمانان د تتار له ورارنوونکي او ویجاړوونکي خطر څخه وژغورل بلکې مسیحي اروپا يې هم وساتله ، که چېرته دوی پرمختګ کړی وای نو په اروپا کې بیا د دوی په مخکې څوک نه و چې د دوی مخه ونیسي.

۱۲- د رمضان په ۱۴مه ۶۶۶ هـ ق کې د صلیبیانو مهم ښار انطاکیه له ۱۷۰ کاله وروسته چې مسلمانانو څخه غصب شوې وه، د سلطان بیبرس په لاس راوګرځول شوه، کله چې تتاري لښکرو حلب ښار محاصره کړ، نو د انطاکیې حاکم په مسلمانانو سخت ظلمونه وکړه او له تتاریانو سره ملګری و، د رمضان په شروع کې محاصره شوه او په ۱۴ بانديې فتحه شوه، مسلمانانو خپل ډېر شمېر زندانیان خلاص کړل او ډېر زیات غنیمتونه يې ونیول، دغه وخت صلیبیانو ته انطاکیه د مرکز (زړه) حثیث درلود.

۱۳- د ۹۲۷هـ ق کال د بلغراد مضبوطه قلعه کومه چې منځني اروپا لپاره دروازه ګڼل کېده فتحه شوه ، هغه وخت چې د بلغراد صلیبي حاکم عثماني سفیر ووژه ، سلطان سلیمان القانوني په انتقام کې خپل مشهور قومندان بیري ورولیږه او دسختې محاصرې وروسته د رمضان په ۲۵مه دښمن وسله وغورځوله، او عثماني څواکونه ورننوتل، په لومړي ځل پکې د جمعې لمونځ اداء شو،

داسلامي تاریخ په اوږدو دا هغه مشهورې پېښې وې چې د رمضان میاشت کې شوي دي، نور واقعات هم شته چې راوړلو سره خبره اوږدیږي، خلاصه دا چې د رمضان مبارکه میاشت کې په دښمنانو د بري او نصرعتونو غوره۸ فرص۲عت دی او هیڅ وخت کې مسلمانانو پکې خپل جهاد درولی نه دی، بلکې الله تعالی ته په رجوع ، تقوی او یواځې پر هغه بروسه او توکل درلودلو سره يې د الله تعالی نصرت مل ګرځولی کومه چې الله تعالی يې وعده کړې: (وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ). الله تعالی به هرو مرو دهغه چا مرسته وکړي چې دهغه مرسته کوي، له شک پرته الله تعالی ډېر زوررور او برلاسی دی.

خپل عملونه مو د لارې مله دي

حفيظ الدين پيرزاده

يارې به وي خو خداى د پاره نشته
ګلان هم ډېر مګر بې خاره نشته

د کرونا پيسې يې هم غلا کړلې
ستا خوف يې زړه کې کردګاره نشته

د غرب ټاميان او ارګبکي جمبوريان
د دوی ادرس له خپله پلاره نشته

چې خر په ونه خېژوي او يارې
توپير يې ډېر زيات له حماره نشسته

دا ستا پر مخ خاپونه چا جوړ کړي
ولسه! لاس کې دې هينداره نشته؟

خپل عملونه مو د لارې مله دي
ګيله له تا څخه سرکاره نشته

خبرې ښې خو نتيجه صفر ده
بې له جهاده بله لاره نشته

که مې دا خپل ورته لاس و نه تړي
حفيظه! ويره له اغياره نشته

احتياط

عقابی جانان

د فتنو وخت دی له فتوې سره احتياط پکار دی
د اسلام هرې مسئلې سره احتياط پکار دی

الله دې نکړي مسلمان راځينې قتل نه شي
هر يوه يز هرې حملې سره احتياط پکار دی

د غنيمت مال مو چې فرض جهاد کې سهوه نکړي
هرې روپۍ، هرې پيسې سره احتياط پکار دی

پام به کوو الفاظِ کفر رانه ونه وېل شي
هرې وينا هرې جملې سره احتياط پکار دی

هر قول او فعل به د اسلام په دائره کې کوو
ورونو د دغې دائرې سره احتياط پکار دی

بايد دوستي او دښمني مو وي د رب لپاره
دغې سپېڅلې عقيدې سره احتياط پکار دی

د تورې زخم به شي جوړ خو د خلې نه جوړېږي
عقابي هرځای کې د خلې سره احتياط پکار دی

"جهادي سرمايه"

حالات مې خان ته را مات کړي دي اتل يم
ترې! ما وېږته خورمه دې مرچل يم

د کبر برج به دې يو يو را نرومه پسې
د کران غازي ملا عمر د پکړی ول يم

د روح غذا د ژوند بقا مې جهادي سرمايه
په مرګي نه مرمه ملګری د اجل يم

په صورت باندې کمزوری يم نازک يم
په ايمان باندې فولاد يمه جَبَل يم

لومړيتوب مې د جهاد په ميدان کوره
د نرتوب جوهر لرم څکه اول يم

اوس به خامخا تاريخ يم درښودلی
د افغان کور يمه زره د "فکرمل" يم

ته درویش د زماني وې

هاشم سادات

اې زمونږ مرحوم رهبره
د خپل وخت ثالث عمره
ته رښتيا کامل ولي وې
ته درويش د زمانې وې
ورځ تر بلي رښتيا کيږي
ستايوه يوه خبره

هغه هم يو زمانه وه
امريکې متې رانغښتې
ډير په قهر گواخيدله
د غرور لباس کې مسته
د هيڅ چا يې نه منله

مقابل کسې ته ولاړ وې
تا ويل خير دی دوي دې راشي
مونږ د دوي زور به معلوم کړو
نور چې هرڅوک ورسره وي
د هغوي زور به معلوم کړو

ستاسره يو څو سري وو
په سرونو يې پيکې وو
هغه هم سوري سوري وو
دنيادارو په نظر کې
داسې ټول ليوني وو
ډير کمزوري وو ناتوان وو
ظاهري اسباب يې نه وو
خو ايمان باندې سمبال وو
حوصلې يې وي بلندې
دوي ټول کفر ته ديوال وو

ته سالار د دې کاروان وې
د ايمان له زور خبر وې
د سبحان له زور خبر وې
په قران دې عقيده وه
د قران له زور خبر وې

چا به ويل دا ليوني دي
چا به ويل له ژوندون تنگ دي
امريکې سره طاقت دی
دوي په شمار يو څو سري دي
د دنيا د دغه خلکو
په جهان باندې نظر وو
ستا قران باندې نظر وو
له هيڅ چا دې ويره نه وه
ستا سبحان باندې نظر وو

اخر هغه وخت هم راغی
امريکه په غرور راغله
ځمکه اسمان يې دې گواه دی
ټول جهان يې دې گواه دی
د جهان لښکرې راغلې
پر افغان لښکرې راغلې
د دنيا د هر يو گوټ نه
د شيطان لښکرې راغلې
ځانونه يې بمبار کړل
ټول کورونه يې بمبار کړل
قيامت خيزه مناظر وو
په هرکور کې جوړ ماتم وو
بس ويرونه جنازې وې
د افغان په خاوره غم وو

خو بس ته لکه زمری وې
ته زمونږ د سر سری وې
ستا بلنده حوصله وه
کلک ايمان باندې ولاړ وې
د نری مقابله کې
په ميدان باندې ولاړ وې

سرې لمبې د انتقام وې
چې ستا زړه کې بليدلې
ستا په زړه کې وو دردونه
د مظلومو مسلمانو

ته سره د خپل ملگرو
دښمنانو ته کمين وې
ته ساتونکی د سنگر وې
ته ساتونکی د پاک دين وې
ته د جگو غرو زمری وې
ته د جگو غرو شاهين وې
عمليات دې عمری وو
فتوحات دې عمری وو
تما به لپې کمرلي پورته
مناجات دې عمری وو

اې زمونږ مرحوم رهبره
د خپل وخت ثالث عمره
ته رښتيا کامل ولي وې
ته درويش د زمانې وې
ورځ تر بلي رښتيا کيږي
ستايوه يوه خبره

لکه ناته رب درکړی
له ازله لوی حکمت وو
تا چې ويلې دوي دې راشي
مونږ د دوي زور به معلوم کړو
نور چې هر څوک ورسره وي
د هغوي زور به معلوم کړو

په غرور چې وو راغلي
نن هغه خلک مات شوي
تيتې سترگې شول نری ته
اې د تورو خاورو لاندې
پروت ملنگه قلندره
اې ملا محمد عمره
سر راپورته کړه رهبره
څه عجيبه نظاره ده
د طالب هسکه شمله ده
ټول جهان ورته حيران دی
په نړی کې تنداره ده

نن د فتحو پسرلی دی
سپين بيرغ هوا کې رپي
او طالب ورته مُسکی دي
په رخسار د خوښی اوښکې
نن د هر افغان بهيږي
دښتې غرونه دي خوشحاله
د اشغال کنده هواريږي
زمونږ د هيلو غوټۍ گل شوې
ارمانونه مو سر کيږي
کاش که ته چرې ژوندی وای
تاليدلی وای په سترگو
ته به څومره وې خوشحاله
يدې ستره خوشحالۍ کې
ته زمونږ په مينځ کې نه يې
يو خوا زيری د بريا دی
بل خوا ستا د فراق غم دی
جنتونه دې نصيب شه
راحتونه دې نصيب شه
ستا مزار ته به درځمه
دغه زيری به در وړمه
په غرور چې وو راغلي
نن هغه خلک مات شوي
تيتې سترگې شول نری ته
په نړی کې تنداره ده
د طالب هسکه شمله ده
د هاشم د زړگي سره
اې زمونږ مرحوم رهبره
د خپل وخت ثالث عمره
ته رښتيا کامل ولي وې
ته درويش د زمانې وې
ورځ تر بلي رښتيا کيږي
ستايوه يوه خبره



کابل اداره

م مبصر

روژه او کرونا دځان لپاره سپر گرزوي!

کابل اداري د ظلم ، وحشت چل ، فریب او په درواغجنو تبلیغاتو کې نړیوال ریکارډ مات کړ دا ۱۹کاله یې له پردیو سره د اولس په سر ، مال او عزت لوبې وکړې سوله او د ښځو حقوق یې هغه دوه وسلې وې یوازې د مخالفینو د ځپلو لپاره یې استعمالولې چې گواکې مونږ د ښځو د حقوقو مدافعین یو او طالبان هیڅ کله د ښځو حقوقو ته ژمن نه دي همدا ډول نړیوالو او هیواد والو ته یې ځانونه د سولې او امن سپین بازان معرفي کول او طالبان د سولې ضد بلل دښځو حقوقو ته ژمنتیا دوي د ارگ ، ورسره د ټولو اداراتو فحاشي بولي او همدا ډول دوي د سولې په اړه خپله اصلي څهره هم هیواد والو ته وښوده چې څه ډول د امریکا او طالبانو د توافقنامې د لاسلیک مخنیوی کوه

زه همېش دا وایم چې له یوه داسې دوښمن سره مو مخ ده نه له دین خبر دی نه له تاریخ خبر ده او نه په قانون پوهیږي که فرضا پوهیږی هم تمسخر او استهزا یې کوی

یوازې تبلیغاتي جگړه او سوچه درواغ وریاتي د دلایلو ثبوتونو او منطقو په نوم دوي اصلاً څه پیژني نه

دا اتلس کاله یې پوچې ادعاوې وکړې خو په اثبات یې نړیوالو ته ونه رسولې

دا اوس دوي هغې توافقنامې ته ژمن نه دي کوم چې باداړانو یې له طالب لوري سره لاسلیک کړې د طالب بندیانو په نه خلاصون دوي غواړي نړیوالو ته داسې وښایې چې گواکې دوي خپل واک دي حالانکې دا هر څه نمایشي او تبلیغاتي بڼه لري غواړي د اولس او نړیوالو په سترگو کې خاورې وشيندي کابل اداري روژه او کرونا دځان لپاره سپر گرزولې

له طالبانو غواړي تر څو د روژې د را رسېدو او کرونا مرض له امله اوربند وکړي

که دوي سره ریښتیا د روژې قدر وي ولې دا اتلس کاله ورته روژه نه یادېده همدوي په اولس هغه ظلمونه وکړل چې له هیوادوالو یې د نجیب او ترکي ظلمونه هېر کړل دا چې اوس د شکست پړاوو ته ورنږدې شول اوس ورته اوربند یاد شو دوي دې په دې وپوهیږي چې اولس موقتي اوربند نه بلکې دایمې اوربند غواړي او دا هغه مهال ممکن ده چې د توافقنامې له مخې پنځه زره بندیان آزاد کړي تر څو د اعتماد جوړوني فضاء قایمه شي

که توافقنامې ته د کابل اداره ژمنتیا نه ښایې او په نړۍ د خپل ځان په رسمیت پېژندلو هڅې کوي نو بیا ولې یې د ترون تائید و کړ ؟ ولې یې په اړه غبرگون ونښود؟ کله به چې زلمي خلیل زاد کابل ته راغی هغه به لا امریکا ته نه وه رسېدلی د ارگ له لوري په اعلامیه خپره شوه او ویندویان به یې په رسنیو کې را ښکاره شول ویل به یې نن خلیلزاد کابل ته په یو رسمي سفر راغلی وه چې له اشرف غني سره یې د مذاکراتو ټول جریان شریک کړ

نن بیا ولې له توافقنامې تیښته کوي هلته د توافقنامې په لومړۍ (ج)

برخه کې په صراحت سره د بنديانو د خلاصون ذکر شوی چې امريکا او متحدين به يې دې ته ژمن پاتې کيږي تر څو بنديان خلاصون ومومي

راځو دې ته چې د ارګ له لوري د بنديانو د خلاصولو څخه هدف څه ده؟ لکه سنګه مو چې مخکې يادونه وکړه چې کابل اداري ته يوازې تبليغات ورپاتې غواړي يو ډول د خپل ځان د بقا لپاره داسې لارې وسنجوي چې له يوې خوا تړون مات کړي او له بل لوري نړی ته داسې وښايې چې طالب په هېواد کې سوله نه غواړي د همدې لپاره يې د خلکو د پام بل لور ته د اړولو او بين الافغاني مذاکراتو د کولو ګرمه فضا د سړولو او بين الافغاني مذاکرات له خلکو څخه د هېرولو لپاره يې د اوربند کولو تبليغات وکړل

دوي وايي چې طالب دې د روژې له امله اوربند وکړي که له دوي څخه پوښتنه وشي چې تاسو روژې ته په درناوي کوم داسې عمل کړی چې هغه مونږ ستاسو سولې ته د ژمنتيا په معنی ومنو تاسو لا اوس هم د اولس په وژنه او ځورونه بوخت ياست

تړون په همدې موخه شوی وه چې له پنځه زره بنديانو خلاصون څخه روسته بين الافغاني مذاکرات وشي خو تاسو او باداران مو لا تر اوسه د بنديانو نه خلاصون ته پلمې لټوی بيا د دې تړون ګټه څه شوه ؟ ولې مو د طالب لوري وخت ضايع کړ ؟

کابل اداره د اوربند کولو لپاره کرونا هم جدي نيولې نو چې دومره د دغه مرض له خپراوي څخه ويره لري دا بنديان يې ولې ساتلي ؟ تړولې نړی د کرونا له امله بنديان آزاد کړه دوي لا هغه بنديان هم نه خلاصوي چې خپله لومړی دوي يې خلاصون منلی څکه دوي هم په يو لحاظ د امريکا له متحدينو شمېرل کيږي

طالبانو خو د توافقنامې ته خپل ژمنتيا ښودلې له تړون څخه را روسته يې د ښهرنيو او کورنيو ځواکو په مراکزو بريدونه کم کړي يوازې په کليو لرې پرتو سيمو کې يې هغه پوستې تر بريدو لاندې نيولي چې اولس يې له جناياتو کړو کولو ته اړ شوي

خلاصه دا چې کابل اداره د خپلې بقا لپاره له هيڅ ډول دسايسو او تبليغاتو دريغ نه کوي دا چې کله روژه او کله کورونا سپر کوي هدف يې هيڅکله دروژې درناوی او دکرونا ناروغی نده بلکې داهسې پلمې دی د ولس ذهن بلې خواته اړول غواړي او ضمنا خپلې نامشروعې واکمنی تهدابونه ټينګول دی.



عابد

کابل ولې خوندي نه دی ؟!

هسې خو هم پرکابل د دیمکراسۍ له واکمنۍ سره دهیواد په ډېرو برخوکې بېلابېلې ناخوالې رامنځته اوترډېره د زورواکو راج اودغلاو داړه حاکمه وه. خو په دې وروستیوکې په کابل کې چې دولسواکۍ! پلازمېنه ده دخلکو امنیت له ډېرو ګواښونو سره مخ دی او هیڅوک هم خپل سراومال خوندي نه بولي .

په عامو مطبوعاتو او خواله رسنیو کې هره ورځ دخلکو دنه خوندیتوب مستندې ویډیوګانې خپرېږي او لیدل کیږي چې وسله وال کسان دهتیو له لوټلو وروسته په نږدې فاصله کې دشوکو مالونه سره ویشي اودهیڅ خطر احساس هم نه کوي، وسله وال دوسلې په زور له بارګینونو موټر باسي او مالکان یې ورته په رنو رنو ګورې خو څه ورته ویلی نه شي،ځکه که څه ووایي نورهم تاواني کیږي او چېرته چې باید فریاد واوري هلته هم همدا وسله وال زور دي، رسیدلی تاوان ورته یو په دوه تمامیږي، صرافان، تجاران او په مجموع کې چې دیوڅه نسبي ژوند څښتنان دي هیڅکله ځان خوندي نه بولي او له هرلوري ورته ګواښ دی، له بل لوري مرموز قتلونه او وژنې یوه بله ننګونه ده چې دکابل اداره یې له اداره کولو عاجزه کړې.

دا دکابل ښار دی هغه سیمه چې له ولایاتو او ولسوالیو ورته په دې هیله کډې راماتې وي چې دلته به یې سراومال خوندي وي، او لااقل له چاپو او بمبارنه خو به خوندي ساتلي وي !! نو چې دکابل ښار له دومره لویو حکومتي تشکیلونو او امنیتي مرکزونو سره سره له دومره بې شمېره ننګونو سره مخ دی او یواځې ددې ښار دخوندیتوب چاره نه شي کولای ° نوسړی به څه فکر کوي چې دولایاتو او اطرافو به څه حال وي او څنګه به یې دوی په اداره کولو او امنیت ټینګولو توانمن وي ؟!!

له خپلې دغې ناتوانۍ سره سره بیاهم دسولې او بین الافغاني مذاکراتو په وړاندې خندونه ایجادول او ددغې کمزورۍ او بې وسې واکمنۍ دغځولو هڅې ترسره کول، یوداسې حماقت دی چې خامخا یې باید بل چاره وکړي او پخپله داصلاح قبلولو امکان یې نه لیدل کیږي .

زموږ دقضیې ټول مبصرین په دې اند دي که خدای مه کړه دسولې اوتفاهم دغه فرصت له لاسه ورکړل شو نو هیڅ شک نه شته چې کابل به دهمدغو زورواکو په لاس وي او کورنیو جګړو ته په یو وار بیا ورګځېدو به مو هیواد بېرته دنویمې لسیزې په ناورین اخته کیږي ، دغه غله او داړه مار له دومره ډېرو پیسو او مادیاتو سره سره چې دا (۱۹) کاله یې په بېلابېلو لارو لاسته کړې بیا هم ماړه نه شول اونه به ماړه شي .

د دوی علاج یواځې او یواځې دطالب قاطع او خواکمن حاکمیت کولای شي اوبس ، ځکه خو په کار ده چې ژرتر ژره بین الافغاني مذاکراتو ته لاره هواره شي او یو رښتونی اسلامي او افغاني نظام قایم شي داسې نظام چې بیا پکې دفساد، زورواکۍ، غصب، ناامنۍ او ناقانونیت هیڅ سوال پیدا نه شي اوټول په ټوله افغان شموله مضبوط او مستحکم حکومت وي .

دجهاد ثمره همداسې وي او ان شاءالله چې دغه ارمان ته موږ ټول افغانان په ګډه رسیدونکي یو. انشاءالله.

م:شمس...منصور

د فکري جګړې!



اصول، اهمیت اوضرورت!

د نن سباپه حالاتوچې کله موږ غورکوو نو وینوچې دنړۍ ټول کفري ځواکونه، یوځواک ګرځیدلي دي، اوله خپلوټولو وسائلو سره یوځای هغوی په مسلمانانوباندې په پوځي اوفکري محاذونوکې حمله راوړې ده،له دې وجې مسلمانانوته ددې علم دومره ضرورت دی څومره چې دخپلې ساتنې او دفاع لپاره یې وسلې ته لري

دفکري اوپوځي جګړې ترمنځ توپیر:

دفکري اوپوځي جګړې ترمنځ له څولحاظه فرق شتون لري لکه:

په پوځي جګړه کې دښمن پیژندل کیږي اومخامخ وي،خوپه فکري جنګ کې دښمن ښکاره اومخامخ نه وي بلکې په پټه حمله کوي

= په پوځي جنګ کې ددښمن اهداف معلوم وي،او فکري جنګ کې اهداف عموماً پټ ساتل کیږي

= په پوځي جنګ کې برید ترکیزپر اجسامو،ودانیو،اوپوځي مرکزونو وي، یعنې ډیریې زیان یې مادي وي اوپه فکري جنګ کې حمله په اذهانو باندې کیږي دخلکوپه زړونوکیږي او دهغوی په اندونو باندې کیږي، نوزیانونه یې هم دیني،اوفکري وي چې وروسته مادي زیانونه هم لري

لنډه داچې فکري جګړه دپوځي جګړې نه زیات تاثیر او اهمیت لري اودمقابل جانب لپاره هم زیاته وژونکې اومهلکه ګرځي

دفکري جګړې تاریخ:

وړاندې موږ وویل چې دفکري جګړې تاریخ هغومره پخوانی دی څومره چې دبشرتاریخ پخوانی دی، یا په بل تعبیر څومره چې دحق اوباطل ترمنځ ټکر اوکشمکش پخوانی دی، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مبعوث شو هغه مهال هم دباطلاپلویانو اولارویانوپخپل ټول علمي اوعملي ځواک کارولوسره هڅه وکړه چې داسلام اوحق رڼاووژني، ددې لپاره هغوی مختلف مذموم کوښښونه اوپلانونه په کارواچول، ددې لپاره یې مستقل مجالس جوړول،څو دحق په وړاندې شکوک وشبهات خواره کړي،دخپلوباطلومعبودانوددفاع لپاره به یې فاسد تاویلات کول، دروغجن پروپاګندېې کاوه، مسلمانانو ته یې طعنې ورکولې، ټوکې ټکالې او استهزاوې یې ورپورې کولې، په ناسمو اورزیله القابو به یې بلل، درسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې عجیبې اوغریبې غوښتنې کولې، مسلمانانوته یې دذهني اوجسماني پلوه اذیتونو رسولو لپاره یې په هغوی کورني او قبایلي فشارونه اچول، دمالونو، اوښایسته نجونو لالچونه یې ورکول ، مسلمانانوسره دعامه پریکون اومعاملاتو څنډولو اودوطن څخه دشړلو په اقداماتو یې هم صرفه نه کوله

خو دهغوی ددې پورته کړنوپه ځواب کې دمسلمانانودفاعي جوابیه یا بیانیه په درې برخوراڅرخېده:

۱= دالله تعالی سره تعلق جوړول۲= دمخلوق خیرخواهي کول ۳= دخپلوځانوعلمي اوعملي تربیت ته پام کول

مدني دور:

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او مسلمانانو مکې نه مدینې منورې ته هجرت وکړ،هغه مهال دکفارو لخوا دفکري جګړې څلور صورتونه رامنځته شول :

۱= په ویناوو او اشعاروکې دمسلمانانوهجواکول

۲= مسلمانانو سره بحثونه اومناظرې کول

۳=منافقانه کړنې سرته رسول

۴= دمسلمانانوجاسوسي یاڅارګرې کول

تاریخ شاهد دی چې مسلمانانوپخپل علمي اوعملي تربیت سره دکفارو داتولې هڅې شنډې کړې اوپه مقابل کې یې بری ترلاسه کړ چې تفصیل راوړل یې خبره اوږدوي

دراشده خلافت په دوره کې فکري ونظریاتي جنګ:

درسول الله صلی الله علیه وسلم درحلت وروسته فکري جنګ نورقوي اوپراخ شو چې په سبب یې ځیني خلک دومره زوورشول چې هغوی ان داسلام نه مرتدشول او دختم نبوت له عقیدې یې انکار وکړ

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دغه مهال دستر ایماني توکل اودقوي استقامت مظاهره وکړه اوټول عرب یې په حرانتیاکې واچول چې په ډیر لنډوخت کې یې دټولو فتنوسرونه مات اووقچل

دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه په دوره کې داسلام دښمنانو ونکړی شول چې هغوی وړاندې لاړشي لیکن هغوی حضرت عمرفاروق رضی الله عنه شهید کړ

دحضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه دخلافت په وروستیوکې کلوکي یولویه ګمراه کوونکې فتنه خوره شوه او دعثمان رضی الله عنه پخلاف یې سازش پیل کړ،چې بالاخر دهم هغه سازش په نتیجه کې نوموړی دفتنه اچوونکولخوا په شهادت ورسول شو

دحضرت علي رضی الله عنه په زمانه کې دجنګِ جمل اوجنګ ِصفین پیښې رامنځته شوې چې ترشایې ددښمن سازشي لاسونه و و

کله چې دحضرت علي رضی الله عنه دسیاسي ځای ناستی او وارث حضرت حسن رضی الله عنه دتدبر په برکت مسلمانان بیرته سره یوځای اوپه یوخلیفه اوامام(حضرت امیر معاویه رضی الله عنه) راټول شول نوله سره بیا دنویو فتوحاتو سلسله پیل شوه

دبنوامیه اوبنوعباس په دورکې:

دامیرمعاویه رضی الله عنه دوفات وروسته دیزیدپه حکومت کې دحضرت حسین رضی الله عنه دشهادت غمجنه پیښه رامنځته شوه په کومه کې چې دچاروواکو دبې تدبیرۍ سربیره دددښمن سازشونه دخیل وو، دهغه پیښې په نتیجه کې مسلمانان یو ځل بیا دکورنیوجنګونو په اورکې کیوتل اوپه اسلامي ټولنه کې دفرقوجوړیدو سلسله رامنځته شوه

دبنوامیه واکمنوپه دوروکې دعیسوي پادریانولخوا په عظیم الشان قرآن، سیرت او احادیثو باندې دنیوکو پیښې هم رامنځته شوې خو دهغوته مسلمانان متاثرنشول

دبنوعباس په دورکې په شرعي علوموباندې دعقلي علومو لخوا برید وشو،مامون رشید دفلاسفه وو دکتابونوزخایربغدادته طلب کړل او دحکومت په سرپرستی کې یې دهغوپه خوروولو لاس پورې کړ،چې په وجه یې دمسلمانو علماوو یوه لویه برخه دیوناني فلسفې نه په متاثرکیدو ګمراه شوه ،دمعتزله وو نوې ډله پیداشوه، امام احمدبن حنبل،امام ابوالحسن الاشعري او امام غزالي په څیرعلماوو پخپله خپله زمانه کې په ډیره ځوانمردۍ سره ددې فتنې مقابله وکړه اوعقلیت پالانوته یې په هر میدان کې شکستونه ورکړل

دفکـري یرغلګـرو د شکســت لاملونه:

په دې ټوله موده کې فکري یرغلګر په عمومي توګه ناکام شوي دي اوهیڅ دپام وړبری یې ندی مندلی، دمسلمانانو ددې کامیابۍ اهم وجوه دادي:

۱= دالله، رسول الله،او دقرآن وسنت سره دمسلمانانورشته پیاوړې وه

۲= فکري یرغلګر له علمي پلوه کمزروي اوغیرمنظم و، اوهرچې مسلمانان وو په هغوی کې علمي ژورتیا هم وه او منظم هم وو

۳= مسلمانان له سیاسي غلبې برخمن وو

۴= هغه مهال اسلامي واکمن هم ددیني غیرت اوحمیت نه برخمن وو،او دخپل دین او ایمان په باره کې زیات حساس وو

۵= دمسلمانانو له اخلاقو، کردار،او دلایلونه پخپله فکري یرغلګر متاثرکیدل اوډیرځلي پخپله هغوی په اسلام راړومشرف کیدل

نوربیا...

د شهيد ابويوسف ملا ادريس ژوند او کارنامو ته کتنه

ابتدائي ژوند او زده کړې

شهيد ابويوسف ملا ادريس چې اصلي نوم يې محمد يعقوب و د حاجي عبدالعزيز زوی د غزني ولايت د اندړو ولسوالۍ د ليوانو په کلي کې په يوه دينداره کورنۍ کې دنيا ته راغلی و. د نوموړي پلار حاجي عبدالعزيز اکا يو دينداره او ذاکر سړی و، دغه راز د شهيد ابويوسف مشر ورور شهيد ملا عبدالقيوم د خپل وخت تکړه طالب او مجاهد و چې د شوروي يرغلګرو خلاف جهاد کې يې وياړمن کردار اداء کړی او په هماغه جهاد کې د شهادت مقام ته رسيدلی و. شهيد ابويوسف په همدې دينداره او جهادپاله کورنۍ کې دنيا ته راغی او له ماشومتوبه يې ديني زده کړو ته مخه کړه.

شهيد ابو يوسف ابتدائي زده کړه د خپل کلي په مسجد کې پيل کړې، وروسته يې څو کاله د غزني ولايت په مشهوره مدرسه نورالمدارس فاروقيه کې تعلم وکړ، دغه راز يې د سيمې په کليوالو مدرسو کې هم درسونه ويلي دي چې له جملې يې د حياتوالو په کلي کې له شيخ الحديث مولوي نور الله منير صاحب سره، د چهور په کلي کې له شيخ مولوي عبدالرحمن صاحب سره او په نظروالو کې له شيخ مولوي نور محمد صاحب سره درسونه ويلي دي. له دې علاوه يې د پکتيکا د شرنې په محمدخيلو کلي کې، د واغز ولسوالۍ په نيکزو کلي کې او د هجرت په مهال يې په پيښور او د بلوچستان په کوټه کې هم ديني درسونه ويل. په کوټه کې يې ډير تعلق له شيخ الحديث مرحوم مولوي عبدالعلي ديوبندي صاحب سره و، د هغه له وفات وروسته يې له شهيد شيخ الحديث مفتي رحمت الله صاحب سره هم سبقونه ويل د تفسير القرآن دوره يې ورسره وکړه او هميشنی تعلق يې ورسره درلود. مخکې له دې چې د شهيد ابويوسف جهادي ژوند ته راشو بايد ووايو چې نوموړی د طالبۍ په مرحله کې هم يو مثالي او تکړه طالب و، له علم او علماء کرامو سره يې بې حده مينه درلوده. له سترو مشائخو يې هميشه د جهادي مسائلو پوښتنه کوله. که څه هم ديني علم يې تر ورې دورې کړی و، خو د جهاد ډير زيات مسائل يې ياد و او هميشه به يې مجاهدينو ته شرعي لارښوونې کولې.

د جهادي ژوند پيل

الله تعالى په هر دور کې د هر کار لپاره ځانګړي اشخاص پيدا کوي. دوه لسيزې وړاندې نړدې ټولې کفري نړۍ په افغانستان هجوم راوړ. د امريکا او ناټو غونډې د نړيوال طاقت په وړاندې مقابله د انساني عقل له نظره محال کار معلوميده. مګر الله تعالى په همدې حساس وخت کې د خپل دين د ساتنې او جهادي بيرغ د پورته کولو لپاره داسې د ستر عزم خاوندان پيدا کړل چې په تش لاس يې د کفري نړۍ يرغل مات او امريکا يې فرعونيت يې د تاريخ مسخره کړ.

د همدې باعزمه ځوانانو له جملې يو هم شهيد ابويوسف و، د ده ملګري وايي د نوموړي شخصيت ټول د جهاد له شوق او جذبې جوړ شوی و. د امريکايي يرغل په لومړيو کلونو کې نوموړی کم عمره و، د واغز ولسوالۍ په نيکزو کلي کې يې سبقونه ويل، دغه وخت د غزني ولايت تکړه مجاهد شهيد قاري محمد نعيم لومړني مخفيانه جهادي تحرکات پيل کړي وو. ابويوسف له هماغه وخته ورسره په رابطه کې و او له مدرسې څخه به په پټه ورسره جهادي عملياتو ته تلو.

په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې چې د امريکايي يرغل لومړني کلونه وو او جهادي خوځښت نه و علني شوی، ملا ابويوسف د پکتيکا د شرنې په محمد خيلو کې په يوه مدرسه کې درس وايه. هغه وخت د جهاد خبرو لوی خطر درلود، ځکه د امريکا ګوډاګيان په قوت کې وو، حتی د مدرسې په تقريري انجمن کې په جهادي تقرير بنديز و. ملا ابويوسف د کال په وروستيو کې يو ځل په انجمن کې د تقرير نوبت واخيست او بيا يې د جهاد په موضوع مفصله وينا وکړه، ټولو طالبانو ته يې د جهاد فرضيت او ضرورت بيان کړ او په پای کې يې وويل د جهاد حکم بيانول زما فريضه وه، ما که د مدرسې د قانون مخالفت کړی وي نو سبا زه په خپله له مدرسې بستره اخلم او ځم او بيا له مدرسې څخه لاړ.

د ۱۳۸۵ لمريز کال تر اواخرو ملا ابو يوسف د قاري محمد نعيم تر قومنده لاندې جهادي فعاليت کاوه، قاري محمد نعيم په غزني کې د جهاد له بنسټګرو ګڼل کيږي. نوموړي په پيل کې د چاقو په واسطه يې له يوه عسکر څخه وسله اخيستې وه، بيا يې په همدې وسله جهاد ته دوام ورکړ تر څو چې ډير ملګري او امکانات يې پيدا کړل. قاري محمد نعيم له اندړو ولسوالۍ علاوه په قره باغ، واغز، خوګياڼو او د غزني مرکز کې هم فعاليت کاوه چې ملا ابو يوسف يې له تکړه او فداکارو ملګرو څخه و.

په ۱۳۸۵ هـ ش کال کې د قاري محمد نعیم په مشرۍ، مجاهدینو په واغز ولسوالۍ کې له امریکایانو سره لوی جنګ وکړ چې په نتیجه کې یې امریکایي او داخلي عسکرو ته درانه تلفات ورسیدل. دغه راز د مجاهدینو اړخ ته قاري محمد نعیم او ورسره درې نور ملګري شهیدان شول. د نوموړي له شهادت وروسته د ملګرو د مشورې په اساس ابویوسف ملا ادریس د همدې ډلګۍ مشر وټاکل شو چې بیا یې شاوخوا دیارلس کاله د یوه موفق او فداکار جهادي قائد په حیث د مجاهدینو دغه ډلګۍ رهبري کړه او ستړې کارنامې یې د تاریخ حافظې ته وسپارلې.

د جهادي فعالیت ځانګړتیاوې یې

شهید ابویوسف یوازې د غزني په سطحه نه بلکې د ټول هیواد په سطحه یو له خورا بریالیو او اغیزناکو جهادي قائدینو څخه شمیرل کیږي. د نوموړي د سوانح راټولولو پر مهال مې د هغه له ملګرو د نوموړي د بریا راز وپوښت چې هغوی په څو نکتو کې را خلاصه کړ.

اخلاص او للهیت

د شهید ابویوسف د بریا تر ټولو مهم راز د نوموړي اخلاص و. هغه له الله تعالی سره ډیره د اخلاص معامله درلوده. هر دم او قدم یې یوازې د الله تعالی د رضاء لپاره و. په اټلس کلن جهادي ژوند کې هیڅ کله ونه لیدل شول چې نوموړي د شهرت، نمایش او منصب هڅه کړې وي. هغه خپل ټول ژوند یې د جهادلارې ته وقف کړی و او ټول فکر و ذکر یې د جهادي پلانونو او فعالیتونو په اړه و.

مشوره او استخاره

د شهید ابویوسف بله ځانګړتیا په جهادي امورو کې مشوره او هر کار ته استخاره کول و. د هغه استخاره هغسې نه و لکه دخلکو تر منځ چې مشهوره ده، هغه دا چې په هره استخاره کې باید خوب ولیدل شي. بلکې کله به یې چې کوم جهادي کارته اراده و، اودس به یې تازه کړ، لمونځ به یې اداء کړ او که به وخت کم و، سر به یې وربېت او یوه شیبه به مراقبه شوه له هغه وروسته به چې به یې هر اړخ ته دزړه میلان شو، به هغه اقدام کې به خیر او بریا وه.

ترصد

ترصد یا د هدف تشخیصول او معلومات یې را ټولول د شهید ابویوسف یوه داسې ځانګړتیا وه چې په ډیرو کمو مجاهدینو کې لیدل شوې ده او باید ووایو چې د نوموړي دجهادي بریاوو یو لوی سبب هم د نوموړي دقیق ترصد اخیستل و.

د نوموړي ملګري وایي چې د شهید ابو یوسف عادت داسې جوړ شوی و چې تر څو به یې د دښمن د مرکز یا بل هر هدف په اړه مکمل معلومات نه و را ټول کړي په خپل به یې سیمه نه و لیدلې او ترصد به یې تکمیل کړی نه وی نو عملیات یې ورباندې نه کول. حتی د جهاد په اولو کلونو کې چې مجاهدینو د واغز ولسوالۍ په مرکز عملیات کول، نوموړي د تذکرې جوړولو په بهانه د ولسوالۍ مرکز ته ورغلی و او ټول معلومات یې حاصل کړي وو. د غزني په زندان ستر عملیات، د مقر او قره باغ ولسوالیو کې په اربکیانو عملیات، د غزني په ښار فاتحانه عملیات، د جاغوریو په ولسوالۍ عملیات او نورو سترو بریدونو کې له عملیاتو وړاندې شهید ابویوسف په خپله د شپې او ورځې د دښمن ساحه لومړی کتله، بشپړ ترصد یې اخیست، د هغه له مخې یې پلان جوړاوه، مجاهدین یې ورباندې پوه کول او بیا به یې عملیات اجراء کول.

نوموړی به اکثرا له یو بل تن مجاهد سره په عادي لباس کې د شپې یا د ورځې د دښمن سیمې ته ورته، دقیق معلومات به یې راټولول، د دښمن دفاعي مورچې او استحکامات به یې ثبتول، د دې لپاره چې دښمن خبر نه شي کله به د شپې مهال په لوڅو پښو د دښمن د مراکزو خواته ورتلو، په لویو عملیاتو کې به تر یوې هفتې په ډیره رازداري، د ترصد په چارو بوخت و او بیا به یې د برید پلان جوړاوه. نوموړي به ویل که مجاهدینو ته هدف مفصل ونه ښودل شي او په پټو سترګو د حملې امر ورکړل شي په دې به مو الله تعالی نیسي. دا چې د نوموړي په اکثرو عملیاتو کې د مجاهدینو تلفات دیر کم او بریاوې به یې ډیرې وې، یو علت یې هم د نوموړي دقیق او مفصل ترصد ګڼل کیږي.

دعا او روحیه ورکول

د شهید ابویوسف بل معمول دا و چې د عملیاتو له پیل وړاندې به یې مجاهدین راټول کړل، اول به یې ختمونه وکړل، د فتحې او نصرت د نزول اذکار به یې ډیر ډیر وویل. ورپسې به یې ملګرو ته په پوره اخلاص او د زړه له تله تقریر وکړ. دجهاد، قرباني، شهادت او ایثار فضائل به یې ورته بیان کړل. ملګرو ته به یې د اخلاص توصیه وکړه. دهغوی روحیات او جذبات به یې تازه کړل او یوه تندریز برید او فاتحانه عملیاتو ته به یې اماده کړل. ورپسې به یې په ډیر تضرع او اخلاص اوږده دعاء وکړه. د الله تعالی په دربار کې به یې وژړل او مجاهدین به یې هم وژړول. د فتحې اونصرت خواستونه به یې وکړل او له دعا وروسته به یې سمدستي د عملیاتو اقدام کاوه. په دې ډول به مجاهدین په روحي لحاظ کاملا جهاد ته آماده او د الله تعالی د نصرت اسباب به مهیا شوي وو.

ستړې جهادي کارنامې یې

شهید ابویوسف له رسمي مسؤلیت سره ډیره علاقه نه درلوده، حتی مسؤلیت به ورباندې بوج و. نوموړي د خپلې ډلګۍ د مشرۍ نه علاوه څه موده د اندړو ولسوالۍ د نظامي ولسوال د کفیل په حیث، ورپسې د غزني ولایت معاون او بیا څو کاله د غزني د نظامي قطعې د مشر په حیث مسؤلیت ترسره کړی دی.

نوموړي په غزني ولایت کې د جهادي عملیات هغه مخکښ مجاهد و چې له خپلو ملګرو سره یې په اکثره عملیاتو کې شرکت درلود. د بیلګې په توګه د رشیدانو ولسوالۍ لومړنۍ فتحه، د واغز

اندړو، ګیرو، خواجه عمري، دوه څله جغتو، دهیک او خوګیانو ولسوالیو په فتوحاتو کې یې فعال حضور درلود.

د اربکي سازۍ پروژه چې د پاڅون په نوم د امریکایانو لخوا پیل شوه، مهم مرکز یې په غزني ولایت کې د اندړو او مقر ولسوالۍ وې. شهید ابویوسف د نور مجاهدینو په همکارۍ د دې فتنې په محو کولو کې اساسي نقش درلود. په اندړو ولسوالۍ کې دګندهیر، صاحب خان او میرهزار په سیمو کې د اربکیانو پوستې د نوموړي په قومنده دوه څله له منځه یوړل شوې، دغه راز د حبیب ګوډلو، ګردیزي کلا، ملنګو او نورو کلیو پوستې هم له اربکیانو سره ختمې شوې. په دې عملیاتو کې د اربکیانو ګڼ قومندانان هم ووژل شول. بالاخره اربکیان چې د اندړو ولسوالۍ تر یو ثلث زیاته سیمه یې اشغال کړې وه مکمل ختم او د یو لړ چټکو عملیاتو په لړ کې د دې ولسوالۍ مرکز هم له اجیرو عسکرو څخه ونیول شو.

د مقر ولسوالۍ د اربکیانو بله مهمه سیمه وه. شهید ابویوسف چې د غزني قطعه یې رهبري کوله له ګڼو نورو مجاهدینو سره یې د روژې په ۲۵ له دقیق ترصد وروسته د مقر په اربکیانو عملیات پیل کړل. تر دې چې تر اختر پورې یې ټولې سیمې ترې تصفیه کړې او د اختر ورځې یې هم په مقر کې تېر کړې. دغه راز د قره باغ د پورته حصې په تصفیه کې د نوموړي لوی نقش و.

د شهید ابویوسف په مشرۍ د ترسره شویو عملیاتو له جملې بل هم د غزني د زندان ماتول. نوموړي په خپله د زندان ترصد وکړ، شاوخوا سیمې یې وکتلې او په پوره رازدارۍ یې پلان د هغه وخت د څو ولایاتو د قطعې له مسؤل الحاج پیر اغا سره شریک کړ.

د هغه وخت د غزني والي مولوي محمد قاسم صاحب وایي: پلان داسې نیول شوی و، چې په عملیاتو کې به ۱۰ تنه فدایان او ۳۰۰ تنه نور تکړه او تجربه کار مجاهدین برخه اخلي، له دې جملې فدایان او ۴۰ تنه د ابویوسف د ډلګۍ مجاهدین چې د زندان دماتولو له رازه خبر کړای شوي وو، ځانګړي لارښوونې ورته شوې وې او ددوی وظیفه دا وه چې په مشخص ډول به په زندان برید کوي، هلته به ننوزي او زندانیان به له پنجرو څخه راوباسي. دغه کامیاب عملیات چې په ترڅ کې یې ۴۵۰ تنه بندیان د دښمن له منګولو آزاد کړای شول، د شهید ابویوسف لخوا رهبري کېدل او نوموړی د بندیانو دخلاصون لپاره خپله زندان ته داخل شوی و.

بل مهم عملیات چې نوموړي په کې بارز نقش درلود د غزني په ښار فاتحانه عملیات و. د دې عملیاتو لپاره هم شهید ابویوسف د ښار له ټولو خواوو د شپې او ورځې ترصد وکړ، د دښمن پوځي ځایونه یې تثبیت کړل. د جنګ په وخت نوموړي د غرب لخوا پر ښار د عملیاتو رهبري کوله چې په ترڅ کې یې امنیه قومندانۍ، دموی مبارک کندک، څلورمه حوزه، د خشک قرارګاه او لسګونه پوستې فتحه او دښمن ته درونډ زیان واوښت.د غزني ښار فاتحانه عملیاتو دښمن سخت وویراوه، ډېره ځواکونه یې سیمې ته راوستل. شهید ابویوسف او ورسره مجاهدین څه موده قره باغ ته لاړل او هلته له څه عملیاتو وروسته یې د دښمن د توجه اړولو لپاره د جاغوریو په ولسوالۍ عملیات پیل کړ. د جاغوري ولسوالۍ چې په تیرو کلونو کې په کې جهادي عملیات نه وي شوي، مجاهدینو د محلي پولیسو کمربند مات کړ، د انګورو بازار او د ولسوالۍ اکثره سیمې یې ونیولې د ملیشو قومندانان لکه باشي حبیب او حیدر ووژل شول او دښمن ته درانه زیانونه واوښتل.

د شهید ابویوسف د جهادي کارنامو په لړ کې وروستی مهم فعالیت په ننګرهار کې د داعشیانو په خلاف بریالي عملیات و. داعشیانو چې د ننګرهار په جنوبي ولسوالیو او د سپین غر په حاکمو نقطو کې یې پخې مورچلې جوړې وې. د مجاهدینو په وړاندې یې مسلسل مقاومت کاوه. د ګڼو نورو ولایاتو د نظامي قطعو په شان ملا ابویوسف هم له ۱۴۴ تنه مجاهدینو سره ننګرهار ته لاړ. په داعش د سرتاسري برید د پیل په مهال نوموړي ته له شمال اړخه د خوګیانو ولسوالۍ، د زاوه سیمه ورسپارل شوې وه چې ورپسې د بغدادي سنګر په نوم د داعش تر ټولو محکم سنګر او د وزیرو تنګی و چې داعش د خلافت مرکز باله.

د نوموړي په مشرۍ مجاهدینو د زاوه سیمې له تصفیه وروسته د بغدادي سنګر په فتحه او د وزیرو تنګي په نیولو کې هم اساسي نقش درلود. داعشیانو دې سیمې ته ورتلونکې لارې په ماینونوپوښلې وې. خو مجاهدینو له ټولو خطراتو سره سره پرمختګ ته دوام ورکړ، د وزیرو تنګي په نیولو سره د داعش جنګي روحیه وځپل شوه چې بیا یې تر پایه مقاومت ونکړای شو.

شهادت

د شهید ابویوسف ملګری مولوي مظهري وایي د وزیرو تنګي له نیولو وروسته ملا ابویوسف له نورو ملګرو سره د دې سیمې په څمڅي نومي کلي کې د اسلامي امارت له بل مشر ملا مزمل سره مجلس درلود. سخت باران ورېده. ابو یوسف ناڅاپه ولاړ شو او ویل یې چې د مجلس لپاره به مناسب ځای پیدا کړو. نوموړی په همدې کلي یوه مسجد ته ورننوت، مسجد ته له ورننوتو وروسته درونډ انفجار وشو. چې له امله یې د مسجد چت راپریووت او ملا ابو یوسف له یو تن بل ملګري ابوبکر سره ترې لاندې او د شهادت لوړ مقام ته ورسېدل. انا لله و انا الیه راجعون.

د شهید ابویوسف خایناستی او د ډلګۍ اوسنی مشر یې مولوي ابودجانه صاحب وایي: چې شهید ابویوسف ورته ډېر وراندې یو خوب ویلی و چې نوموړی به د خوګیانو ولسوالۍ په یوه غرنۍ سیمه کې شهیدکېږي. پخوا مو فکر کاوه چې دا به غالبا د غزني د خوګیانوکومه سیمه وي. خو وروسته معلومه شوه چې د نوموړي د شهادت ځای د ننګرهار د خوګیانو ولسوالۍ د وزیرو تنګی و، چې یوه غرنۍ سیمه ده.

(د شهید ابو یوسف بشپړ سوانح به (د سپین کاروان سرلاري) کتاب په دوهم ټوک کې ولولئ.)

رحمه الله و أسکن روحه في أعلی علیین.

- بخش اول

انتخاب : حبیب زاده

در سرزمین مجاهدان و فاتحان

«در سرزمین مجاهدان و فاتحان» یاد و خاطره ای است از سفر مولانا سید ابوالحسن ندوی - رحمه الله - به کشور افغانستان در سال ۱۳۹۳ هجری قمری - ۱۹۷۳ میلادی.

مولانا ندوی رحمه الله در راس هیات بلندرتبه ای از طرف مؤسسه «رابطة العالم الاسلامی» مکه مکرمه، به منظور آگاهی از اوضاع مسلمانان به ۶ کشور آسیای میانه - افغانستان، ایران، لبنان، اردن، سوریه و عراق - سفر نموده و حاصل سفرش را که مشتمل بر اوضاع و احوال مسلمین، مؤسسات اسلامی، آگاهی از مشکلات و مطالبات مسلمانان می باشد، در کتابی تحت عنوان «من نهر کابل الی نهر یرموک» به رشته تحریر درآورد.

در سرزمین مجاهدان و فاتحان یا «فی ارض الغزاة و المجاهدین» بخشی از کتاب «من نهر کابل الی نهر یرموک» است، که عبدالناصر امینی و محمد امین عثمانی به فارسی ترجمه کرده اند. در سطور ذیل، چندی از پارچه های آن را، که بیان گر اوضاع گذشته و چهل و هفت سال پیش افغانستان است، گلچین نموده خدمت خوانندگان گرامی تقدیم می داریم.

بیائید، در بخش اول این اقتباسات، احوال افغانستان - به خصوص چگونگی روابط افغان ها با هند و مسلمانان هند - را، از قلم دانشمند بزرگ مولانا ندوی - رحمه الله - بخوانیم :

....

یقینا افغانستان سرزمینی است که در تاریخ اسلام همواره سرچشمه دلاوری، بیشه شیران و زادگاه فاتحان و دژی مستحکم از دژهای بوده است. هنگامی که امیر شکیب ارسلان - معروف به امیر بیان - درباره افغانستان سخن می گوید، شوق و احساس غیرت اسلامی وی را فرا می گیرد و تاریخ این کشور مبارز در ذهنش مجسم می شود، زمام قلم را رها می کند، لب به سخن می گشاید و می گوید : «سوگند می خورم که اگر در دنیا قلب تپنده ای برای اسلام باقی نماند، قطعا آن را درمیان ساکنان کوه های هیمالیا و هندوکش با عزم و اراده جدی فعال خواهی یافت»

....

از قرن پنجم هجری دودمان و نسل هایی بر هندوستان حکومت کرده اند که ترکی الاصل بوده اند، مانند غزنویان، ممالیک، خلجی ها، تغلقی ها، و سرانجام مغول ها که از راه افغانستان وارد هندوستان شدند و اسب سواران و داوطلبانی که از سرزمین های تصرف شده آن ها را همراهی نمودند و یا سلسله ای که در اصالت، تمدن و عرف افغان بودند، مانند غوریان، لودیان و سوریان.

هند پناهگاهی بود برای بلند پروازان، دلاوران، نخبگان و نوابغی که کشورشان محصور به کوه های مرتفع بود و زمینه وسیعی برای ارضای غریزه، بلند پروازی و رقابت در رسیدن به مجد و بزرگی نمی یافتند.

....

مسلمانان مدت درازی به افغانستان به عنوان کشوری که والیان، فرمانروایان، مدیران و نظامیانی را به هندوستان اعزام می کند، نگاه می کردند و افغانستان را ولایت - یعنی مرکز امرا و حکمرانان - می نامیدند، و کسی را که از افغانستان می آمد «ولایتی» می نامیدند.

مهاجرت فقط به مجاهدین، فاتحان، فرماندهان و نظامیان محدود نشد، بلکه تعمیم و گسترش یافت. بنا بر این بهترین علما و استادانی که در هندوستان حرکت جدید علمی به وجود آوردند، از افغانستان وارد این کشور شدند و کتاب ها و تالیفاتی را به ارمغان آوردند که مدت زیادی علمای هند، به فهم، شرح و تدریس آن مشغول بودند.

....

مسلمانان هند در دوره های تاریک و لحظه های بحرانی که یاس و نومیدی در آن شدت می یابد، و اتکا بر رخدادها و کمک های خارجی بیشتر می شود، به افغانستان به عنوان کشور نجات دهنده از این بحران ها، نگاه می کردند. آن ها بر این خیال و گمان پافشاری نمودند و در خوش بینی اغراق کردند و حتی در این امر تا حد رؤیاها و آرزوهای شیرین و اتکای که به ضرر شان تمام شد، رسیدند.

....

مسلمانان در زمان حکومت انگلیس در اعتماد بیش از حد شان به افغانستان، به مرزهای شمال غربی از دور چشم می دوختند و منتظر بودند، که فرمانده ای مانند احمد شاه ابدالی با ارتش انبوه خود از تنگه خیبر وارد کشور شان شود و آن ها را از حکومت بیگانه انگلیسی ها رهایی بخشد.

طبیعی بود که هر بار گمان و خیال شان بی نتیجه بماند، زیرا افغانستان به امور داخلی و پاسداری از استقلال مورد تهدیدش از جانب روسیه از یکطرف و از جانب بریتانیا از طرف دیگر، مشغول شده بود و کوچک تر و ضعیف تر از آن بود که به هندوستان حمله کند و بر حکومت قوی و استوار انگلیسی ها پیروز شود.

....

در زمان حکومت انگلیسی ها مرزهای بین افغانستان و هند باز بود، که تجار، طلاب علم و علما از آن عبور و مرور می کردند و مردم هند آن ها را به دید تحسین و احترام می نگریستند و معتقد بودند که در وجود آن ها نیروی برتر و بلند همتی نهفته است و ما در خوردسالی آن ها را در روستاها و شهرها می دیدیم، در حالی که کالاهای کشورشان را همراه خود حمل می کردند و بر نمازها سخت محافظت و پایبندی می کردند و از نظر نیروی جسمی بسیار قوی و دارای قیافه و لباسی بودند که جلب توجه می نمود. بنا بر این ما در حالی که خوردسال بودیم به آن ها احترام می گذاشتیم و آن ها را «آغا» می نامیدیم.

....

افغانستان در تاریخ اصلاح، تجدید و مبارزه ای که از دعوت و جهاد شهید امام سید احمد بن عرفان - مشهور به سید احمد شهید، متوفی ۱۲۴۶ ه ق - سرچشمه گرفت و در جنبشی که شخص امام احمد بن عرفان رهبری کرد، نقش بسزای داشت.

ایشان به افغانستان که از آن دیار فعالیت ها و تحرکات نظامی شان آغاز شده بود رفتند و این کشور از ایشان استقبال خوب و بی نظیری به عمل درآورد. مردم و دولتمردان افغانی به ملاقات ایشان آمدند. اقامت شهید احمد بن عرفان در کابل مطابق میل و خواسته او بود و در همان وقت با خاندان حکومتی روابطی داشتند که گاهی به ضعف می گرایید و احیاناً مستحکم می شد.

حاکمان افغانستان اگر در آن برهه ی سرنوشت ساز تاریخی، درد و تاثیر رهبر کبیر آن را می دانستند، بدون شک اسلام و مسلمانان در این منطقه، تاریخِ بسیار درخشان تر و بهتری نسبت به تاریخ امروزی آن می داشتند.

....

دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

د اسلامي حکومت واکونه اومسؤليتونه

۴ مه برخه

م. ش. مصور

محققينو علماووپه اند:په اسلامي حکومتونوکې ددې نوبت ندی راغلی چې مسلمانان دي له لوږې، فقر،دوږدې اوسرپناه نه لرلو له امله پورته شوي وي اويوحکومت دي رانسکورکړی وي،خو دکفاف په اړه دابن حزم دقول راړونه مقصود دادی چې اسلامي فقهاوودکفاف درجې برابرول، دعامو مسلمانانوپه ذمه فرض کفايي ګرځولي دي

که دټولنې شتمن خلک خپل مالي فرايض سرته رسوي او دانفاق په احکامو باندې عمل کوي، واجبه صدقات اداء کوي، نوپه يقيني توګه باور کيدی شي چې هرشخص ته به دکفاف درجه په لاس ورځي، دکفاف دغه تصور ځيني علماوو د«عامه کفالت» په نوم هم تعبير کړی دی، دلته داخبره په ياد لرل ضروري دي چې دعامه کفالت حق دزکات نه علاوه دی عظم الشان قرآن کې راغلي الله تعالی فرمايلي: وَفِی اموالِهِم حَقٌ لِلسَّائلِ وَالمَحرُوم(الزريات: ۱۹)دشتمنوپه مال کې دسائل هم حق دی او دمحروم هم، په بل ځای کې قرآن پاک دسورةِ بقره په ايت «بر»کې«لَيسَ البِرَّاَن تو‌تُوَلَّوا»البقره:۱۷۷)کې په صراحت سره دزکات نه علاوه دمالي ذمه داريويادونه راغلې،همداشان په يوحديث کې راغلي: اِنَّ فِی المالِ حَقّاً سِوَی الزکوةِ(ترمذی کتاب الزکاة، باب ان فی المال حقا۶۶۲)چې دزکات نه علاوه هم په مال کې اسلامي حکومت اوټولنه حق لري، علامه الوسي همدا ليکلي نورو ګڼ شمير علماوو هم ليکلي دي چې دعامه کفالت تذکره چې په دې ايتونوکې شوې دزکات نه علاوه ده

علماوو ليکلي چې همدا ايت«وفِی اموالِهِم حَقٌ لِلسَّائلِ وَالمَحرُوم» دعامه کفالت په اړه داسلامي تصور اساس دی، اوددې تفصيل په «ايت بر» کې هم راغلی دی« واتی المَالَ عَلی حُبِه» البقره:۱۷۷) چې دمال دمحبت باوجود دالله تعالی سره دمحبت په وجه مال ورکوي، او خپلونيستمنوخپلوانواونوروته يې ورکوي، دازکه چې دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه ديوې وينا دالفاظوهدف ترلاسه شي هغه فرمايل« حتی نَستَوِیَ فِی الکفاف»البدايه والنهاية:۵۵/۷، تاريخ الامم والملوک۴۳۵/۲)خو دکفاف په درجه کې ټول مسلمانان سره برابرشي.، هيڅ مسلمان هم داسې پاته نشي چې هغه دکفاف له درجې څخه محروم پاته شي، په قرآن مجيد کې مکي سورتونوکې ديته ورته اشارې شته دي لکه : ولايَحُضُ عَلَی طَعَامِ المِسکِين(القريش ۳) فرمايل دهمدې کفاف درجې باورې ګرځولو لپاره دي، او داسلامي ټولنې دمزاج برخه ګرځيدل پکاردي چې څو هغوی اهتمام ولري دغه ضروريات دهرشخص پوره کړی شي

دلته دانکته دپام وړده چې دکمونزم په څير يواځې کور،کالي، ډوډی، ورکول په اسلامي کفاف کې نه راځي،بلکې ځيني اسلامي فقهاوو «کفاف او حاجيات اصليه» په اړه دقرآن وحديث نه دانتيجه راويستې ده چې په اساسي ضرورياتوکې تعليم،علاج،امن وامان،عدل وانصاف

پلې کول هم دیوې کورنۍ دژوندانه په وسائلوکې شمارلې، او دایاد څیزونه ټول داصلیه ضرورياتو درجه لري، اګرکه دکفاف وروسته دهمدوی درجه راځي، لیکن په محض کفاف اکتفاکول ناشوني ده،اوبل دا دانسان دمزاج،دترقیاتي ذوق، اودتهذيبي اوتمدني رجحاناتوسرغړونه ده زکه دانسان مزاج تهذيبي اوتمدني پرمختګ کول اودخپل معاملات غوره نه غوره جوړول غواړي

دا هم هغه خبره ده کومه چې حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي د«ارتفاق» په لفظ سره تعبير کړې ده،زکه چې هرانسان اوهره انساني ټولنه ړومبی د«ارتفاق» نه يعني دتهذيب وتمدن دابتدائي درجې نه نورو درجوته تلل غواړي، ددويمې درجې نه دريمې درجې ته تلل غواړي، ددې کار لپاره شريعت حدودواوقواعد مرتب کړي دي،اوس داترقي يا پرمختګ دشريعت دقواعدو او احکاموسره برابر پکاردی، که داترقیاتي عمل دشريعت احکاموسره برابروي داخلاقياتو او روحانياتو تابع وي نو بيا دشريعت په نظرکې غوره کاردی

داضروريات اوپه خاصه توګه لومړني درې ضروريات ،دکفاف ضروريات دي که دا پوره نه وي، نو نتيجه کې يې ناهیلي پيدا کېږي، کله چې ناهیلي پيداشي، ناهیلی انسان دفشار او دباوښکار ګرځوي، اودهغه په نتيجه کې بې شمېره ټولنيزې،اخلاقي اوسياسي خرابياتې پيداکېږي،ددې لپاره دهغوضرورتونوپوره کول پخپله دټولنې دبقا اوساتنې لپاره ضروري دي،اوهم دخلکو دبقا اوساتنې لپاره داسې مثالونه شته دبعيدې ماضي هم، اودقريبې ماضي هم،دفرانسې دانقلاب مثال هم شته، دروسيې دانقلاب مثال هم،دګڼو نوروهيوادونو مثالونه شته،همدا اوس څوکاله دمخه درومانيا مثال شته چې دبيرته پاته اوغريبوطبقاتوپه غبرګون سره دسختې ناهیلۍ ښکار شو،او په نتيجه کې يې هغه هرڅه تباه شول کوم چې اثرلرونکو واکمنوطبقو دپوره څنډ وروسته ترلاسه کړي وو

هم داسې که مال و دولت او دضرورت وړتوکي دضرورت نه زيات ترلاسه شي، کور،کالي ډوډۍ اونورمادي وسائل دضرورت نه زيات انسانانوته په لاس ورشي،له دينه هم ګڼې خرابۍ پيداکيدی شي،دمترفينو يوه ډله پيداکېږي،او دمترفينوډله بيا داخلاقي خرابيوسبب ګرزي، ددې لپاره په دې دواړوکې توازن ضروري دی،توازن دادی چې هرشخص ته لومړني ضروريات تريوخاص حده په داسې توګه حاصل وي، چې هغه مطمئن اوسي، خواړه، لباس، او دکور نورې اړتياوې، سورلۍ،تعليم،عدل و انصاف څېني فقهاوو ليکلي دصفائي ستراتي سامان،داټول اسباب په انسان ته دضرورت په اندازه حاصل وي،دهغه دومره عايد پکاردی چې ورباندې داياد اسباب ترلاسه کړی شي په بازار کې داسې وسائل موجود وي چې دهغواړتياووپوره کول اسانوي ،نوپه دې سره به ټولنه داډمنه اوسي او ددې أطمينان په نتيجه کې به هيڅ کوم اخلاقي قباحت يا ګډوډي نه پيداکېږي

دحکومت داهومسؤليتونوڅخه

يواهم مسؤليت اقتصادي پلان جوړول دي، نن سبا پلانونه جوړول ويرلوی فن دی،پلان جوړول څه دي؟ددې څوډولونه دي، په پانګوال نظام کې پلان څنګه جوړيږي؟په اشتراکيت کې پلان څنګه جوړيږي؟ داهغه معاملات دي چې دکوموڅخه چې دپلان جوړولوپوهان بحث کوي، په اسلامي حکومت کې دپلان جوړولولپاره کوم اصول دي؟ په هغوټولو کې ترټولو لومړی اصول داقتصادي مسؤليتونو دحدبندی دی،چې حکومت اجازه نلري چې هغه دعامو خلکوپه امورو کې بې ځايه مداخلت وکړي،دخلکوازادي سلب کړي،خو دازادۍ په نوم دبې حيايو اوبانوروبداخلاقيو اجازه هم نشته، هرشخص ته يوشان موقع برابرول پکاردي،بازارونه بايد دهرڅا په مخ خلاص وي،داباور ورکول داقتصادي پلان جوړولو لپاره زيات اهميت لري

شريعت د«سدذرايع» حکم ورکړی دی،دسدزرايع نه مراد دادی چې هغه ټولې لارې وتړل شي دهغوټولووسائلواوزرايعوحوصله شکني دي و شي دکومو په نتيجه کې چې قباحتونه پيداشوي؛ يايې دپيداکيدو امکان وي، ددې لپاره ذخيره اندوزي، نارواګټه خوړل، په

ناروا توګه مال ترلاسه کول،دوکه،فریب،دغسې نوروخرابیو دمخنیوي لپاره ګامونه پورته کول دحکومت مسؤلیت دی، نودا دحکومت مسؤلیت دی چې داقتصادي پلان برخه کیدل پکاردي په دې وجه فقهاووقاعده کلیه وضع کړې ده چې «دفع المَفَاسِدِاَولی مِن جَلبِ المَصَالحِ» (اصوالالفقه علی منهج اهل الحدیث۱/۱۶مخ)

یعني په لومړۍ مرحله کې چې کومې خرابۍ دي،هغه لرې کول، په دویمه مرحله کې چې کوم مصالح دي، کوم فواید دي،هغه ترلاسه کول،دمصلحت ترلاسه کولو لپاره دخرابیو لرې کول ضروري دي هیڅ غوره ګام ترهغه نشي پورته کیدی څوچې خرابۍ لرې نکړی شي

دپلان جوړولو په برخه کې زیاتره کارونه هغه دي چې هغه محض دتجربې او دنوي دور په عرف پورې اړه لري،داهغه حکمت دی چې دمسلمانانوورکه متاع ګڼل کېږي،هرځای چې ومندل شي،مسلمانانوته یې ترلاسه کول پکاردي، نوپه هغواقتصادونویا معیشتونوکې چې پلان ګذاري کامیابه شوې، دهغو ارزونه کول، دهغواسبابوڅېړنه کول اوهغه اسباب غوره کول دشریعت لازمي غوښتنه ده داسې کول زکه ضروري دي،چې مال اووسائل دالله تعالی امانت دي، شریعت کې داسراف اوتبذیرنه منع راغلې،زکه چې داهم دمال ضیاع ده، نووسائل دضیاع څخه ژغورل او دوسائلوښه، ښه استعمال یقني ګرځول، دژورې پلان ګذارۍ پرته ممکن ندي، په دې توګه یواځې لګښتونه دحدودوسره برابرول هم دشریعت په احکاموکې راځي

بله داچې شریعت محض دمصرف کوونکوټولنه جوړول نه غواړي،زکه چې دټولنې دننه دخلکومزاج دصارفینو ګرځي،دایواځې ترمادي پیداور محدودپاته کېږي نه، بلکې دژوندپه هره برخه کې پرې خلک روږدي کېږي،دنورو لخوا تیار شوي څیزونه ترلاسه کول،اوهغه لګول،یاهغه رانیول، شریعت ددې مزاج مخالف دی، زکه چې دابیا داخلاقو،عقایدو،نظریاتو، تهذیب اوثقافت ترپولوهم رسیږي، زکه دنورو دمصنوعاتود اخیستو اوکارولو مزاج څېلول شریعت غوره نه بولي، داداسې ده لکه دبل دپوخ کړي دیګ خوړو عادت،شریعت نه غواړي چې دمسلمانانوټولنه دي محض دصارفینو ټولنه اووسي، دنه دمادیاتو دصارفینو، او نه دفکریاتو او تهذیبي صارفینو،بلکې اسلامي ټولنه داسې پکاره چې پکې به ددنیا لپاره سوچ کیدی شي،چې داسلام لخوا دنیاته څه ورکول پکاردي؟په کارپکاردي، چې طیبات څه دي؟ څنګه ترلاسه کیدای شي؟ خبایث څه دي ناپاک اوګنده څیزونه څه دي؟دهغومعلومول او خلک ترې منع کول، طیباتوته رشد ورکول اودخبایثو مخنیوی کول،دحلال وحرام پابندي یقیني ګرځول، داټول داسلامي قانون جوړولو پرته ناشوني دي

نن سبا دحکومت کرداردزرې پالیسي په باره کې هم اساسي دی،چې په ماضي کې هم اسلامي فقهاوو له پامه ندی غورځولی ،هغوی لیکلي: چې دحکومت مسؤلیت دادی چې سیکې جوړې کړي،یعنې سیکې جوړول دحکومت مسؤلیت دی، مشهور محدث اوفقیه امام نووي لیکلي دي: چې دحکومت پرته دکوم بل چا لپاره روا نده چې هغه درهم اودنانیر جوړکړي، که څه هم خالص وي، زکه چې دا دحکومت کاردی، اوحکومت چې دا کارکوي نوهغه به د دوکې او وزن کموالوڅخه پاک وي یوبل ځای لیکي: انّ ضَرب النُّقودِ مِن اعمال الامام سیکې تراشل یا دنن سبا په حساب نوټونه چاپول د حکومت له وظایفو څخه دي

هم داراز ددوکې اوجعل کاریو مخه نیول،دحکومت مسؤلیت دی، هرڅوک چې په دوکه، فریب، جعل کاري کې ونیول شي،هغه ته به سخته سزا ورکولی شي «اَنّالَهُ مِن شِدّةِ العَقُوبَة» زکه دا داسې دوکه ده چې محض دیوتن سره نده بلکې دټولنې اوخلکوسره ده څنګه چې دیو فرد سره دوکه کول جرم دی همداسې ټولنې ته دوکه ورکول زیات جرم دی

نوربیا...

روژه او صحت

شهیدزوی

خپلي عقيدې ته ژمن ټول هغه خلک چې خپله عقيده حقه ګڼي دخپلي عقيدې او دعقيدې سره دبرابرو خپلو اعمالو دحق ثابتولواو ورنه د دفاع هڅې کوي.

خپل دين ته ژمن مسلمانان هم همداسې دي ؛ څومره چې شرعي پوهه ولري دخپلې پوهې سره سم دخپلو عقايدو او شرعي احکامو نه دفاع دځان مسئوليت اوپرځان دخپل دين حق ګڼي.

څني هغه ورونه چې دعصري علومو نه خبر وي او خپل دين سره هم مينه لري دشرعي احکامو دحقانيت ثابتولولپاره دساينسي علومو دلايل او دنامسلمانو پوهانو اقوال راوړي ؛ داډېرلوی کار او ددين سره ډېره خواخوږي او اخلاص ګڼي.

دا کار ړښتياهم په خپل ذات کې ښه کار دی ؛ ګټه هم لري او دداسې مسلمانانو داخلاص په اړه بايد شک ښکاره نه شي. خو دې کې نشته چې دا طريقه له ځانه سره يو څه تاوانونه هم لري ؛يو خو پدې سره دنسبتاً ازاد خيالو خلکو عادت خرابېږي ؛ دشريعت دهر حکم دحکمت وراندې کول اړين بولي او ورو ورو داسې فکر عامېږي چې ګيني دشريعت داحکامو حقانيت موږ هغه مهال پر ځان اوخلکو منلی شو چې حکمت يې راته معلوم اوساينسي تائيد ورسره مل وي حال داچې ساينس باندې ثابت شی دانسانانو دخپلي هڅې ،څېړني اوتجربې نتيجه وي چې طبعاً تغير اوخطاقبلونکی وي او شرعي احکام دساينس نه په خورا ډېر لوړ شي يانې وحي ثابت شويدي چې نه پکې دخطا او نه هم دتغير احتمال شته .

دوهم تاوان يې دادی چې پدې سره دمسلمان دعبديت روح زيانمن کېږي؛ عبديت او مريتوب خو دادې چې بې چون وچرا دخپل مالک حکم ومنل شي ؛ موږ مومنان دشريعت احکاموباندې ځکه عمل کوو چې دا مو دحقيقي مالک احکام

دي ؛ نه له دې امله چې دا اوهغه حکمت او دنيوي ګټه لري .

نو لنډه داچې دشريعت داحکامو حکمتونه ذکر کول بد کار ندی خو ورسره دا وضاحت هم پکار دی چې د شريعت احکام دې حکمتونو ذکرکولو ته ندي محتاج او نه پر دې احکامو عمل ددې حکمت له امله دی ؛ په شرعي احکامو عمل دعبديت مقتضی ده ؛ دا حکمت بدلېدای اوخطا کېدای هم شي خو دشريعت حکم نه شي خطاکېدای .

روژه دشريعت يومهم حکم او په پنځو ارکانو کې يو لوی رکن دی ؛ موږ يې په حکمت اوطبي ګټوپوه يو که نه، بې چون وچرا يې له دې امله نيسو چې رموږ درب حکم دی اوموږ چې دخپل رب غلامان يو پرې مکلف يو او په خوښې يې نيسو.

هـو! دامـو عقيـده ده چې دشريعت يو حکم هم داسې نشته چې دانسانانو دتوان نه بهرون وي يا دانسانانو لپاره تاواني وي .

اسلام که خپل پيروان دڅه نه منع کړيدي يايې ورته دڅه حکم کړيدی ټولو کې دانساني ټولني ډېر لوی خير ،فلاح او کاميابي ده .

دروژې په باره کې مو هم همدا عقيده ده ؛ موږ به يې له ګټو نه يو خبر خو دا مو ايمان دی چې روژه د جوړ انسان صحت ته تاوان نه ،بلکې ډېرې ګټې رسوي چې دڅېړنو نه پس اوس دطب نامسلمانو پوهانو هم څني داګټې معلومې کړيدي؛ وربانـدې اعترافونـه کـوي او د اوږد وخت لپاره دخوراک څښاک نه

دبدن لري ساتل په يوشمېر مريضتياګانو کې ډېرګټور ګني.

داروپا نامتو مفکر پروفيسورآرنلډ وايي : روژه دمسلمانانو لپاره دمهم عبادت تر څنګ يو ستر څواک هم دی چې ورسره داملت نه مسخر کېدونکی ملت ګرځي ، يوه مياشت مسلسلې روژې انسان دفاقه کشی عادي ګرځوي ، دتحمل ، زغم ،صبراو دبدني او ذهني مشکل نه دوتلو ښه درس ورکوي .

امريکايي نامتو ډاکترجيمس بيلج وايي : دروژې پر مهال جسم دخوراک دهضم له عمل نه فارغ وي او دفاسدو مادو د اخراج عمل کې جسم ته ډېره اساني وي ، روژه دجسم ټولو داخلي رئيسه اعضاءو ته دتصفيې ډېره ښه موکه ورکوي

چې پدې سره بدن باندې بوډاتوب ژر نه راځي.

دهند يونامتو ډاکتر شانتي رکواني وايي چې دروژې پرمهال چې جسم ته نوی خوراک نه ورځي نو په جسم کې زهرجنې مادې هم نه جوړېږي نو جګر په ښه طاقت او اسانی سره په جسم کې له وړاندې نه موجود زهرجن مواد وباسي او وينه ښه تصفيه کېږي.

ډاکترژوفرای نومي يو کاتوليک عيسايي دی، روژه يې دهايبرينشن عمل ته ورته ګڼلی ده ، هغه وايي:چې ډېر داسې حيوانات شته چې په سخت يخ يا نامناسب موسم کې غارونو اودځمکې تل ته ورننوځي ، داوږدې مودې لپاره همدلته وږي پاتې شي ، دهايبرينشن دا عمل حيوانات ډېر تروتازه کوي او چې کله دنوي موسم دراتلو سره دباندې راووځي نو دمخکې نه زيات طاقتور وي .

همدا راز د واورو د اوربښت او خزان پر مهال د ونو پاڼې ورژېږي ، ونه ويده شي ، درېښو او پاڼو له لارو پرې هر ډول خوراک بند وي چې دا د ونو روژه وي اوسخته ګټه ورته رسوي ځکه خو د پسرلي په را رسېدو چې ونې راژوندی کېږي نو ډېره ستره تازګي پکې وي .

ژوفرای وايي چې انسان ته هم روژه ډېره ګټه رسوي ، ډېر قوت وربښي نو هر انسان بايد په کال کې ۴۰ ورځې روژه شي .

ايلن کاټ نومي يو انګريز څېړونکي د Fasing as a way of Life تر عنوان لاندې يوې څېړنې کې ويلي چې روژه دهضم او اعصابو نظام ته ډېرراحت رسوي .

خو برعکس د ۲۴ ساعتونو مسلسله ولګه او دخوراک څښاک نه ځان لرې ساتل چې په انسانانو کې رايج وه تاواني ده ځکه چې ۲۴ ساعته ولګه په وينې کې نمکيات خصوصا دپوټاشيمو دکمي سبب ګرځي ؛ کيلوريز کمېږي او دزړه درزا ورسره ډېرېږي .

په ۱۹۹۴م کال کې په روميې ځل په سابلانکامراکو کې د رمضان دروژې باره کې يوطبي څېړنيز کانفرانس جوړ شو چې پکې دنړۍ دګوډ ګوډ نه دراغلو مسلمانو او نامسلمانوڅېړونکو ۵۰ تحقيقي مقالې وړاندې کړای شوې ؛ پدې مقالو کې په يوې مقالې کې هم داسې ټکي رانغلو چې روژه پکې صحت ته تاواني ګڼل شوې وای .

دطب پوهان وايي چې دکولسټرولو دکموالي لپاره روژه ډېر ښه علاج دی ، کوم خلک چې په روژه کې عادي خوراک کوي او اضافي غوړ ، خواږه او چربي ونخوري نو په يوه مياشت کې به يې ۱۴ سلنه بد کولسټرول کم او ښه کولسټرول به يې ۱۲ سلنه زيات شي ، همدا راز به يې ۳۰ سلنه ترايي ګلسرايډ هم کم شي ؛ نوموړ ويلی شوچې دزړه مريضانو ته روژه ډېره ګټوره ده .

په زړه پورې داده چې

نا مسلمان نن دساينس پر بنسټ دروژې دافاديت نه خبرېږي او مني يې او مسلمانان له ۱۴ پېړيو راهيسې هر کال يوه مياشت فرض روژې نيسي_ او دفرض ترڅنګ دنفلي روژو اهتمام هم کوي .

دګرمی روژو کې چې څوک ګرځېدل يا شاقه کارو نه کوي او بدن خوله کېږي نو دمضرو اجزاءو ترڅنګ دبدن نه اوبه هم زياتې خارجېږي نو ځکه په روژه ماتي کې

دتازه مېوو خوړل ډېر ګټور دي ؛ دا دبدن اوبه پوره کوي او دتنديې مخه نيسي .

مستې هم دتنديې مخه نيسي نو په پشلمي کې يې کارول ډېر ګټور دي .

دبدن دوزن کموالی هم دروژې يوه مهمه طبي ګټه ده خو بايد په ياد ولرو چې دا ګټه هغه مهال تر لاسه کولای شو چې په روژه ماتي او پشلمي کې دخوراک سره احتياط وکړو ؛ خواړه مو ساده وي ، تازه مېوه او مستې پکې شامل وي او دکباب ،پکوړو، پيرکواوسموسو په څېر دسروکړو ځيزونو نه موخان ساتلی وي .

دروژه ماتي ترځنګ په پشلمي کې هم دخورما خوړل ګټور دي ځکه چې خورما کې کلوريز، شکر او حياتين مواد په ډېر لوړ مقدار شتون لري نو دروژې حالت کې دبدن د رامنځته شوي ضعف ښه ازاله کوي ؛ که ډېرې نه وي لږ تر لږه د درې درې دانو خوړل هم ډېره ګټه کوي .

ډېر خلک داسې هم وي چې له پشلمي نه پس او بيا مازيګر مهال دمعدې دجوش نه تنګ وي .

دوئ عموما هغه خلک وي چې دسرو کړو اومصاله دارو خوراکونو ،چای او غازي مشروباتو(پيپسي ، کوکا کولا او داسې نور) عادي وي .

ددوئ ښه علاج دادی چې روژه کې غازي مشروبات بېخي پرېږدي ؛ خپل خوراک ساده کړي ؛ چای ډېرکم او داوبو استعمال زيات کړي .

ځيني خلک په روژې مياشت کې دبدن د درد دشکايت سره مخامخ کېږي او داسې محسوسوي لکه دبدن پلې يې چې ډېرې سختې وي ؛ په بدن کې داوبو اونمکياتو خصوصاپوټاشيم ، کيلشيم ميګنيشيم کموالی ددې اصل لامل دی چې په تازه مېوو ،خورما پخو او خاموسبزيجاتو دا کمی پوره او ورسره ددې درد مخنيوی کېدای شي .

په روژه کې ځني خلک دقبض

دتکليف سره مخامخ کېږي چې عمده لامل يې په خوراک کې بې احتياطي ده؛ ساده خواړه ، تازه مېوه ،خام اوپاخه سبزيجات ډېر خوړل ؛ د اوبو ډېر ځښل په روژه ماتي اوپشلمي کې سپېغول خوړل او دکباب ،غوښو،لوبيا دال او نورو حبوباتو،پکوړو، پيرکواوسموسو په څېر دسروکړو ځيزونو نه ځان ساتل ددې اصل علاج دی .

په ړومبنو روژو کې ډېر خلک په سر درد هم اخته کېږي ؛ دا هم دتشويش وړ خبره نده ؛ دخوراک او خوب د وختونو دبدلېدو له امله دسر درد فطري دی ؛ همدا راز کوم خلک چې چای يانور مشروبات زيات ځښي نو روژه کې يې دسر درد طبيعي خبره ده ؛ ښه داده چې داسې خلک له روژې څو ورځې وراندې دهغه مشروب کارول کم کړي په کوم چې عادي وي.

دخوب کموالی هم دسر د درد لامل ګرځي ؛ دخوب په پوره کېدو هم دامشکل حل کېږي .

دشکر مريضانو لپاره روژه نيولو کې دنورو په نسبت طبعي تکليف زيات وي ؛ کوم تنان چې په پشلمي کې يې خوراک کم وي يا شاقه او درانده کارونه کوي نو طبعي ده چې دداسې تنانو بدن کې دکيلوريز مصرف زيات وي چې دکيلوريزکموالی دشکر دکموالي اوغورځېدو لامل ګرځي چې ورسره دبې هوښه کېدو اوغورځېدو خطر زياتېږي اوترځنګ يې د بدن په نورواعضاءو دناوړه اغېزې وېره هم ډېرېږي نوځکه ډېره اړينه ده چې ددوا ، خوراک او انسولين دمقدار او وختونو دتعين په اړه خپل ماهر معالج ته بيا بيا مراجعه وکړي او په لارښونو يې عمل وکړي. همدا راز دګردو مريض هم بايد دخپل ماهرمسلمان معالج په لارښوونو عمل وکړي.

یوه فکرانګېزه لیکنه!

اې مسلمانانو!
اې زموږ غلامانو!

مولانا سید ابو الحسن علي ندوي رحمه الله

داسلامي نړۍ مفکر عالم مولانا سید ابوالحسن علـي نـدوي رحمـه اللـه څوکالـه دمخـه دا لانـدې یوفکرانګېزلیکنه لیکلې وه، کومه چې نن حرف په حرف په حقیقت اوربښتولی باندې مبني بریښي!

اې مسلمانانو!

ایا تاسو اورئ؟

دمغرب لـه علمي ادارو اوخبرنیزومرکزونوڅخه پرلپسې دایواواز موږ ته مخاطب دی خوافسـوس چې څوک ورته توجه نـه کوي، دهیڅا وینه په جوش نـه رازي او دهیچاغیرت نه نه پاریږي، دا اواز دی:

اې مسلمانانو!

اې زموږغلامانو! واورئ!

ستاسودبخت ورځې تیرې شوې

ستاسودعلم چینې وچې شوې

اوستاسو دواک لمرډوب شوی دی

له دې وروسته ستاسې له واکمنۍ اوسلطنت سره څه؟ ستاسولاسونه شل شوي اوستاسـې توري زنګ وهلي، اوس موږستاسوباداران یو، اوتاسوټول زموږ غلامان یئ

ګـورئ! مـوږد سـرنه ترپښـوپورې تاسـو څنګـه دخپلې غلامۍ په قالب کې غورځولي یئ!

زموږ کالي اغوندئ، زموږژبه وایـئ! اوزموږکړه وړه خپلـوئ اوپـرې ویـاړئ! ستاسـوکوچنۍ، کـوچنۍ ماشـومان هـم زمـوږ مـذهبي نښـه نیکټـائي اچـوي اوبیاښـوونځي تـه درومـي، ددې لبـاس پـه لیـدلو ستاسوزړونه خوشالیږي؟

موږ بیوقـوف نـه یـو، موږستاسـوزړونه اوماغزه خپل غلامان کړي، اوس تاسـوزموږ پـه سترګول لیدل کـوئ، زموږپـه غوږونواوریـدل کـوئ، اوزمـوږ پـه دماغوسوچ کوئ

اوس ستاسې په تن کې ستاسوخپل څه نشته

اوس دژوندپه هره برخه کې موږته محتاج یئ، ستاسـوپه کورونـوکې زمـوږ طـورطریقې رایـج دي، ستاسوپه مغزوکې زموږافکاردي، ستاسـوپه ښـوونځیو اوپوهنتونوکې زمـوږ جـوړکړی نصـاب تـدریس کېـږي اوستاسوپه بازارونوکې زموږتوکي پلورل کیږي

ستاسوپه جیبونو کې زموږ سبکه ده

ستاسو سبکې موږپخواخاوري کړې دي

تاسو به زمونږ دحکم نه څنګه سرغړونه کوئ؟

تاسوزمونږ ملیاردونه اوکربونه پوروړي یئ، ستاسو اقتصاد زمونږ په واک کې دی. ستاسوبازارونه اومنډهیاني زمونږ په رحم وکرم دي، ټولې سوداګریزې اداري چې سهارراپورته کیږي زمونږ سبکې ته سلامي کوي

تاسوپخپلو ځوانانو ډیر ویاړئ! او دعوه کوئ چې لږم نم وي دازمکه ډیره زرخیزده ساقي!

خو واورئ! اوس دغه زرخیززمکه، مونږ له هیروینو ډکه کړې، په شهوت پاروونکو انځورونو، دزنا هیجان خیزمناظرو څخه په ډکو فلمونواو د زرو دهوس تروشواویوپه ورګډولومې بیکاره ګرځولې ده

تاسو پخپلوپوځونوډیرغرورلرئ

اوس لاړشئ! دخپل پوځ وسله تونونه وګورئ! که مونږ درڅخه لاسونه ونیسو، نوستاسو ټول نظام به درهم برهم شي

اوس تاسو زمونږ داجازت پرته په چا حمله نشئ کولی

دبوسنیا اوعراق حشرتل په یاد ساتئ

ځئ! اوس عافیت موپه دې کې دی، کوم دژوند اوحکومت طرز چې مونږ تاسوته ښودلی دی له هغه څخه دویښته برابر هم انحراف ونکړئ

خبردار! چې زمونږ دغلامۍ نه دوتلوکوښښ ونکړئ، زمونږ امید هم دادی، چې تاسو ترکلونوهم داسې نشئ کولی، ځکه چې څومره ددې کوښښ محرکات کېدل یعنې دایمان پختګي، دجهادجذبه، ژورنظر، دیني غیرت، هغه ټول مونږ ستاسې دپوهانو، عالمانوڅخه ددنیاوي څوکیزونو په بدل کې اخیستي، مونږ ستاسې میرمنوته دتلویزونو له لارې دبې حیایې ترغیب ورکړ.

دزیب وزینت اوښکلا دغوره توکوپه ورکولو سره مو دهغوی نه پوړني ښکته کړي دي اوستاسو نارینه ووته دلوځواوفحش فلمونو په ښودومو دهغوی د مردانګۍ ریښې قطع کړې، اوس په تاسوکې هیڅوک خالد، طارق، صلاح الدين اوټیپو پیدانشي

او واورئ! مونږ احسان فراموش نه یو

ستاسې دقوم څیني احسانونه پر مونږ هم شته

په خاصه توګه ستاسې دعلماوو چې هغوی په مسجدونو اومدرسوکې په کیناستو دیوبل په تکفیرولو سره زمونږ دتهذیب او افکاروخورولو لپاره لار صفا کړې

ستاسو پوهان اومفکران ځانوته دپرمختللو اوماډرن ویلوپه شوق کې ملحدین اوزندیقان ګرځیدلي، زمونږفلسفه یې خوره کړې ده، ستاسوتعلیمي مرکزونوکې، زمونږ نصاب ستاسې دځوانانوپه مغزوکې یې دومره ښه کینولی دی چې هغوی یې دخپل دین څخه بغاوت کولوته تیارکړي دي

مونږ د هغوټولو شکرګذاریو، ستاسې دین په تاسې څومره لوی بندیزونه لګولي دي

داحرام دی، هغه حرام، دا جایزدی، هغه ناجایزدی، دژوندلارې یې په تاسوتنګې کړې، مونږ تاسوته یوه نوې لاروښوده او تاسو دحرام وحلال دقید نه ځانونه ازاد کړل، ایا تاسو په دې زمونږ شکرنه اداء کوئ

اې مسلمانانو! اې زمونږ غلامانو!

ایا تاسو اورئ؟؟

مأخوذ له «مغربي ثقافت او ملحدانه افکار کانفوذ اور اس کي اسباب» نه



د برق پایې څوک نړوي؟ د تېلو مافیا څوک دي؟

زخمي افغان

آبله ورځ رسنیو غوغا ګډه کړه چې د کابل شمال ته میربچه کوټ کې د وارداتي برېښنا پایې په بمونو الوځول شوي دي او په دې سره د کابل او ډېرو سیمو برېښنا پرې شوې چې ورسره هیوادوال له ډېرو ستونزو سره مخامخ شوي دي.

د کابل اداري ویاندان چې په دې وروستیو کې یې یو مخ پوچو خبرو ته کار ویلی د دې خبرې له اعلان وروسته یې سمدستي تبلیغات پیل کړل چې طالبانو د برېښنا پایې الوځولې او د خلکو کورونه یې تیاره کړي دي.

ځینو خبریالان او د عامو رسنیزو فعالان چې همیشه د غوږ له کتلو وړاندې په پیشو پسې منډې وهي مخکې له دې چې په موضوع سر خلاص کړي یا رښتیا او دروغ ځان ته معلوم کړي، همدې خبرې ته یې کش ورکړ او د میربچه کوټ د پایو نړیدل یې په طالبانو تاوان کړل. خو د پیښې په سبا د سیمې خلکو او د برېښنا د اداري ځینو کارمندانو وویل چې د برېښنا د پایو نړول د طالبانو کار نه دی. ځکه طالبان د هیواد له شمال څخه بیا تر کابله، همداسې تر نورو ولایاتو همیشه کولای شي د برق د انتقال مخه ونیسي_ اما هغوی کله هم دا کار نه کوي. بلکې همدا اوس د طالبانو تر واک لاندې ساحو کې د برق د انتقال پروژې روانې دي او نوې پایې درول کیږي.

په میر بچه کوټ او شمالي کې د پایو نړول د هغو حکومتي مفسدو سرمایه دارانو کار دی چې دتیلو او ګاز په کاروبار ولګه لري. دغه حکومتي مفسدین چې د ملي شتمنیو په غلا پرسیدلي اوس یې د تیلو او ګازو مافیا رامنځته کړې او همیشه په سختو شرایطو کې د برېښنا پایې نړوي تر څو خلک د پترولي برېښنا کارولو ته مجبور شي او په دې ډول د دوی تېل او ګاز بازار وموموي.

تېر کال چې په سالنګ کې بیا بیا د برېښنا پایې ونړول شوې، په پیل کې د ارګ ډنډورچیانو هغه هم د طالبانو کار باله، خو وروسته معلومه شوه چې دغه کار د یوې خاص تخریبي ډلې لخوا کیده چې د تیلو مافیا استخدام کړې وه. د دې ډلې مشر دل اغا مشهور په ماتي هغه کس و چې د پارلمان د رئیس میر رحمان رحماني له زوی اجمل رحماني سره یې خاص روابط لرل حتی چې ورسره اخیستي انځورونه یې هم رسنیز شول. رحماني چې د کابل اداري د مقننه قوې مشري په غاړه لري یو لوی سرمایه دار او د اقتصادي مافیا مهم غړی دی.

په دې ډول ویلای شو چې د برېښنا د قطع کولو ټول مسؤلیت د کابل اداري په غاړه دی. هغه چارواکي په غلا، رشوت، فساد او د ملت د وینو په څښلو روږدي شوي، اوس یې فطرت مسخه شوی او په بې وزله هیوادوالو هیڅ قسم رحم او شفقت نه لري. تر دې چې د کرونا د بحران په مهال په داسې وخت کې چې د هیواد پولې تړل شوې، اقتصادي بحران، فقر او بیکاري په اوج کې ده او ورسره د رمضان میاشت هم ده. دوی د خپلو تیلو او ګاز د خرڅلاو لپاره په هیوادوالو برق قطع کوي او علاوه لا دا چې د بدنامۍ تور یې هم په طالبانو پورې کوي.

ملت باید په دې خبر واوسي. چې طالبان هیڅکله د ملي پروژو په خاص ډول د برېښنا د انتقال مخالف نه دي. که طالبان د برېښنا د انتقال مخالف وای، هیڅکله به د ازبکستان برېښنا تر پکتیا او غزني نه وای رسیدلې، ځکه دغه سیمې اکثر د طالبانو په لاس کې دي. اصلا د کابل مفسد چارواکي چې د اقتصادي مافیا غړي دي دغسې ظالمانه او بې رحمانه کارونه کوي تر څو د ملت د رګونو وروستی څاڅکی وینه هم وڅښېښي.

دامریکا شیطاني لومې

او د ترکې مدبرانه اقدامات

حسن مومند

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دتېر۲۰۱۹م کال داکتوبر میاشت په ۹مې نېټې ترکې دشام په کرد مېشتې سیمې حمله وکړه .

ترکې ځکه دخپل هېواد نه بیرون دشام په کردانو حمله وکړه چې دشام کردان د P.K.K په نوم دترکې دکردانو وسلوال تنظیم سره جوړې اړیکې لري.

ترکیه وایې چې P.K.K ته دامریکا او اسرائیلو نظامي او مادي مرستې دهمدې شام او عراق کردان وررسوي.

دترکې په ۹۰ ولسوالیو کې ۲۱ ولسوالۍ دکردانو دي او پدې هېواد کې د P.K.K په نوم دکردانو وسلوال ازادي غوښتونکي تنظیم په مختلفو وختونو کې ددولت په نظامي اوملکي تاسیساتو ستر بریدونه کړیدي ؛ دوئ او دترکې دولت ته په جنګونو کې ستر ځاني تلفات هم رسېدلي دي خو چې دترکې دولت اوفوځ منظم او قوي دی نو تر اوسه یې دترکې نه دخپلواکۍ اخستلو ټولې هیلې دخاورو سره خاورې شویدي.

دشام په کردانو داحمله په داسې وخت کې وه چې امریکا ددې سیمو نه خپل فوځونه وویستل او د کردانو سره له نظامي مرستې یې هم انکار وکړ حال داچې په ۲۰۰۳م کال کې پر عراق دامریکا دیرغل نه پس کردانو په هر قدم او هره لمحه کې دامریکا سخت حمایت کړی ؛ دشمالي عراق کردان دامریکا پر ضد دعراق دمسلمانانو جهادي مقاومت دکمزوري کولولپاره په میدان کې ودرېدل او دکردانو عسکري تنظیم بیشمرګه په ګنو سیموکې دعربو سني مسلمانانو عامه وژنه هم وکړه .

دیادولو وړ ده چې دشمالي شام نه امریکا دوتلو داعلان نه سمدستي پس اسرائیلو دکردانو حمایت اعلان کړ چې داترکې ته ډېر ستر دام دی .

دامریکا شاته کېدل اوترکې ته میدان خالي کول اصلاً ددې لپاره و چې دکردانو، روسې ،اسدي دولت، پاسداران انقلاب او حزب الله سره دترکې جنګولو ته لارې برابرې او دسعودي په څېر ترکیه هم په یو نه ختمېدونکي جنګ کې رابښکېل شي خو ترکیه چې دامریکا او اسرائیلو په ارادو ښه پوهېږي نو امید دی چې دداسې اقداماتو نه به ځان ساتي چې له امله یې په جنګ کې رابښکلېږي.

هو! دشام نه دامریکایې فوځیانو د وتلو نه پس روسیه اوترکیه دوه ستر طاقتونه په شام کې یوبل ته مخامخ شول چې هر یو دبېلې متحاربې ډلې تر شا ولاړ دی .

روسیه دبشار الاسد ترشا ولاړه ده اوهرډول نظامي مرستې یې کوي خو ترکیه بیا دبشارالاسد دمخالف اپوزیسیون مرسته کوي چې همدا ټکی په ځینو مواردو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ داختلاف سبب ګرځي او امریکا داختلاف دهمدې ټکي نه په

استفاده په شام کې روسیه اوترکیه دیوبل پر ضد جنګول غواړي .

ترکیه دنړۍ هغه هېواد دی چې ترټولو زیاتو شامي مهاجرینو پکې پناه اخستې ده نوځکه په شام کې ددې مهاجرینو دمېشت کولو او ورته دیومصئون زون جوړولوځان له بل هر هېوادنه زيات مستحق ګڼي .

خوداچې روسیه په شام کې فعال حضور لري نوځکه پدې هکله دروسي حمایت او مرسته هم اړینه بولي .

په ۲۰۱۷م کال کې پدې هکله دروسي اوترکي ترمنځ په سوچي او استانه کې ځوځلې خبرې اترې هم شوی وې چې په نتیجه کې یې دشام د دری ولایتونو په مشترکې برخې حمص ، ادلب اوحلب کې دمصئون زون په رامنځته کولو اتفاق هم راغلی و .

خو دحزب الله ، ایران او روسي په مرسته چې داسد فوځونو دهېواد ډېرې برخې دځپلو مخالفینو نه ونیولې نو دروسي او ترکي ترمنځ دشویو تړونونو پروا یې ونه ساتله او دتېر کال په دسمبر کې یې په ادلب هم حملې پیل کړې او هماغه نظامي ډلې یې په نښه کړې کومې چې دترکي اتحادیان ګڼل کېږي.

اوپه همدې لړ کې چې داسدي فوځونو له لورې تېره میاشت پر ادلب ځمکنی حمله وشوه نودروسي دجنګي طیارو له لورې په شوي بمبار کې دفورورۍ په ۲۶ مې نېټې دترکي فوځ په نښه کړ چې دترکي ۳۴ فوځیانو پدې حمله کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. ددې پېښې په مقابل کې ترکي هم دانتقام اخستلو ګواښ وکړ او هم یې دلبناني شیعه ملېشې حزب الله ، دایران دپاسداران انقلاب اواسدي ملېشو باندې بمبار وکړ چې په نتیجه کې دیادو فوځي ډلو ۲۷ وسلوال ووژل شول .

دا دشام په روانې جګړې کې ترټولو ستر تلفات دي چې په یو ځل دترکي فوځونو ته ور اوړي .

اسدي فوځیان او اتحادیان یې په تېزۍ سره مخ په وړاندې ولاړل او دروسي دهوایي ځواک په مرستې یې د ادلب ګڼې سیمې تر خپل واک لاندې راوستې دي چې دترکي ۳۴ فوځیان هم دهمدې بمباریو په لړ کې له منځه ولاړل.

ددې پېښې درامنځته کېدو نه پس د روسي ددفاع وزارت وویل چې دترکي فوځیان د دولت دمخالفو وسلوالو ځواکونو په منځ کې وو چې په خطا دبمبار ښکار شویدي ؛ ترکې دلته دځپلو فوځیانو دشتون نه روسیه نه وه خبره کړې بلکې دترکي له لورې دورکړل شوو معلوماتو له مخې باید دلته دترکي فوځیان نه وای ؛ روسي په هغې سیمې بمبار ندی کړی په کومې کې چې دترکي فوځونو فوځي مرکزونه شتون لري .

ترکیه دخپل فوځ پدې دومره سترو ځاني تلفاتو ډېره غصه ښکاره اودفاع وزارت یې ویلي و چې هېواد یې پرېکړه کړېده چې داسدي دفوځونو دحملوپه نتیجه کې درامنځته شوې دې پېښې هم مثل جواب ورکړي.

دموکې نه په ګټې اخستلو امریکا په ترکي فشار راوست چې دروسي سره دهوایي اوځمکني دفاعي نظام دخریداری تړونونه لغوه کړي خو ترکي دهوښیارۍ نه کار واخست اود امریکا دا فشار یې قبول نکړ .

چې له همدې امله ددواړو هېوادونوترمنځ تاوتریخوالی راکم شو .

دروسي او ترکي فوځونه په ادلب کې یو بل ته مخامخ وو ؛ غربي شیطاني طاقتونو دجنګ اور بلولو ډېرې زیاتې هڅې کولې خو ښه دا وه چې ددواړوهېوادونومشرانو له عقل نه کار واخست ؛ دروسي ولسمشرپوتین دترکي فوځیانو په مړینه خواشیني ښکاره کړه ؛ طیب اردګان ته یې تعزیت وکړ او ویې ویل: سره له دې چې ترکي فوځونو دلته دځپلومرکزونو دشتون نه روسي اوشامي فوځونه نه وو خبر کړي خو موږ دا خبره منو چې په ادلب کې زموږ دفوځیانو دخطا په نتیجه کې ترکي فوځیانو ته مرګ ژوبله واوخته ؛ داډېره لویه صدمه ده ؛ موږ پدې پېښه ډېر خواشيني یو .

پوتین دا اعتراف هم وکړ چې دترکې په جوابي حملو کې شامي فوځ ته هم لوی ځاني تلفات اوختي .

پدې هکله دپوتین او طیب اردګان ترمنځ لیدنې نیږدې درې ساعته دوام کړی و چې پکې دشمال لویدیځ شام په روان وضعیت مفصلې خبرې رامنځته شوې .

دخبرو په پیل کې پوتین وویل چې د ادلب وضعیت داسې حالت ته ور داخل شویدی چې باید په اړه یې مونږ مخامخ پرلپسې خبرې ولرو .

په جواب کې طیب اردګان وویل : د ادلب وضعیت مونږ ته ډېر ښه رامعلومیږي نو ځکه یې په اړه مخامخ خبرو ته چمتو کیږو.

ددواړو مشرانو ترمنځ د اوږدو خبرو نه پس ددواړو هیوادونو پلاوي هم په خبرو کې شریک شول ؛ طیب اردګان مجلس ته په خبرو کې ادلب کې دامنیت راتلو په اړه هیله مندي ښکاره کړه او زیاته یې کړه چې دترکې او روسې ترمنځ ښې اړیکې مثالي دي او مونږ غواړو چې دا لازیات استحکام ومومې.

دیادولو وړ ده چې دشام په ادلب ولایت کې د ترکې ۷زره فوځیان شتون لري .

له دې وړاندې هم په ادلب کې دترکې ۴فوځیان وژل شوي وو ؛ بلکې ویل کیږي چې تر اوسه په شام کې دترکې د وژل شویو فوځیانو شمیر تر ۱۰۰ پورې رسیږي.

دترکې او روسې دمشرانو یاده لیدنه په داسې وخت کې ترسره شوه چې امریکا او ناتو په شام کې د روسې پرضد دترکې حمایت اعلان کړ او دمارچ په ۳ مې نیټې په ترکې دامریکا سفیر اوشام لپاره دامریکا ځانګړې استازې ادلب ته سفر هم کړی و .

امریکا دفرورۍ نه راپه دې خوا څو کرته په شام کې دترکې حمایت اعلان کړیدی .

له نیږدې نه دشام دحالاتو څارونکې پوهان وایي چې امریکا او نور لویدیځ غوښتل چې خپل دواړو دښمنان روسیه او ترکیه په شام کې په خونړې جنګ اخته کړې خوښه دا وه چې دترکې ولسمشر پدې هر څه پوه و نو له حوصلې او ښه تدبیر نه یې کار واخست هم یې دجنګ نه ځان وساتلو اوهم یې دخپل مقام اوحیثیت ساتلو په موخه روسیه دې ته اړ کړه چې تعزیت ورته وکړې او ښینه ترې وغواړې .

کابو ۵ کاله وړاندې هم یوه داسې پیښه رامنځته شوې وه چې دترکې او روسې ترمنځ دلوی جنګ درامنځته کېدو سبب شوی وه خو هغه مهال روسې حوصله وکړه او دجنګ مخه ونیول شوه .

د۲۰۱۵م کال دنومبر په ۲۴مې نیټې دشام او ترکې پر سرحدي سیمه کې ترکې هوایي ځواکونو دروسې یوه جنګي طیاره رانسکوره کړه

ترکې ویلې و چې د روسې طیاره دوه کلومتره دسرحد نه را اوړیدلې وه چې لږ تر لږه لس کرته تنبیه ورکړل شوه او چې ستنه نه شوه نو په نښه کړای شوه.

خو روسې بیا دترکې دا ادعا ردوله او ویل یې چې دروسې طیاره هیڅکله هم دسورې له حدودو ترکې ته نه وه ور اوړیدلې او دا طیاره دشام په حدودو کې دننه ویشتل شویده.

دروسې دا ایس یو ۲۴ ډوله طیاره دترکې ایف ۱۶ ډوله طیارې په نښه او رانسکوره کړې وه .

د روسې دا طیاره دشام دلتاکیه ولایت دجبل ترکمان په سیمه کې راپریوته او دطیارې دواړه پیلوټان هم هلاک شوي وو.

په یادو دواړو خورا نازکو حالتونو کې دروسې اوترکې یوبل سره کېناستل ،تفاهم او دخونړې جنګ مخه نیول ددې خبرې دلیل دی چې دشیطاني طاقتونو دشوموپلانونو مخه نیول دومره ګران کار ندی لکه څنګه چې خلک فکر کوي خوپدې شرط چې هوښیار اوباتدبیره قیادت شتون ولري.

ځان او جهان د صبر په هینداره کې

عبد الرقیب رقیب

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لأهله والصلاة على أهلها وبعد :

غواړو په هغه څه وغږېږو چې د دیني ارزښتونو بنسټ ګڼل کېږي او د ټولو ښېګڼو اساس دی...

صبر دی چې عفت شته، انسان چې له پردیو خپلې سترګې او شرمګاوې خوندي ساتي همدا عفت دی چې په صبر رامنځته کېږي.

صبر دی چې راز ساتنه شته، انسان چې هغه فشارونه وزغمي چې د افشاء په خاطر وربانـدې راځي همدا صبر دی او رازساتنه وربانـدې رامنځته کېږي.

صابر په حقیقت کې زاهد دی، څوک چې خپل نفس له بې ځایه خرڅې منع کړي همدا زهد دی او په صبر رامنځته کېږي.

صبر دی چې قناعت شته، څوک چې په خپله برخه راضي شي همدا قناعت دی او په صبر رامنځته کېږي.

صبر شته چې حلم شته، څوک چې د غضب غوښتنې ونه مني همدا حلم دی، د الله صفت دی او په انسان کې د صبر په وسیله پیدا کېږي.

صبر دی چې میړانه او زړورتوب شته، څوک چې د دښمن قوت ته ټینګ شي، بریدونه یې وزغمي او ورنه ونه وېرېږي همدا شجاعت دی او د صبر ثمره ده.

راځئ په هغه ارزښت وغږېږو چې د «حسن خلق» بنسټ دی: په روایت کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د ښو خویونو په اړه راغلي دي (صل من قطعک واعف عمن ظلمک وأحسن الی من أساء الیک).

که څوک درنه ځان جدا کړي او درنه لرېتوب خوښ کړي، د غم او خوشحالۍ خبر دې نه اخلي، خو ته ورسره بیاهم پیوستون کوې، د غم او ښادۍ پوښتنه یې کوې همدا چاره په زغم کېږي، زغم صبر دی.

که څوک درسره ظلم وکړي خو ته له قدرت سره سره له انتقام نه ځان رامنع کړې دا صبر دی.

که څوک درسره بد وکړي خو ته ځېل ځان له عکس العمل نه راتم کړې بلکې نیکي ورسره وکړې دا چاره په زغم کیږي او زغم د صبر بل نوم دی.

نو راځئ د صبر په اړه پوره معلومات ترلاسه کړو:

صبر څه دی؟ څو قسمونه لري؟ حکم يې څه دی؟ څومره اهمیت او فضیلت لري؟ او داسې نور...

صبر په لغت کې تم کیده، زغم او منع ته ویلای شي، الله تعالی فرمايي: (وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ..) الآية.

او ځېل ځان دی له هغوی سره تم کړه چې سهار او ماښام خپل پالونکی بولي ترڅو خوښي يې ترلاسه کړي.

صبر په شریعت کې د الله د رضا لپاره د يو کار په کولو ځان تم کول يا له يوکار نه د ځان منع کول او د تقدير زغملو ته ويل کيږي ، (وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ..).

صبر په ټوله کې فرض دی، ځکه الله تعالی ورباندې امر کړی دی: (وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ..) په صبر او لمانځه د الله مرسته وغواړئ.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا..) ای مؤمنانو! صبر وکړئ، د دښمن په مقابل کې ټينګ شئ او د خپلو پولو څارنه وکړئ.

همدا رنګه الله تعالی د صبر له مقابل نه نهي کړې ده، (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ). ای مؤمنانو ! کله چې د جنګ په وخت کې له کافرانو سره مخ شوئ نو شاوې مه وراړوئ (زغم وکړئ).

(وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ). ناغېري مه کوئ، غمژنېږئ هم مه، تاسې به برېمن ياست که مؤمنان ياست.

صبر په دريو مواردو کې لازم دی:

په طاعاتو او اوامرو بايد صبر وکړو ترڅو په سمه توګه ترسره شي، لکه حج، زکات، لمونځ، روژه، جهاد او داسې نور...

له مناهيو او ممنوعاتو بايد صبر وکړو ترڅو ورباندې اخته او پکې ښکيل نشو، لکه دروغ، دوکه، سود، قمار، بې حجابي، غيبت او داسې نور...

په مصيبتونو او تقديري پېښو بايد صبر وکړو او پرې غصه نشو، لکه مرض، د خپلوانو مرګ، مالي تاوان او داسې نور...

الله تعالی فرمايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)

ای مؤمنانو! عباداتو ته پابند وه اوسئ، له ممنوعاتو لاس درونيسئ؛ مصيبتونه وزغمئ؛ او د دښمن په وړاندې کلک ودرېږئ؛ جهاد وکړئ او سرحدونه مو وساتئ؛ او په ټولو حالاتو کې له الله وېره کوئ ترڅو فلاح او بريالیتوب ومومئ!.

فلاح د خوښيو ترلاسه کول او له غمونو ژغورل ده؛ که څوک صبر وکړي، د کافر په وړاندې مقاومت وکړي، خپل سرحدونه له کافرانو وساتي او تقوا کوي نو د الله تعالی د وعدې په اساس ويلای شو چې دواړه لاسته راوړنې به ولري.

راځئ د صبر په اړه د رسول الله او نورو پخوانيو نه خبر واخلو او بيا خپل ځانونه ورسره مقايسه کړو، ترڅو جوته شي چې له موږ نه ولې «فلاح» کډه کړې ده؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم له يوې لور (فاطمې) پرته په دنيا کې ټول اصول او فروع له لاسه ورکړل، خو بيا هم مايوسه نشو بلکې د ټول بشريت لپاره يې خدمت وکړ او هراړخيز نظام يې ورته ترلاسه کړ...

رسول الله چې دنياته راتلل پلار يې عقبی ته تللی و، په شپږ کلنۍ کې د مور له غېږې هم محروم شو، په اته کلنۍ کې د نيکه سيورې هم ورنه فنا شو...

رسول الله هرڅه وزغمل خپل شخصيت يې داسي وساتل چې په ټول هيواد کې په امين، رښتوني، صالح، همکار، خواخوږي، د مظلومانو مل... مشهور شو... او ثابته يې کړه چې يتم د انسان په شخصيت منفي اثر نه شي غورځولای..

خو موږ په دې بهانه چې اولادونه مو يتيمان نشي- خپل شخصيتونه وژنو، د دښمن حيواني غوښتنو او غير اسلامي قوانينو ته غاړه ږدو!.

رسول الله ته آسماني امر وشو چې خلک سمې لارې ته دعوت کړي او په اسلامي حدودو کې يې خوندي کړي؛

خلکو غبرګون وښود، مختلفې ستونځې يې ورته جوړې کړې، تهديدونه، بنديزونه، تهمتونه او هرقسم خندونه يې ورته جوړ کړل...

الله تعالی ورته وفرمايل :

﴿وَدُّوا لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ﴾ دوی ارزو لري چې ته ليږ ور نرم شې «له سخت دريځ لاس واخلې» نو دوی به هم درسره نرمي وښيي. اما رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغوی ټول ظلمونه وزغمل صبر يې وکړ خو خپل قوانين يې ونه سکنل بلکي په «لا تطع کل حلاف...» يې عمل ته دوام ورکړ.

کافرانو ورباندي بنديزونه ولګول، داسي بنديزونه چې په اوسنيو کې يې ساری نه ليدل کيږي: پير او پلور ورسره بند شو، راشه درشه ورباندي بنده شوه، خبر اخيستل يې جرم شو، تداوي يې ممنوع شوه، کلونه يې په داسي حال کې تير شول چې د غره ګياوي او په دښتو لويدلې څرمنې هم ورته غنيمت ښکاريده...

عجيبه دا چې دغه بنديزونه د دوی هغو خپلوانو هم ورسره وزغمل چې مؤمنان نه ول، دغسې صبر ته لغوې صبر ويلای شو چې اخروي ثمره نه لري يواځې د انساني مېړانې غوښتنه ده، ماشومانو برداشت کړل، مېرمنو او سپين ږيرو وزغمل، خوانانو حوصله له لاسه ورنکړه... هيچا ونه ويل چې دا څه حال دی!. هيڅوک تيار نشو چې بنديزونو ته تسليم شي او د دښمن په وړاندي څه نرمي تجويز کړي...

له بنديزونو وروسته ورباندي عملياتو دوام وکړ، زندانونه، هجرتونه، شهادتونه او شپني عمليات ورځنی خبرې وې...

خو مؤمنانو هرڅه زغمل او مستقل نظام يې تأسيس کړ، داسي نظام چې بالکل د ټولې نړۍ د نظامونو خلاف او د ټولو لپاره لوی ګواښ و، نه يواځې تأسيس بلکي په سختو شرائطو کې يې له خپل نظام او خپلې خاورې په کلکه دفاع وکړه، له لوږې يې په نسونو ډبرې وتړلې خو د دښمن فشار ته يې صبره نه شول...

که موږ د صبر په اينداره کې خپل ځانونه وګورو نو څه به ووينو...!

موږ که اسلامي نظام تأسيس کړو نو ملګري ملتونه راباندي له يو کونج نه غږ وکړي چې دا نظام مو په رسميت نه پيژنو؛ بس له دې سره په ټول ولس او هيواد اور بل شي، آسمان ونړيږي او ځمکه وچوي.. ټول په خپل نظام پسې خولې خلاصې کړي ته به وايې الله ورنه ناراضه شو.. يابه د کافر په وړاندي نرمي عملي کيږي او يا دوی يوې خواته کيږي او کفري لښکرې په هيواد راپريوزي.. ترڅو هرڅه ترپښو لاندي کړي او د نظام په نوم داسي ډانچه راباندي مسلطه کړي چې هيڅ روح پکې نه وي...

که کوم حکومت د کفري پينځو هيوادونو غوښتنې ونه منې نو هغوی ورباندي بنديزونه وضع کړي؛ دا بنديزونه نو هيڅاته د زغم وړ نه وي، د نړۍ د هرکونج مسلمانان ورنه په وېره کې وي او ټول هغه حکومت ته د پرې ګوته نيسي- چې خپل ولس يې له دا ډول بنديزونو سره مخ کړی وي، حال دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل خپلوان له دې نه سختو بنديزونو ته وړاندي کړل...

طالوت چې د غزا لپاره ووت نو مؤمنانو ته يې وويل: په مخ کې يوه وياله راځي که هرڅوک ورنه اوبه وڅښې نو زموږ له صف نه به ويستل کيږي.. داسي وياله چې په څښلو يې مخکې هيڅ بنديز نه و، او نه يې په شريعت کې ورنه منع شوې وه... خو

بیا هم دوی ورنه منع شول.. په لښکر کې داسې مؤمنان ول چې په سخته تنده ورنه تږي تیر شول ترڅو د مؤمنانو له صف نه خارج نشي..

خو اوسنی ډیر شته چې د مؤمنانو له صفوفو نه د کافرانو مرستو، مؤسسو او حتی د هغوی جنګي صفوفو ته د دوو پیسو لپاره وزي! په روا وياله ازمویل خو لري خبره ده، بلکې الله ورته فرمایلي دي چې د مؤمنانو خلاف د یهودو او نصاراو ترڅنګ مه دریږئ، دوی دا هرڅه تریښو لاندې کوي او د یوې ګولۍ او یوې ورځې د راحت لپاره د کافرو سره اوږه په اوږه مؤمنان ټکوي...!!

ابراهیم (علیه السلام) چې له ټال نه د نمرود اور ته په لاره و، د الله استازي د مرستې لاس ورکړ، خو ابراهیم علیه السلام صبر وکړ او د جبریل مرسته یې ونه غوښته؛

اما اوسني مسلمانان د مسلمان هیواد په مقابل کې د کافرانو مرسته، مفته نه بلکې د معنویاتو او مادیاتو په بدل، ترلاسه کوي او بیا ځانونه ابراهیمي ملت هم ګڼي!!

که موږ صبر وکړو نو څه به ترلاسه کړو؟؟

که صبر وکړو نو الله جل جلاله به راسره وي؛ {وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} [الأنفال]. صبر کوئ الله له صابرینو سره دی.

د صابرینو اجرونه له حسابه وتلي بیخي زیات دي؛ {إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ}.

د صبر او ایمان په وسیله په دین کې امامت ترلاسه کیږي؛ {وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ}.

د صابرینو لپاره د الله له خوا درې ځانګړنې شته چې بل چاته نه ورکول کیږي: مغفرتونه، رحمتونه او هدایت؛: ﴿الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ﴾

صابرینوته د الله تعالی له طرفه د کومک ضمانت ورکړای شوی دی؛{بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ} [آل‌عمران].

په صابرینو به په جنت کې ملائکان سلامونه کوي؛ {وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ * سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ} [الرعد].

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یاسر کورنۍ ته په داسې حال حاضر شو چې هغوی د مشرکینو ترسختو تعذیبونو لاندې وروستی سلګۍ وهلې، خو د الله رسول ورته داسې توصیه وکړه : «صبرا یا آل یاسر فإن موعدکم الجنة». ای د یاسر کورنۍ! صبر وکړئ، ځکه ستاسو ځای جنت دی.

خو اوسني مسلمانان د تعذیب په وخت کې دا ډول توصیې له مظلوم سره د ظلم په معنی اخلي، حتی هغه وخت هم د صبر توصیه د عقل خلاف ګڼي چې د کافرانو مرستې ورنه بندې شوې وي، دوی د مرستو ترلاسه کولو لپاره هم بې صبره کیږي!!

قدرمن لوسونکې! زړه مې غواړي چې د صبر په اړه درته د ډیرو انبیاو، صحابه کرامو او نورو اسلافو عجیبې او له عبرت نه ډکې بیلګې وړاندې کړم خو دا چې لیکنه اوږدیږي نو فقط دومره به ووایو:

راځئ هر اړخیز صبر وکړو او نورو ته هم د صبر په اړه سپارښتنې وکړو، که مو هاااا او داا په وسه نه وي نو خلک خو بې صبرۍ ته دعوت نه کړو! صبر د ایمان راز دی او د صبر په خلاف کار کول د شیطان وظیفه ده، موږ ته نه ښایي چې د شیطان سره مرسته وکړو

که صبر وکړو نو فلاح به مومو او که صبر ونه کړو نو په دنیا او عقبی کې به لالهانده او سرګردانه یو - رب العزت مو له هرډول ذلت نه په امن لره.

وصلی الله تعالی وسلم علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه اجمعین.

...په تیریسي
م: شمس...

غامدیت...

داوسني عصر لویه فتنه...

ددیت مسئله

اوس مورږ دیوصحیح حدیث نه استدلال کوو چې دنارینه اوښځینه دیت برابرندی بلکې ترمنځ یې توپیر شته دی په صحیح حدیث کې دي چې:

«عقل المرءة مثل عقل الرجل حتى يبلغ الثلث من ديته» (رواه النسائي، دارقطني وصححه ابن خزيمه)

په دې حدیث کې دجراحاتو،یعني دتن دغړو(اعضاؤ)تلف کیدوپه صورت کې ددیت بیان شوی دی، چې ښکاره مطالب یې دادی چې میرمن دجراحاتوپه دیت کې هم یواځې ترهغه حده دنارینه ددیت سره برابره کیږي چې کله ددیت مقدارد ټول دیت(سل اوښانو)دیوثلث نه متجاوزنه وي، که دمیرمنې ددیت مقدار دټول دیت دیوثلث نه زیات شو(یعني دټول دیت نیم اویاددینه هم زیات شو)نوبیادنارینه اومیرمنې په دیت کې مساوات نه پاته کیږي، بلکې د دواړو په دیت کې عدم مساوات پیداکیږي

نوپه دې توګه ددې حدیث نه ثابته شوه چې نارینه اومیرمن دجراحاتوپه دیت کې هم مساوي ندي، بلکې ترمنځ یې ښکاره توپیرشتون لري، اوکله چې دجراحاتوپه دیت کې هم دنارینه اومیرمنې په دیت کې عدم مساوات دی نوبیا د دواړو په ټول دیت کې څنګه مساوات کیدی شي؟

اوس مورږ دامام بخاري رحمه الله دیوهم عصرمحدث محمدبن نصرمروزي(م۲۹۴ هق) دکتاب« السنة» نه یوه حواله وړاندې کوو:

«حدثنا اسحاق(انباء) ابواسامة عن محمدبن علقمة قال كتب عمربن عبد العزيز في الديات، فذكرفي الكتاب وكانت دية المسلم على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم مائة من الابل فقومها»

مورته اسحاق روایت کړی دی چې هغه دابو اسامه نه، هغه دمحمدبن عمروبن علقمة نه چې حضرت عمربن عبد العزیز رحمه الله ددیتونو باره کې یوکتاب ولیکه، په هغه کې یې و لیکل چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دمسلمان نارینه دیت سل اوښان وو، بیا حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه دخلکو لپاره دهم هغه مقدارسره سم زردینار، یا دولس زره درهم دیت مقررکړ،او درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې دازادې میرمنې دیت پنځوس اوښان وو،بیا حضرت عمررضی الله عنه (پخپله زمانه کې) دښاریانو لپاره ددغه مقدار دمتبادل په توګه پنځه سوه دینار، یا شپږزره درهم ددیت په توګه مقرر کړ

ښکاره ده څنګه چې یې دنوم نه بریښي په دې کتاب کې فاضل مصنف یواځې هغه احادیث راوړي کوم چې د« سنتِ ثابته» درجه لري، نودمیرمنې ددیت په مسئلې کې درسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دادی چې دمیرمنې دیت دسړي ددیت نیم دی

کوم خلک چې دنارینه اوښځې په دیت کې دمساوات قائل دي هغوی دخپل موقف په دلیل کې لاندې حدیث وړاندې کوي:

المسلمون تتكافأ دماءهم

دتولومسلمانانو وينه برابره ده،

خوداحديث دمسلمانانوپه وينه کې مساوات ښکاره کوي دميرمنې اوسړي ددیت مساوات ددينه کوم ځای ثابت شوی دی؟بيا دامت ټول فقهاوو، محدثینو اومفسرینو داحديث دقصاص په ضمن کې اخيستی دی او ددې يې دامطلب اخيستی دی چې په قتلِ عمدکې قصاص اخيستل ضروري دی مقتول که نارينه وي يا ښځينه اويا غلام ،په هر صورت کې وينه برابره ده، او دقاتل نه به يې قصاص اخيستل کيږي

دصحابه وواثار او اجماع:

ددیت په مسئله کې دحضرت عمررضی الله عنه اودحضرت علی رضی الله عنه داقول منقول کيږي:

عن ابراهيم النخعی عن عمربن الخطاب وعلی بن ابی طالب انهاقالا عقل المرءة علی النصف من دية الرجل فی النفس وفيما دونها

ابراهيم نخعي وايي:دحضرت عمررضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه داقول دی چې دميرمنې د قتل او دهغې دزخمونوديت دنارينه ددیت نيم دی په تفسيرغرائب القران (نيشاپوري) کې راغلي:

ان دية المرءة نصف دية الرجل باجماع المعتبرين من الصحابة

دميرمنې ديت دنارينه ددیت نيم دی اوپه دې دمعتبروصحابه وو اجماع ده

دامت اجماع:

په خطاء قتل کې دميرمنې ديت دنارينه ددیت نيم دی په دې دامت اجماع ده ، همدا حقيقت علامه ابن رشد په خپل کتاب بداية المجتهدکې دځلورو ايمه وو دمتفقه مسلک په توګه بيان کړی دی :

فرمايي: اما دية المرءة فانهم اتفقوا علی النصف من دية الرجل فی النفس فقط(بداية المجتهد ۲ټوک ۳۱۵مخ)

پانه شوه دميرمنې معامله په دې دټولو اتفاق دی چې دميرمنې ديت دنارينه ددیت نيم دی

هم دا راز عبد القادر عوده شهيد په التشريع الجنايي کې ليکي:

ومن المتفق عليه ان دية المرءة علی النصف من ديةالرجل فی القتل(التشريع الجنايي ۱ټوک ۶۶۹مخ)

په دې خبره دامت اتفاق دی چې چې د قتل(خطا)صورت کې دميرمنې ديت نيم دی

اوس که دامت اجماع هم په دين کې حجت وي اويقيناً حجت ده،نومورِ ويلی شو چې په اسلامي قانون کې دقتلِ خطا په صورت کې دميرمنې ديت دنارينه ددیت نيم دی اوپه دې باره کې دغامدي دريخ ناسم اوخطا دی

دبحث حاصل:

دبحث حاصل دادی چې د خطاقتل په صورت کې ددیت مقدارسل اوښان مقرردي، البته دميرمنې ديت دنارينه ددیت نيم دی دقرآن وسنت نه ددې تائيد کيږي، او دصحابه وو دتعامل او دامت داجماع نه داخبره ثابتيږي نوپه دې وجه دغامدي داموقف ناسم دی چې وايي:چې په اسلام کې ددیت مقدار له سره مقررندی اوداچې دنارينه اوښځينه ديت برابرندی ميرمن په معاشي توګه دچاکفيله نده، همدا وجه ده چې دهغې په مړينې سره کورنۍ او وارثانوته هغومره مالي زيان نه رسي څومره چې زيان چې ديونارينه په مړينه باندې رسي، همداسې په وراثت کې هم قرآن دنارينه په مقابل کې دميرمنې درجه نيمه ګرځولې ده اوپه مالي معاملاتوکې يې دهغې ګواهي نيمه کړې

خو ددين په باره کې دهيڅ مسلمان دا طرزعمل نشي کيدی، چې ځو پورې چې هغه دشريعت داوامرو او نواهيو په حکمت باندې نه يې پوی شوی يادشريعت کومه مسئله دهغه دخواهش اونفس خلاف وي نوهغه نه مني، داسې کول دايمان منافي او دکفرمترادف دي پای

پاکستان کې د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل کمیټې لخوا
په کمپونو کې له مهاجرینو سره د مرستو ځانګړی راپور

م-الیاس فاتح

﴿ وَالَّذِيْنَ آمَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِيْ سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِيْنَ آوَواْ وَّنَصَرُواْ أُولَـئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ﴾الآية

د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل کمیټې تشکیل او موخې یې:

اسلامي تاریخ ته په کتو هجرت او جهاد دواړه د اسلام داسې بنسټونه راپاتې شوي چې په وسیله یې د اسلام مبارک دین اشاعت او حاکمیت رامنځ ته شوی او دا لړۍ به تر قیامته روانه وي.د هجرت په دیار کې چې مهاجرین څومره مطمئن وي هومره جهادي بهیرکامیاب او اثرات یې مثبت وي.

رسول اکرم- صلی الله علیه وسلم- او صحابه کرامو -رضی الله عنهم- چې کله مدینې منورې ته هجرت وکړ، د مدینې منورې انصارو د دوی سره د ژوند په هر ډګر کې هر اړخیزه همکاري وکړه ،مهاجرین د ژوند په هره حصه کې مطمئن شول، دجهاد دوره یې شروع کړه ،په لږ وخت کې ډېر زیات فتوحات رامنځ ته شول او د هجرت په اتم کال دمکې مکرمې ستره فتحه ترسره شوه ،د قیصر او کسری ماڼۍ نسکورې شوې،د اسلام مبارک دین د مجاهدینو په لاس د نړۍ هر ګوټ ته ورسېد؛ دا په حقیقت کې د الهي نصرت، د انصارو همکارۍ او د مهاجرینو د مطمئن ژوند او د دوی د جهادي قربانیو نتیجه وه .

تېرې څلور لسیزې وړاندې چې شوروي ځواکونو د افغانستان پر سپېڅلې حریم یرغل وکړ،څو میلیونو افغانانو ګاونډي هېوادپاکستان ته هجرت وکړ،د غه مسلمان هېواد له مهاجرینو سره هر اړخیزه مرسته وکړه افغانانو ته د هجرت په دیار کې اطمینان حاصل شو، جهادي خوځښت پیاوړی او ګړندی شو. له همدې ځایه وه چې د هجرت، جهاد، او د انصارو د همکاریو او د مجاهد ولس د سرښندنو په نتیجه کې الله تعالی د نړۍ ستر مستکبر ځواک دړې وړې وکړ. همدغه راز د کورنیو جګړو او فساد پر خلاف د جهاد بریالیتوب هم د همدغه مطمئن هجرت ثمره ګڼلی شو. کله چې په درېیمه مرحله کې امریکا او دوی متحدینو د افغانستان پرسپېڅلي حریم یرغل وکړ،د هجرت لړۍ لا ورسره پیاوړې شوه چې د همدې هجرت او جهاد په برکت له اتلس کلنې مقدسې مبارزې وروسته امریکایي مستعمرینو په خپلې ماتې اعتراف وکړ. په ۲۰۱۶ کال کې ځیرک او مکار دښمن دا خبره درک کړه چې د دوی د کامیابۍ او د مجاهدینو د ناکامۍ لپاره دا اړینه ده چې پاکستان کې میشت افغان مهاجرین په داسې شرائطو کې افغانستان ته ورستانه کړي چې هلته د ژوند تېرولو هېڅ زمینه ورته مساعده نه وه. له یوې خوا یې دا شومه هڅه وکړه چې د مهاجرینو او انصارو ترمنځ اوږده دوستي دکرکې ترپولې ورسوي، او له بلې خوا یې کوښښ وکړ چې د مهاجرینو په ایستلو روان جهادي بهیر ته کلکه صدمه ورسوي چې په همدې حساس حالت کې یو تعداد هغه مشرانو سپین ږیرو علماء کرامو او د تېر جهاد او هجرت تجربه لرونکو او بانفوذه شخصیتونو دغې ستونزې ته د حل د لارو چارو د لټولو په غرض غونډې دایرې کړې تر څو د همدې لارې د میشتو افغان مهاجرینو ستونزې او مشکلات د پاکستان حکومت چارواکو او مسئولینو ته و رسوي او د حل لپاره یې یوه مناسبه لار و لټول شي، او له بله پلوه د افغان

مهاجرينو سره د ژوند په نورو برخو کې د مشکلاتو په حل کې مرسته وشي، نو هماغه و چې په ۲۰۱۶/۸/۱ م کال کې یې (د افغان مهاجرينو د ستونزو د حل کميټې) په عنوان يوه منظمه کميټه تشکيل کړه.

د کمېټې د جوړېدو اساسي لامل په پاکستان کې د مېشت افغان مهاجرينو د حقوقو څخه دفاع او د دوی مشکلات او غوښتنې مسؤلو مراجعو ته رسولو سربيره په هېواد کې د امن تر راتګ پورې همدلته په باعزته توګه اوسيدل او په باعزته توګه هېواد ته ستنېدل دي.

د دې کميټې لومړی اقدام دا و، چې د پريس کانفرس دلارې دمهاجرينو دمظلوميت غږ د کوربه هېواد مشرانو، ملګرو ملتونو اداري او نړيوالو تر غوږونو ورساوه، او په خاصه توګه د نړيوالو رسنيو سره يې مصاحبې ترسره کړې. او دغه شان يې په نه ستړېدونکې توګه پاکستان کې مربوطه ادارو، سفران وزارت مشرانو، دولتي چارواکو، سياسي او مذهبي ګوندونو مشرانو سره لکه مولانافضل الرحمن ،مولاناسميع الحق ،روستم شاه مومند، افتاب احمدخان شيرپاو،سراج الحق، اعجاز الحق او نورو سره ليدنې کتنې وکړې، چې په دې لړ کې يې د ښاغلي عمران خان [وزيراعظم] سره مفصله کتنه ترسره شوه، چې له نيکه مرغه ددې هڅو په پايله کې يو زيات شميربنديان ازادشول او د ستونزو کچه راټيټه او مخکې پرتې ستونزې هوارې شوې.خو دا چې دغه ستونزې لنډ مهاله نه وې؛ دکميټې مشرانو د دوامداره کارکولو په موخه د اداري منظم جوړښت ترڅنګ دغه تشکيل مرتب کړ: د کمېټې يو رئيس دوه معاونين او شپږ کاري شعبې جوړې شوې، چې هغه له اداري، مالي،فرهنګي، نظارت ، روابط او دکمپونو سره د ارتباط له څانګو عبارت دي. همدارنګه د کارونو پرمخ بېلو لپاره يو دفتر او له همدې ادرس عمومي او خاصې غونډې چې ټول تعداد يې تقريبا تر ۳۰۰ رسېږي؛ ترسره شوي دي. نوموړې کيمټې دمهاجرينو دستونزو دحل په موخه مناسبې لارې چارې لټول شوې او پياده کړي يې دي، چې ددغو خدماتو له جملې څخه په دې وروستيو کې د کورنا مخنيوي په پار دمهاجرينو په کمپونو کې د عامه پوهاوي او له اړو خلکو سره د خوراکي موادو... د مرستو لړۍ هم يادولي شو.

دکرونا مخنيوي په اړه د عامه پوهاوي او د خوراکي مرستو لړۍ

د کرونا وايرس د مخنيوي او په کمپونو کې د عامه پوهاوي او د خوراکي مرستو د وېش په موخه د روان کال د اپريل په[۲۰مه]د نوموړې کمېټې عمومي ناسته د نوموړې کمېټې دمسؤل حاجي ارسلاخان خروټي په مشرۍ ترسره شوه، چې د کمېټې د ټولو اعضاوو ترڅنګ د کمپونو نماينده ګانو ، سپين ږيرو او علماء کرامو هم ګډون کړی و. په غونډه کې د ديني، طبي او معلوماتي ويناوو ترڅنګ کمپونو ته دعامه پوهاوي کمپاين او بې وسو ته د مرستو وېشلو په موخه ټيمونه/پلاوي او مشران وټاکل شول: په سبا ورځ(اپريل۲۱) د صوابۍ او هريپور کمپونو ته د ديني عالمانو او ډاکټرانو په شمول دوه پلاوي د يوه مشري قاري محمودشاه او د بل پلاوي مشري ښاغلي احمدصاحب کوله، هلته يې د عامه پوهاوي پروګرام ترسره کولوسربيره د ماسکونو، دستکشو او لاسونو وينځلو عفوني مائعاتو توزيع ترڅنګ ۴۶۰مستحقو کورنيو ته د خوراکي توکو مرستې هم ووېشلې.

په بله ورځ(اپريل۲۲) د ټل، خراسان، او پېښوربډه بېرې کمپونو ته ،درې پلاوي وليږل شول، چې د ټل کمپ ته د شيخ جواد، خراسان کمپ ته د قاضي عبدالعزيز او بډه بېرې کمپ ته مولوي حسين الله په مشرۍ د ديني عالمانو او ډکټرانو په شمول پلاوي وليږل شول او هلته يې د ديني او طبي ويناوو ترڅنګ د ماسکونو، دستکشو او لاسونو وينځلو ضد مائعاتو سربيره د ټول ټال په ۳۵۰کورنيو خوراکي توکي ووېشل.

په دريمه ورځ(اپريل۲۳)د کوهاټ، اکوړې کمپونو ته ، دوه ټيمونه د شيخ عبدالاحد او قاضي عبدالعزيز په مشرۍ وليږل شول، چې د عامه پوهاوي سره سره يې د پورتنيو وسايلو ترڅنګ مجموعه ۴۲۰کورنيو ته دخوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په پنځمه ورځ(اپریل ۲۵) د پېښور بورډ سرخرودیانو کمپ ته د مولوي یحیی په مشرۍ پلاوی ولیږل شو، چې د تقریري پروګرام په ترڅ کې یې د پورتنیو وسایلو سربېره په ۵۰ کورنیو دخوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په شپږمه ورځ (اپریل۲۶) یو پلاوی چې مشري یې مولوي عبدالبصیر کوله، په پېښور کې په یو شمېر بې وزلو مهاجرو کورنیو نغدي مرستې ووېشلې.

الله تعالی دې هغوی ټولو ته چې پورتنۍ مرستې یې چمتو کړي ، هرډول همکاري یې کړې، لوړجنتي انعامات ورعنایه کړي. او څوک چې دغه لړۍ په خپلو همکاریو روانه ساتي؛لازیات توفیق او اجرورکړي)

د یادونې وړ ده چې په کمپونو کې د عامه پوهاوي پرمهال د ویناوو سربېره د معلوماتو پاڼې او دیوالي ښېرې هم توزیع کېدلې،چې د اهمیت له مخې یې د پاڼې متن دلته رانقل کوم:

څنګه ځان ،کورنۍ او ټولنه له کرونا وایرس څخه وژغورو؟!

دا چې د څو میاشتو راهیسې د کرونا ویروس په شکل کومه وبا خپره شوې او ورځ تربلې بشري ټولنه د مشکلاتو او هلاکتونو سبب ګرځېدلې، له همدې ځایه ده چې د رسول اکرم –صلی الله علیه وسلم- د لارښوونې « لاضرر ولاضرار» له مخې د دغه مرګونې ناروغۍ د ضرر خپریدا مخنیوي په خاطر لاندې احتیاطي تدابیر په پام کې ونیول شي:

۱): قرنطین (بندیز) ته جدي پاملرنه وشي او له ضرورت پرته د خپلو کورونوڅخه له وتلو ډډه او په اجتماعاتو/غونډو کې له ګډون ځان وساتل شي.

۲): که څوک د ضرورت په موخه یو ځای ته لاړ شي، نو پکار ده، تقریبا دوه ګزه فاصله کې اوسي، څنګه چې دجذام ساري ناروغۍ د مخنیوي په اړه نبي کریم –صلی الله علیه وسلم- لارښوونه کوي: تاسې د مجذوم ترمنځ یو یا دوه نیزې په فاصله کې اوسئ. (مسند امام احمد/۲۲۳۱)

۳): نبي کریم –صلی الله علیه وسلم- په دې ټینګار کړی چې مجذوم شخص باید له خلکو لرې وساتل شي، څو نورو ته ناروغي انتقال نه شي، فرمايي: ناروغ دې صحمت مند ته نه ورځي. (مسلم/۲۲۲۱) او دغه راز د مجذوم د بیعت پرمهال یې خبر ورولیږه، چې: ستا بیعت له موږ سره شوی، ته بېرته وګرځه!» (مسلم/باب اجتناب المجذوم) نو دا چې اوسمهال ددې ناروغۍ تشخیص ستونزمن دی؛ پکار ده چې هرڅوک یو له بل سره له نژدې کېدو او لاس لګولو ډډه وکړي.

۴): باید په کورونو کې د خوراکي توکو او لوښو په استعمال او پاکۍ کې احتیاط وشي، څکه چې نبي اکرم-صلی الله علیه وسلم- فرمايي: د لوښو سرونه پټوئ،دمشکونو خولې تړئ، ځکه په کال کې یوه شپه داسې راځي چې پکې وبا رانازلیږي.(مسلم/۲۰۱۴) دغه راز فرمايي: پاکوالی د ایمان برخه دی.(مسلم)

دپورتنیو اسلامي هدایاتو سره سم طب پوهان هم په یوه خوله دي چې د خپل صحت ساتنې او نورو ته د ناروغۍ د انتقال د مخنیوي په موخه باید د پورتنیو تدابیرو (قرنطین، لاس نه لګولو، بېلوالی اود لوښوپاکي) خیال ساتلو سربېره : ماسک کارول، لاسونه په صابون وینځل، خوله ،پوزه، غوږونه پټ ساتل، او د پرنجي پرمهال پوزه او خوله پر دسمال پوښل. جدي ونیسئ.

۵): د کرونا شکمن شخص باید په جلا ځای کې وساتل شي، او که په چا کې ددې ناروغۍ نښې ښکاره شي، لکه: شدیده دوامداره تبه، شدید سر درد، ستوني درد، دعضلاتو شدید درد، وچ ټوخی، سالنډي؛ باید له ځنډ پرته صحي مرکز ته لاړ او خپله معاینه ترسره کړي. د یادونې وړده چې د دې سربېره د علماوو او ډاکټرانو سپارښتنو سره سره دنبوي اذکارو ویلو، او په حقیقي معنا د شرعي احکامو عملي کولو ته کامله پاملرنه وشي.

دتراويحو ګڼ مسائل

مفتي ابوياسر

په تراويحوکې دهردوه رکعت لپاره نوي نيت ضروري دی

مسئله : په تراويحو کښې دهر دوه رکعته لپاره نوی نيت کول ضروري ده ، لمافي الشامي ۲\ ۵۹۷

دتراويحوپه څلورو رکعتونوداستراحة جلسه کول مستحب ده

مسئله : په تراويحو کې په هر څلور رکعته کښيناستل [د استراحة جلسه کول] مستحب ده همداراز دوترو اواخيري تراويحو په مينځ کې کښينا ستل هم مستحب ده . خو که په قوم باندې بوج کيده نوبيا دې داوروستی ناسته پريږدي ځکه موږ وړاندې ذکر کړو چې مستحبات دقوم دکسالت لا مله پريښودل کيږي . اودغه ناسته مستحب ده

.دترويحاتوپه ناسته کې پټه خوله ناسته اوقرآئت ويل هم جائزدي

مسئله : دڅلوررکعتونوتراويحو په مينځ کې دناستې په وخت کې که يې خوښه شي تنها تنها دې تسبيح وايې ، که يې خوښه شي لير لير قرائت دي وايې ،يادې امام وايې اونوردې غوږ ورته نيسي ، اوکه يې خوښه شي پټه خوله کيني ، اوکه يې خوښه شي تنهاتنهالمونځ اداکړي .

في الدرالمختار ۲\۶۰۰ ويخير بين تسبيح ، وقرآءة وسکوت وصلوة فرادی . کذا في الهنديه ۱\ ۱۱۵

فائدة : اوکه يې خوښه شي نودادعااوتسبيح دې وايې : يعني دڅلورو رکعتونو تراويحوپه مينځ کې دې دا دعا وايي .

ردالمحتار علی ذيل الدرالمختار ۲\ ۶۰۰

په فتاوی عثماني ۱\۴۵۹ کې راغلي چې دغه تسبيحات دې آهسته وايې : يعني امام اومقتديان دې ټول آهسته وايې :

لکن دا په هغه ځای کې دي چې عوام څه ناڅه ديني ياعصري تحصيلات ولري او دغه ډول تسبيحات يې زده وي ، خوزموږ سيمې داسې دي چې دعوامو بيچارګانولمونځونه سم نه دي زده دسوره اخلاص پرته يې دقران کريم څخه بل سورة نه دی زده ،نوهغه به داډول تسبيحات څرنګه وايې . لهذا که امام دغه تسبيحات په جهر سره وايې اوخلګو غوږ ورته نيولی وي نودابه ښه وی ، بلکه افضل به داوي چې دقرآن کريم يو څوآيتونه تلاوت کيږي اودغه خلګ غوږ ورته نيسې ، والله تعالی اعلم وعلمه اتم .

دتسبيحاتوسره دمرحبا ياالوداع توري يوځای کول

دتراويحوپه ناسته کې دهرچاخپله خوښه ده ، يعني که غواړي تسبيح ووايې ، که غواړي پټه خوله کيښيني ، که غواړي امام يوه رکوع يايوسورت قرآئت کړي اونورغوږ ورته نيسې ،که يې خوشه شې هريوتنها تنها لمونځ اداکړي.

البته علامه شامي رحمه الله دعلامه قهستاني رحمه الله څخه ددغې ناستي څه تسبيحات نقل کړي دي چې وروسته به ذکرشي .

په زياتره سيموکې دمسجدامامان هماغه تسبيحات وايې . البته د مياشتي په لمړيوپنځلسو کې چې مرحبا وايې اوپه وروستيوکې دالوداع توري وايې نودايواځې دعلماو يوعادت جوړشوي دی اوله روژې مبارکي سره دخپلې مينې اومحبت اظهار په کې کوي ،يايې په تلو باندې تاسف کوي ، نورکوم شرعي حيثيت نه لري اونه په کتابونوکې چيرته فقهاو ذکرکړي ده لهذا دايومجرد عادت دعلماو دی ، اوله تسبيحاتو سره يې لوستل کوم تاوان نه لري ، البته چې لازمي ونه بلل شي .

في الدرالمختار ۲\۶۰۰ ويخير بين تسبيح ، وقرآءة وسکوت وصلوة فرادی . کذا في الهنديه ۱\ ۱۱۵

وفي ردالمحتار علی ذيل الدرالمختارايضا ۲\ ۶۰۰ قال القهستاني فيقال ثلاث مرات سبحان ذي الملك والملکوت سبحان . سبحان ذي العزة والعظمة والهيبة والقدرة والکبرياء والجبروت ، سبحان الملك الحيّ الذي لاينام و لايموت ، سبّوحٌ قدّوسٌ ربُّنا وربُّ الملئکةِ والرّوح ، لاإ له إلاّ الله ، نستغفر الله ، نسئلك الجنّة ونعوذ بك من النار . کمافي منهج العبادة الخ

ومثله في فتاوی عثماني ۱\۴۵۹ ، والله تعالی اعلم وعلمه اتم .

له اسلام پاڼې څخه په مننه

د ثور د اوومې او اتمې تاريخي ورځو په هکله

د اسلامي امارت اعلاميه

د (۱۳۵۷لمریزکال د ثور په ۷مه) ځو پردي خوښو او په کمونيستي مفکوره روږل شويو څېرو پخواني شوروي اتحاد ته د افغانستان د سپارلو او له خپل سپېڅلي مسير څخه د هيوادوالو د اړولو هڅه وکړه.

زموږ تش لاسي ملت يې په مېړانه مقابله وکړه، زخمونه يې وګالل، زندانونه او شکنجې يې وزغملې، هجرتونه او دربدري يې تېرې کړې او بلاخره يې د شوروي اتحاد او د هغو د پلويانو شوم اهداف او ارمانونه په سيند لاهو کړل او آن نړۍ يې د هغو له شر څخه وژغورله.

د ثور د ۷ کودتا او وروسته شوروي يرغل عينا د نن ورځې امريکا يي يرغل ته ورته و، چې بيا هم افغان مجاهد او مېړني ولس د اسلامي امارت تر چتر لاندې نولس کاله ورسره جهاد وکړ، شهيدان او زخميان شول، زندانونه پرې ډک شول؛ خو خپل هيواد يې هغوی ته پرې نښود، د ډېرو تکاليفو په زغملو سره يې له خپل سپېڅلي اسلامي فکر او هيواد څخه دفاع وکړه او بالاخره يې دا دی امريکا هم د شورويانو په څېر په افغانستان کې خپلو شومو اهدافو ته له رسېدو لاس پر سر کړ.

همدا ډول د (۱۳۷۱ لمريزکال د ثور ۸ مه) بيا د هيواد په تاريخ کې د وياړ ورځ ده چې د کمونيزم په وړاندې جهاد بريالی شو او د افغان مسلمان ملت په قربانيو د فتحې ثمره مرتبه شوه.

هغه رنګارنګ تکليفونه او بې مثاله قرباني، چې افغان غيور ملت له شوروي اتحاد څخه د دين او وطن د دفاع په خاطر په ځان ومنلې، له هغسې بې غورۍ او بې پروايۍ سره نه ښايېدې، چې ورسره وشوه، هغه ستر ارمانونه د دې وړ نه و، چې د تنظيمي رقابت او قدرت طلبۍ له بدمرغه خواهشاتو څخه قرباني شوي وای.

نن هم افغان مجاهد ولس د سترو او بې سارې قربانيو په برکت د استقلال او ازادۍ ګټلو په درشل کې دی، چې د آرمانونو ساتنه يې خورا ډېر پام، غور او کلک عزم غواړي.

د افغانستان د قضيې د حل لپاره له امريکا سره شوې توافقنامه يو ښه فرصت دی چې بايد په کلکه عملي شي. امريکايي اړخ او د کابل اداره بايد د دې توافقنامې په تطبيق کې خنډونه ايجاد نه کړي. دغه راز ټول ښکېل اړخونه له ډېر غور څخه کار واخلي تر څو د افغان ولس ستر ارمانونه، لکه د ثور له ۸مې وروسته يو ځل بيا تالا ترغه نه شي.

اسلامي امارت، لکه څرنګه چې له شوروي اتحاد څخه د ازادۍ اخيستلو او اسلامي نظام د نفاذ په خاطر د خوارلس کلن جهاد په بريا وياړي او خپل مؤمن ولس ته يې مبارکي وايي، همداسې د کاميابۍ درشل ته د نننې جهاد رسېدل هم د افغان مېړني ولس افتخار ګڼي، ورسره د استقلال او اسلامي نظام د نفاذ لپاره د تيرو ټولو مبارزو د معيوبينو، کونډو، يتيمانو او شهيدانو د سترو او پاکو اهدافو تحفظ ته ځان ژمن بولي.

اسلامي امارت به چا ته اجازه ورنکړي، چې د نننې جهاد ثمره لکه د ثور د ۸مې له بريا وروسته له خطر او ګواښ سره مخ کړي. ان شاءالله تعالی.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۱/۹/۳هـ ق - ۱۳۹۹/۲/۷هـ ش - ۲۰۲۰/٤/۲٦م

څرنګه چې د کابل اداري زندانونو ته د کرونا ناروغي داخله شوې او پخپله د دوی لخوا تایید شوې چې ۴۶ تنه بندیان په یاده ناروغی اخته شوي، اسلامي امارت په دې اړه خپله ژوره اندیښنه ښیي.

موږ لا پخوا خبرداری ورکړی و چې د کابل اداري په زندانونو کې د بندیانو وضعیت وخیم دی، تراکم زیات دی، د خوراک، څښاک او تداوي په برخه کې ګڼې ستونزې شتون لري، که په داسې حال کې زندان ته د کرونا ساري ناروغي هم داخله شي، وضعیت په ناورین بدلیدلای شي.

په دې برخه کې د امریکا متحده ایالاتو ته مستقیما مسئولیت راجع کیږي چې که یې د شوې توافقنامې په عملي کېدو کې له جدیت څخه کار اخیستی وای اوس به د بندیانو په خلاصون برسیره نور هم ډیر پرمختګ شوی وای او بندیان به له دې خطر سره نه مخ کېدای.

د کابل اداري چارواکو، همدا ډول د بشر د حقوقو په نامه سازمانونو او د انساني همدردۍ شعار ورکونکو ټولو یاده موضوع جدي ونه نیوله او حالات یې نهایت نازک حد ته را رسولي دي.

اسلامي امارت د خپلو بندیانو د صحت په اړه جدي اندیښنه لري، له نړیوالو بیلابیلو بشري نهادونو څخه غواړي چې له یادې انساني موضوع سره صرف سلیقوي او سیاسي برخورد ونه کړي؛ بلکې په جدیت سره د انسانانو د ژوند په نجات کې خپل مسئولیت ادا کړي.

ټول جهتونه دې خبر وي چې که خدای مه کړه د اسلامي امارت بندیان تلف شي، د هر فرد پوښتنه به کیږي او له سخت زړي دښمن څخه به یې انتقام اخیستل کیږي.

اسلامي امارت خپلو بندیانو ته هم سپارښتنه کوي چې په لوی الله توکل وکړي، صبر وکړي او تر ممکنه حده صحي لارښونې په پام کې ونیسي.

د افغانستان اسلامي امارت

۶/۹/۱۴۴۱هـ ق

۱۰/۲/۱۳۹۹هـ ش ـ ۲۹/٤/۲۰۲۰م

Shahamat

له اسلامي امارت څخه د اوربند دغوښتنو په غبرګون کې

د اسلامي امارت د وياند څرګندونې

له څو ورځو را په دې خوا د مختلفو سازمانونو، جهتونو او د کابل ادارې د چارواکو لخوا په مکرر ډول غوښتنه کیږي چې د اسلامي امارت لخوا دې یا اوربند او یا اورکم وشي.

اسلامي امارت خپلو هیوادوالو او نړیوالو ته په ډاګه کوي چې موږ د سولې او د جګړې د اختتام لپاره خپل مسئولیت ادا کړی.

ټول شاهدان دي چې د امریکا سره د اسلامي امارت توافقنامه د همدې لپاره لاسلیک شوه چې د ټولس کلنې جګړې د پای ته رسولو لپاره له سولیزو لارو حل پیدا شي.

زموږ او امریکا ترمنځ په توافقنامه کې چې د امنیت شورا او نړیوالې ټولنې لخوا هم تایید شوې، په ښکاره ډول صراحت شوي چې له لاسلیک څخه وروسته باید د لسو ورځو په دننه کې له دواړو غاړو ۶ زره بندیان خلاص شي او د بین الافغاني مذاکراتو پیل ته زمینه مساعده شي.

په بین الافغاني ناستو کې پخپله د سولې، امن او د جګړې د پای ته رسیدو لپاره لارې چارې سنجول کیدې چې ممکن اوس ډیر پرمختګ په کې شوی وای.

داچې د کابل ادارې ګټې د جګړې په دوام کې دي، نو یې له هغه اولې ورځې د توافقنامې د تطبیق په لاره کې خنډونه اچول پیل کړل، د بندیانو خلاصون یې په مختلفو بهانو ترتن پورې وځنډاوه، یو جامع ټیم یې معرفي نشو کړای او خپل منځي اختلافات یې حل نه کړل.

همدا ډول امریکا، ناټو او نورو حمایت کونکو یې هم د توافقنامې د بندونو د عملي کیدو په لاره کې خپل مسئولیت نه دی ادا کړی.

برعکس د ناټو لخوا د کابل له ادارې سره د جګړې د دوام او شدت په نیت د میلیونونه مرمیو مرسته هم وشوه چې پخپله ډارونکی ګام دی.

په داسې حالت کې چې مقابل جهت خپل مسئولیت نه ادا کوي، په بیا بیا له اسلامي امارت څخه د اوربند او اورکم غوښتنې کول، غیر منطقي او فرصت طلبي ده.

اسلامي امارت د توافقنامې له متن سره سم، د سولې او امن په بهیر کې عملي پرمختګ غواړي، او هغه یواځنی سولیزه لاره ده چې اسلامي امارت او امریکا د جګړې خاتمې او افغانانو د سولې تینګښت ته رسولی شوي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۱/۹/۳ هـ ق

۱۳۹۹/۲/۷ هـ ش ـ ۲۶/٤/۲۰۲۰م